خراسان غږ

خراسان غږ مجله
اوومه ګڼه

قٰتِلُوهُمْ يُعَذِّبْهُمُ اللَّهُ بِأَيْدِيكُمْ وَيُخْزِهِمْ وَيَنصُرْكُمْ عَلَيْهِمْ وَيَشْفِ صُدُورَ قَوْمٍ
مُّؤْمِنِينَ (14) وَيُذْهِبْ غَيْظَ قُلُوبِهِمْ وَيَتُوبُ اللَّهُ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ

له هغو سره وجنګېږئ؛ الله به ستاسي په لاسونو هغوی ته سزا ورکړي، او ذليل او خوار به يې کړي، او د هغو په مقابل کښي به ستاسي مرسته وکړي او د ډېرو مؤمنانو زړونه به يخ کړي. (14) او د هغوی د زړونو تاؤ به ايسته کړي. او چا ته يې چي خوښه شي د توبې توفيق به هم ورکړي. الله په هر څه پوهېدونکی، د حکمت څښتن دی.

[سُورَةُ التوبة :١٤-١٥]

ديني، تاريخي، سياسي، ادبي او خبري مجله

تفسير القرآن الكريم

تاسې د مشرکانو ساتنه کوئ

مور، به يې وژنه!

هو ! د کفر امامان وژنو

د دوحې تړون

کفارو سره پيوستون!

پخه سوله يې کړې نه ماتيږي!

دري ورونه دري ستوري

مؤسسة العزائم الإعلامية

اوومه ګڼه / شنبه 15 محرم ۱۴۴۴ هـ

مؤسسـة الـعـزائم یـې وړانـدې کـوي

ديني برخه

1 تفسیر القرآن الکریم

8 نثر اللؤلؤ والمرجان في سلسلة معرفة الرحيم الرحمان (شپږم درس)

11 الفالح والرشاد في مسائل الجهاد (شپږم : صحيح البخاري كتاب الجهاد)

17 سیرت النبي صلی الله علیه وسلم

سیاسي برخه

21 تاسې د مشرکینو ساتنه کوئ موږ به یې وژنه !

25 پخه سوله یې کړې نه ماتیږي!

28 د دوحې تـړون که کفـارو سـره پیوستون

39 هـو! د کفـر امامان وژنـو

ادبي برخه

45 شعر (قافله دروميږي د اقصا د آزادۍ په تکل)

46 نړۍ د اسلامي خالفت را گرځیدو ته په تمه ده!

49 د خراسان پر افق درې ځلیدونکي ستوري

55 شعر (بیا د غیرت او بیا د ننگ ورځې دي)

58 شعر (لکه ستوري چې په شنه آسمان ځلیږي)

تاریخي برخه

56 د سیرت درسونو ته پوځي کتنه ! (۷)

تفسير القرآن الكريم

سُورَةُ التَّوْبَة

اووم درس ۷

أعوذ بالله من الشيطان الرجيم

د سورت توبې درس شروع و، مخکې الله عزوجل د اهل کتابو قباحتونه او شرکونه بيان کړل. او اسباب د قتال يې ذکر شو، وس ددې ځای نه رب العالمين د منافقانو صفات ذکر کوي او هغوی ته زجرونه ورکوي، مخکې د حنين جنګ تذکره وشوه نو وس د تبوک جنګ ټول احوال بيانيږي، او دا منافقان به شرميږي، ځکه دې سورت ته الفاضحه وايي. او د جهاد څخه وروسته پاتې کيدونکو قاعدينو مسلمانانو اعذارو باندې به هم رد وي چې دا موانع د جهاد ندي. او د جهاد په اړه به وعد او وعيد، انذار او تبشير، ثواب او عذاب به هم په مختلفو طريقو سره ذکر شي.

يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا مَا لَكُمْ إِذَا قِيلَ لَكُمُ انْفِرُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ اثَّاقَلْتُمْ إِلَى الْأَرْضِ أَرَضِيتُمْ بِالْحَيَاةِ الدُّنْيَا مِنَ الْآخِرَةِ فَمَا مَتَاعُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا فِي الْآخِرَةِ إِلَّا قَلِيلٌ (38)

ژباړه: اې مومنانو! څه عذر دی ستاسې کله چې وويل شي تاسې اوځئ په لار د الله تعالی کې، نو درانه شئ تاسې ځمکې ته. آيا خوښ کړی دی تاسې ژوند دنياوي په بدل د آخرت کې، نو ندی سامان د ژوند دنياوي په مقابله د آخرت کې مګر لږ دی.

تفسير:

حافظ ابن کثير وايي:

هَذَا شُرُوعٌ فِي عِتَابِ مَنْ تَخَلَّفَ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَزْوَةِ تَبُوكَ حِينَ طَابَتِ الثِّمَارُ وَالظِّلَالُ فِي شِدَّةِ الْحَرِّ وحَمَارَّةِ الْقَيْظِ.

ددې ځای څخه د هغه چا د ملامتيا بيان پيل کيږي، چې په غزوه تبوک کې د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه وروسته پاتې شوي وو، کله چې ميوې پخې وې او د سختې ګرمۍ په موسم کې سيوري هم غوړيدلي وو.

د تبوک واقعه:

مدينې په شمال کې ۶۰۰ کلوميتره فاصلې باندې د تبوک مقام پروت دی، په ۹ کال د هجرت باندې چې کله نبي عليه السلام د عربانو څخه فارغ شو، نو د غسان قبيله چې په شام کې واکمنه وه، او د روميانو حکومت تابع وه، هغوی خوف محسوس کړ او روميانو ته يې دعوت ورکړ چې نبي عليه السلام سره جنګ وکړي، دې لپاره چې سبا زمونږ لپاره درد سر جوړيږي.

نبي عليه السلام مدينه کې ناست دی او دښمن يې په سلګونو کلوميتره لرې په لړزان دی. نو دغه کفارو د جنګ تياري شروع کړ، کله چې نبي عليه السلام خبر شو د غزوې اعلان يې وکړو او ددښمن مخې ته وتلو او د هغوی په ساحه کې يې د جنګ او مقابلې پريکړه وکړه، نو دا داسې وخت و چې سخته ګرمي وه، او مزل ډير لرې وو، او مدينه کې فصلونه پخ شوي وو، قجورې رسيدلي وې، سيوري يخ شوي وو، او دا هغه وخت و چې د مدينې خلکو به ټول کال کې ورته انتظار کوو. د سامان قلت هم و، بل خوا منافقان او يهوديان ټول د رومي صليبيانو خيرخواه او جاسوسان وو، نو پدغه سخت وخت کې جهاد کول ډير زيات ګران و. منافقانو چلونه جوړول او خپله خو خود پاتې کيدل نور مسلمانان يې هم ځان سره پاتې کول. خو ديرش زره صحابه تيار شو، نبي عليه السلام تبوک ته لاړو، هلته يې ۲۰ ورځې ددښمن انتظار وکړو، خو دښمن الله عزوجل مرعوبه کړ او مقابلې ته يې زړه ښه نه کړ، او شاوخوا قومندانونو او قومونو نبي عليه السلام سره لوظونه وکړل، لکه د أيْلَه حاکم نبي عليه السلام ته خط راوليږو او يو سپين قچر يې هم د ډالۍ په شکل راوليږو، نبي عليه السلام يې ډالۍ قبوله کړه او يو څادر يې ورته په تحفه کې ورکړ. (صحيح مسلم). د تبوک په سيمه کې ددښمن انتظار په موده کې نبي عليه السلام خالد بن الوليد رضي الله عنه ته ۴۰۰ مجاهدين ورکړل، هغه لاړو او دومة الجندل په سيمه يې بريد وکړ، الله عزوجل د مجاهدينو کومک وکړ او ددغه سيمې حاکم يې د ښکار کولو پرمهال ونيوو، نبي عليه السلام ته يې راوستو، نبي عليه السلام ورته عفوه وکړه، او هغه سره يې دوه زره اوښان، اته سوه غلامان، څلور سوه زغرې او څلور سوه نيزو ورکولو باندې صلح وکړه. ددغه جهادي سفر څخه مسلمانان سرلوړي راوګرځيدل، بيا دا شام د عمر رضي الله عنه په وخت کې ټول فتح شو. نو الله عزوجل ددې ځای نه د هغه سختۍ حالت او د منافقانو رد عمل او د صحابه وو ايماني کيفيات ذکر کوي.

[يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا]:

دې نه مراد يا خو منافقان دي چې د ايمان دعوه کوي، او يا هغه مسلمانان دي چې د تشويش او د ډار ښکار شوي وو.

[مَا لَكُمْ إِذَا قِيلَ لَكُمُ انْفِرُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ اثَّاقَلْتُمْ إِلَى الْأَرْضِ]:

الله عزوجل په ډيرو سختو ټکو دا خلک ملامتوي، زورونه ورته ورکوي، چې کله تاسې د جهاد سنګر ته راوبلل شئ نو په تاسې څه چل وشي چې ځمکه ته درانده شئ ؟ دا ولی داسې حالت تاسې باندې راځي ؟ ستاسې څه عذر دی ؟

په الفاظو کې هم سخت تاکيد او عتاب پروت دی، اثاقلتم، د ثُقُل مجردو نه تفاعل ته واوړيدو، او بيا د تثاقلتم څخه اثاقلتم شو نو لفظ څخه هم زيات دروندوالې معلوميږي.

او دې آيت کې دا اول صفت د منافقانو ذکر شوی، چې هغوی د جهاد په وخت کې سستي کوي او مال، دولت او مادياتو په لور کږيږي.

[أَرَضِيتُمْ بِالْحَيَاةِ الدُّنْيَا مِنَ الْآخِرَةِ]:

علامه شوکاني وايي: أَيْ: بِنَعِيمِهَا بَدَلًا مِنَ الْآخِرَةِ.

آيا تاسې ددنيا نعمتونه د آخرت په (ابدي) نعمتونو غوره کوئ ؟

او دا دويم صفت دی د منافقانو، چې آخرت مقابله کې دنيا ته ترجيح ورکوي. ځکه د جهاد څخه وروسته پاتې کيدو علت همدا دنيا ته ميلان دی، ولو که خلک ځانته مختلفې حيلې جوړوي.

او دا دواړه صفات نن سبا مسلمانانو کې هم راغلي دي. والله المستعان.

[فَمَا مَتَاعُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا فِي الْآخِرَةِ إِلَّا قَلِيلٌ]:

حافظ ابن کثير وايي: دلته الله عزوجل ددنياوي نعمتونو څخه مخ اړولو بيان وکړو او آخرت ته يې ترغيب (هڅونه) ورکړه. [تفسير ابن کثير]

چې دا اصلا په آخرت باندې کلک ايمان ته ترغيب دی، او کله چې په آخرت باندې د انسان ايمان مضبوط شي نو بيا د الله د رضا لپاره او د جنت نعمتونو او د جهنم عذابونو څخه ځان ژغورلو لپاره د خپل سر سودا کوي، انسان کې ايماني غيرت او په الله توکل زياتيږي، زړورتيا، عزم، همت او حوصله يې پياوړې کيږي. او کله چې په آخرت ايمان کمزوری شي نو بيا پدغه زړه کې نفاق، جبن، ډار او کمزوري راټوکيږي. مجاهدينو ورونو! د جنت تذکرې اورئ دې لپآره چې ايمان مو تازه کيږي، لکه حديث د بخاري مسلم کې رازي:

أَنَّ اللَّهَ تعالى يقول لذلك الرجل يَكُونُ آخَرَ أَهْلِ الْجَنَّةِ دُخُولًا الْجَنَّةَ: تمَنَّ، فَيَتَمَنَّى، حَتَّى إِذَا انْتَهَتْ بِهِ الْأَمَانِي يَقُولُ اللَّهُ تَعَالَى: تَمَنَّ مِنْ كَذَا، وَتَمَنَّ مِنْ كَذَا، يُذَكِّرُهُ، ثُمَّ يَقُولُ: ذَلِكَ لَكَ وَعَشْرَةُ أَمْثَالِهِ .

جنت ته تر ټولو وروسته داخليدونکي سړي ته به الله عزوجل وفرمايي: ته نعمتونه وغواړه، نو هغه به نعمتونه غواړي، تر دې چې د هغه ارزوګانې (غوښتنې) به تمامې شي، بيا ورته الله عزوجل نعمتونه وريادوي چې دا وغواړه او دا وغواړه، بيا به ورته وفرمايي: دا (ټول نعمتونه) ستا لپاره دي او ددې لس چنده نعمتونه نور هم ستا لپاره دي.

او حديث د مسلم کې د ابو ذر رضي الله عنه څخه روايت دي، هغه د رسول الله عليه السلام او هغه د الله عزوجل څخه روايت کوي، فرمايي: «يَا عِبَادِي لَوْ أَنَّ أَوَّلَكُمْ وَآخِرَكُمْ وَإِنْسَكُمْ وجنكم قاموا فِي صَعِيدٍ وَاحِدٍ فَسَأَلُونِي فَأَعْطَيْتُ كُلَّ إِنْسَانٍ مَسْأَلَتَهُ مَا نَقَصَ ذَلِكَ مِنْ مُلْكِي شَيْئًا إِلَّا كما ينقص المخيط إذا أدخل في البحر».

ژباړه: ای زما بندګانو کچيرې ستاسې مخکني او وروستني، انسانان او پيريان په يو ميدان کې ودريږي، بيا له ما څخه غوښتنې وکړي، او زه هر انسان (او پيري) ته د هغه غوښتل شوی څيز ورکړم، نو دا زما له باچاهۍ (قدرت) څخه دومره څه هم نه کموي لکه يوه ستن چې په بحر کې ښکته کړی شي او هغه د بحر څخه (اوبه) کمې کړي.

الله أکبر! نآشنا تشبيه ده، چې يوه ستن په بحر کې ښکته شي نو يو يا دوه څاڅکو باندې دا بحر هيڅ نه کميږي.

او دا دنيا خو د الله عزوجل په نزد د ماشي د وزرې هومره حيثيت هم نه لري. ځکه حافظ ابن القيم وايي:

لو ساوت الدنيا جناح بعوضةٍ ****
لم يسق منها الربُ ذا الكفرانِ
لكنها والله أحقر عنده , من ذا
الجناحِ القاصر الطيرانِ

کچيرې دنيا د ماشي د وزرې هومره حيثيت هم درلودای نو رب العالمين به کافر ته اوبه هم نه وی ورکړی.

خو قسم په الله دا دنيا د الله عزوجل په نزد د لنډ پرواز کونکي وزر والا (مچ) څخه هم ډيره سپکه ده.

[وس پدې آيت کې الله عزوجل د قعود عن الجهاد نتيجه ذکر کوي، څه چې جهاد ته ونه وځو نو څه به وشي ؟ فرمايي تاسې ته به عذاب درکړم او ددين د سرلوړی لپاره به نور خلک پيدا کړم]

إِلَّا تَنْفِرُوا يُعَذِّبْكُمْ عَذَابًا أَلِيمًا وَيَسْتَبْدِلْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ وَلَا تَضُرُّوهُ شَيْئًا وَاللَّهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ (39)

ژباړه: که ونه وځئ تاسې (جهاد ته) نو عذاب به درکړي تاسې ته الله تعالی عذاب درد ناک او ستاسې بدله کې به راولي قوم سيوا ستاسې نه او ضرر نشئ ورکولې تاسې الله ته هيڅ ضرر او الله تعالی په هر څيز باندې زيات قدرت لرونکی دی.

تفسير:

[يُعَذِّبْكُمْ عَذَابًا أَلِيمًا وَيَسْتَبْدِلْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ]:

دې آيت کريمه کې د جهاد پريښودلو دوه نتيجې ذکر شوي دي:

اول: الله عزوجل فرمايي دردناک عذاب به درکړم، چې جهاد نه کوې نو عذاب ته ځان تيار کړه. نعوذ بالله. دا مجاهدين چې جهاد کوي د الله د عذاب څخه ډاريږي.

دويم: نور خلک به رب راولي، ستاسې قعود اسلام ته ضرر نه ورکوي. او الله رب العالمين د نورو قومونو په راوستلو زيات قادر دی. داسې خلک چې ددين ضرورت په وخت به سستي نه کوي، جهاد او قتال څخه به نه په شا کيږي، خپلې شخصي ګټې به په اجتماعي ګټو نه غوره کوي.

که يو مشر يا کشر جهاد پريږدي، عالم يا قومندان، مالداره سړی، د استعداد خاوند، د قوم او ملاتړ والا جهاد پريږدي، خو دا جهاد بيا هم نه ختميږي. دا جهاد د کوم شخص پورې تړلی ندی، بلکې اشخاص دې صف پورې تړلي دي.

د طائفې منصورې نښه دا ده، صحيح البخاري او صحيح مسلم کې حديث دی:

«لَا تَـزَالُ طَائِفَـةٌ مِـنْ أُمَّتِـي ظَاهِرِيـنَ عَـلَى الْحَـقِّ لَا يَضُرُّهُـمْ مَـنْ خَذَلَهُـمْ وَلَا مَـنْ خَالَفَهُـمْ حَتَّـى يَـأْتِيَ أَمْـرُ اللَّـهِ وَهُـمْ كَذَلِـكَ» وَفِي صَحِيـحِ الْبُخَـارِيِّ «وَهُـمْ بِالشَّـامِ».

زما د امت څخه به يوه ډله هميش په حق باندې غالبه وي، که څوک هغوی يواځې پريږدي يا يې خلاف کوي، دا ورته ضرر نه ورکوي، تر دې چې د الله عزوجل حکم راشي او دوی به هم داسې (غالبه) وي. او صحيح البخاري کې دا زيادت هم دی، چې دوی به په شام کې وي.

او عملا مونږ تاسې ګورو ډير خلک د جهادي صف څخه لاړل خو جهاد باقي دی، څوک شهيدان شول، خليفه شهيد شي، واليان شهيدان شي، کتيبې کتيبې مجاهدين شهيدان شي، خو جهاد د هيچا په مرګ نه ودريږي. ځکه شيخ ابو محمد العدناني هم وايي:

ويا جنود الدولة الإسلامية؛ خذوا عنّا كلمات: لا تخشوا على الخلافة، فإن الله تبارك وتعالى يحفظها، ويُصلحُ لها من يقيمها. وإنما اخشوا على أنفسكم، حاسبوها، وتوبوا وأوبوا لربكم.

اې د اسلامي دولت لښکرو ! زمونږ څخه بعضې خبرې واخلئ، په خلافت مه ويريږئ، دا به الله تعالی ساتي، او د دې قائم ساتلو لپاره به خامخا څوک برابروي، پخپلو ځانونو ويريږئ، نفسونو سره محاسبه وکړئ، توبې وباسئ، رب ته رجوع وکړئ.

[وَاللَّهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ]:

حافظ ابن کثير وايي: قَادِرٌ عَلَى الِانْتِصَارِ مِنَ الْأَعْدَاءِ بِدُونِكُمْ. [تفسير ابن کثير]

الله عزوجل ستاسې پرته هم له دښمنانو څخه انتقام اخستلو باندې قادر دی.

نو دا کلک تهديد او سخت وعيد دی.

[د تبوک غزوې احوال الله عزوجل شروع کړي وو، خو منځ کې دا خبره بيانوي چې ګوره کله چې نبي عليه السلام بيخي يواځې و، فقط ابو بکر ورسره ملګری و، هغه وخت يې چا نصرت کړی و ؟ آيا تاسې هلته وئ چې نبي عليه السلام مو د قريشو کفارو څخه ژغورلی وای ؟ نو هغه رب يې بيا هم په کومک کولو قادر دی]

إِلَّا تَنْصُرُوهُ فَقَدْ نَصَرَهُ اللَّهُ إِذْ أَخْرَجَهُ الَّذِينَ كَفَرُوا ثَانِيَ اثْنَيْنِ إِذْ هُمَا فِي الْغَارِ إِذْ يَقُولُ لِصَاحِبِهِ لَا تَحْزَنْ إِنَّ اللَّهَ مَعَنَا فَأَنْزَلَ اللَّهُ سَكِينَتَهُ عَلَيْهِ وَأَيَّدَهُ بِجُنُودٍ لَمْ تَرَوْهَا وَجَعَلَ كَلِمَةَ الَّذِينَ كَفَرُوا السُّفْلَى وَكَلِمَةُ اللَّهِ هِيَ الْعُلْيَا وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ (40)

ژباړه: که امداد نه کوئ تاسې ددې رسول سره نو يقينا امداد کړی دی دده سره الله تعالی، کله چې ويستلی و ده لره کافرانو، دويم و د دوو څخه، کله چې دواړه په غار کې وو، کله چې ووېل رسول عليه السلام ملګري خپل ته، مه خفه کيږه يقينا الله تعالی زمونږ ملګری دی، پس راوليږله الله تعالی تسلي په هغه باندې او کلک يې کړو په داسې لښکرو سره چې تاسې هغه نه ليدلې او وګرځوله الله تعالی کلمه د کافرانو ښکته او کلمه د الله تعالی هغه اوچته ده، او الله تعالی زورآور دی حکمتونو والا دی.

[إِلَّا تَنْصُرُوهُ فَقَدْ نَصَرَهُ اللَّهُ إِذْ أَخْرَجَهُ الَّذِينَ كَفَرُوا]:

کله چې نبي عليه السلام د مکې څخه هجرت کوو، هر طرف قريشو خپل جاسوسان خواره کړي وو، په نبي عليه السلام او ابو بکر رضي الله عنه هر يو باندې سل اوښان انعام مقرر و، [لکه نن سبا چې د اسلامي خلافت په مشرانو د موجوده زمانې د کفارو لخوا مليونونو ډالر مقرر دي] نبي عليه السلام او ابو بکر رضي الله عنه غار ثور کې پناه اخستې وه، او دا کفار ددغه غار خولې پورې راغلي و، چې ابو بکر رضي الله عنه سخت وارخطا شو، حديث کې راځي:

عَـنْ أَنَـسٍ أَنَّ أَبَـا بَكْـرٍ حَدَّثَـهُ قَـالَ: قُلْـتُ لِلنَّبِـيِّ صَـلَّى اللَّـهُ عَلَيْـهِ وَسَـلَّمَ وَنَحْـنُ فِي الْغَـارِ: لَـوْ أَنَّ أَحَدَهُـمْ نَظَـرَ إِلَى قَدَمَيْـهِ لَأَبْصَرَنَـا تَحْـتَ قَدَمَيْـهِ قَـالَ: فَقَـالَ: «يَـا أَبَـا بَكْـرٍ مَـا ظَنُّـكَ بِاثْنَيْـنِ اللَّـهُ ثَالِثُهُـمَا» أَخْرَجَـه البخـاري.

انس رضي الله عنه فرمايي چې ابوبکر رضي الله عنه ورته بيان کړی و: مونږ چې غار کې و نو ما نبي عليه السلام ته ووېل: کچيرې پدوی کې يو تن هم خپلو خپو ته وګوري نو مونږ به د خپلو قدمونو د لاندې ووينې، نو هغه وفرمايل: ای ابوبکره، ستا د هغه دوه کسانو په اړه څه فکر دی چې الله عزوجل يې دريم (ملګری) دی.

لهذا ددين نصرت الله عزوجل خامخا کوي، کله چې ظاهري اسباب په کامله معنا استعمال شي نو د رب کومک خامخا راځي. نو هغه وخت چې رب خپل دين او ددين وارثان وسائل نو بيا يې هم ساتي، خو دغه مبارک کاروان کې چې مونږ تاسې استعمال شو دا د سعادت مقام دی.

حاصله معنا يې دا شوه: [إِنْ تَرَكْتُمْ نصره فالله سيتكفل بِهِ] که تاسې د هغه صلی الله عليه وسلم نصرت پريښود نو الله عزوجل به يې ساتنه (روزنه) وکړي.

[ثَـانِيَ اثْنَيْـنِ]: أَيْ: أَحَـدَ اثْنَيْـنِ، وَهُـمَا رَسُـولُ اللَّـهِ صَـلَّى اللَّـهُ عَلَيْـهِ وَسَـلَّمَ وَأَبُـو بكـر الصديـق رضي اللـه عنـه.

ددوه څخه يو و، او دا دوه کسان رسول الله صلی الله عليه وسلم او ابو بکر صديق رضي الله عنه وو.

[إِذْ يَقُولُ لِصَاحِبِهِ]:

دلته صاحب څخه مراد ابو بکر صديق رضي الله عنه دی، لکه احاديث د بخاري مسلم وغيره کې راغلي دي. نو ابو بکر رضي الله عنه صحابيت په قطعي الثبوت دلائلو او متواتر سندونو سره ثابت دی، کوم روافض چې ددې نه انکار کوي، دوی د قرآن نه منکر دي او په اتفاق د امت باندې مرتد دي، نر او ښځې به يې وژل کيږي، لکه اسلامي خلافت چې پرې شروع کړې ده. وفقها الله المزيد.

لکه دې ځل محرم ۱۴۴۴ هـ ق کې هم کابل ښار څو ورځې پرلپسې د سلګونو روافضو د مرداريدو شاهد و.

[لَا تَحْزَنْ إِنَّ اللَّهَ مَعَنَا]:

دا طبعي ويره ده، په هر انسان باندې راځي، ابوبکر رضي الله عنه وډار شو خو دا کوم عيب ندی، انبياء کرام هم ډار شوي، موسی عليه السلام امسا نه چې کله مار جوړ شو هغه ترې منډه کړه، ابراهيم عليه السلام هم د هغه ملائکو نه وډار شو، ځکه خوراک يې نه کوو او داسې نور صحابه کرام هم ډار شوي دي.

او مفسرينو دا هم ليکلي چې دلته ابو بکر رضي الله عنه په نبي عليه السلام باندې وډار شو او دا خو کمال دی.

او کومو رواياتو کې چې راغلي چې دلته جولاګې ځاله جوړه کړه او يا کوترې دلته هګۍ واچولې نو دا خبره سمه نده، روايات کمزوري دي بلکې دا غار بيخي خلاص و.

[وَجَعَلَ كَلِمَةَ الَّذِينَ كَفَرُوا السُّفْلَى وَكَلِمَةُ اللَّهِ هِيَ الْعُلْيَا]:

حافظ ابن کثير وايي: قال ابن عباس يعني بكلمة الذين كفروا الشرك وكلمة اللَّـهِ هِـيَ لَا إِلَـهَ إِلَّا اللَّـهُ. [تفسير ابن کثير]

عبد الله بن عباس رضي الله عنه فرمايي چې د کافرو کلمې څخه مراد شرک دی او د الله کلمه لا اله الا الله (توحيد) ده.

[مخکې الله رب العالمين د جهاد څخه وروسته پاتې کيدونکو لپاره سخت وعيد بيان کړ، او د خپل رسول د نصرت خبره يې وکړه نو وس ټولو ته په قتال باندې امر کوي]

انْفِرُوا خِفَافًا وَثِقَالًا وَجَاهِدُوا بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنْفُسِكُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ذَلِكُمْ خَيْرٌ لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ (41)

ژباړه: ووځئ تاسې که سپک ياست او که درانده ياست، او جهاد کوئ په مالونو خپلو سره او په نفسونو خپلو سره په لار د الله تعالی کې،

دا ډېره غوره ده ستاسې لپاره که تاسې پوهيږئ.

تفسير:

[انْفِرُوا خِفَافًا وَثِقَالًا]:

دې حکم ته نفير عام ويل کيږي، چې هر مکلف کس به قتال لپاره وځي.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ الْفَتْحِ فَتْحِ مَكَّةَ «لَا هِجْرَةَ وَلَكِنْ جِهَادٌ وَنِيَّةٌ، وَإِذَا اسْتُنْفِرْتُمْ فَانْفِرُوا»

صحيح البخاري (إيمان باب 41 وصيد باب 10 وجهاد باب 1) وصحيح مسلم (جهاد حديث 2) وسنن الترمذي (سير باب 32) .

ژباړه: رسول الله صلى الله عليه وسلم د فتح مکې په ورځ وفرمايل: نور هجرت نشته مګر جهاد کول شته او نيک نيت هم شته، او کله چې له تاسې څخه د وتلو مطالبه وشي نو بيا اووځئ.

او دا دوه صورتونه دي:

اول: کله چې دښمن د مسلمانانو په ملک او علاقه حمله وکړي نو جهاد په ټولو مسلمانانو فرض عين ګرځي او په ټولو وتل لازم وي.

دويم: کله چې خليفة المسلمين يا د هغه نائب والي د نفير (وتلو) عمومي أمر وکړي نو بيا په ټولو وتل لازم دي.

" خفافا وثقالا " په تفسير کې امام طبري راوړي: شُبّانا وكهولا، شبابا وشيوخا، أغنياء ومساكين، مشاغيل وغير مشاغيل، رُكبانا ومُشاة، "الثقيل"، الثَّقِيلُ الَّذِي لَهُ الضَّيْعَةُ، فَهُوَ ثَقِيلٌ يَكْرَهُ أَنْ يُضَيِّعَ ضَيْعَتَهُ وَيَخْرُجَ، وَالْخَفِيفُ الَّذِي لَا ضَيْعَةَ لَهُ.

ځوانان او بوډاګان، مالدار او غريبانان، کاروونو والا او اوزګار، سپاره او پياده، دروند هغه چا ته ويل کيږی چې تجارت وغيره لري او د دې خرابيدل بد ګڼي او سپک هغه څوک چې څه کار يې نه وي.

مُنْفَرِدِينَ أَوْ مُجْتَمِعِينَ، مَنْ لَا عِيَالَ لَهُ وَمَنْ لَهُ عِيَالٌ، مَنْ يَسْبِقُ إِلَى الْحَرْبِ كَالطَّلَائِعِ، وَمَنْ يَتَأَخَّرُ كَالْجَيْشِ.

يواځې يواځې او ډلې ډلې (ووځئ)، مجرد او هغه څوک چې بچيان لري ، هغه څوک چې جنګ کې مخکې تلونکي دي لکه سرلښکرې قطعې او هغه څوک چې وروسته روان وي لکه عمومي لښکر.

فتح القدير کې ليکي: هِيَ مُحْكَمَةٌ وَلَيْسَتْ بِمَنْسُوخَةٍ، وَيَكُونُ إِخْرَاجُ الْأَعْمَى وَالْأَعْرَجِ بِقَوْلِهِ لَيْسَ عَلَى الْأَعْمَى حَرَجٌ وَلا عَلَى الْأَعْرَجِ حَرَجٌ وَإِخْرَاجُ الضَّعِيفِ وَالْمَرِيضِ بِقَوْلِهِ لَيْسَ عَلَى الضُّعَفاءِ وَلا عَلَى الْمَرْضى مِنْ بَابِ التَّخْصِيصِ.

دا آيت کريمه محکم دی منسوخ ندی، او له دې حکم څخه ړوند او ګوډ وتل (مستثنى کيدل) د هغه نص له امله چې الله فرمايي: نشته دی په ړوند باندې څه ګناه او نه هم په ګوډ باندې څه ګناه، او د کمزوري او مريض وتل په هغه آيت سره چې الله فرمايي: نشته دی په کمزوورو خلکو او په مريضانو ګناه، دا د تخصيص د قبيلې څخه دي.

يعنې دا آيت کريمه منسوخ ندی بلکې ددې څخه دا معذوره خلک د نورو دلايلو په بناء مستثنى شوي دي. او د صحابه وو تعامل هم پدې دلالت کوي.

حدثنا هدبة بن خالد، ثنا حماد بن سلمة، عن ثابت، عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ أَبَا طَلْحَةَ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَرَأَ سُورَةَ بَرَاءَةَ حَتَّى بَلَغَ هَذِهِ الْآيَةَ {انْفِرُوا خِفَافًا وَثِقَالًا وَجَاهِدُوا بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنْفُسِكُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ} [التوبة: 41] فَقَالَ: أُرَانَا اسْتُنْفِرْنَا شُيُوخًا وَشَبَابًا، بَنِيَّ جَهِّزُونِي. قَالُوا: يَا أَبَانَا، قَدْ غَزَوْتَ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَغَزَوْتَ مَعَ أَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، فَنَحْنُ نَغْزُو عَنْكَ. فَأَبَى «فَجَهَّزُوهُ فَغَزَا الْبَحْرَ فَمَاتَ فِي الْبَحْرِ فَلَمْ يَجِدُوا جَزِيرَةً يَدْفِنُوهُ فِيهَا سَبْعَةَ أَيَّامٍ فَلَمْ يَتَغَيَّرْ» . [الآحاد والمثاني لابن أبي عاصم وهو صحيح]

ژباړه : ابو طلحه رضي الله عنه سورت توبه لوستله، تر دې آيت چې راورسيد ، ويې ويل: مونږ ته ښکاري چې مونږ ټولو ته د وتلو امر کړی شوی دی، بوډاګانو او ځوانانو ټولو ته، بچو ته يې وويل، ما تيار کړئ، هغوی ورته وويل: ای پلاره ته خو نبي عليه السلام، ابو بکر او عمر رضي الله عنهما سره جنګونو کې شريک شوې يې، وس به مونږ ستا په ځای جنګ وکړو، هغه ونه منله، نو تيار يې کړ ، او ابو طلحه رضي الله عنه د بحر غزا ته لاړ او بحر کې وفات شو، جزيره نه وه چې دا يې خښ کړې وای، اووه ورځې ده باندې تيرې شوې او هيڅ قسم تغير په کې نه وو راغلی.

وَقَالَ ابْنُ جَرِيرٍ : حَدَّثَنِي يَعْقُوبُ حَدَّثَنَا ابْنُ عُلَيَّةَ حَدَّثَنَا أَيُّوبُ عَنْ مُحَمَّدٍ قَالَ شَهِدَ أَبُو أَيُّوبَ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَدْرًا ثُمَّ لَمْ يَتَخَلَّفْ عَنْ غزاة للمسلمين إِلَّا عَامًا وَاحِدًا قَالَ وَكَانَ أَبُو أَيُّوبَ يقول: قال الله تعالى: انْفِرُوا خِفافاً وَثِقالًا فَلَا أَجِدُنِي إِلَّا خَفِيفًا أَوْ ثَقِيلًا. تفسير الطبري 6/ 378.

امام ابن جرير الطبري نقل کړيدي: مقداد بن أسود رضي الله عنه هم د حمص په ميدان کې په مات هډوکي سره جهاد ته وتلې و. او ويلې يې چې الله عزوجل فرمايي : سپک او درانه ټول ووځئ.

دغه رنګ حبان بن زيد نه يې نقل کړي دي چې مونږ صفوان بن عمرو د حمص والي سره د جراجمه په لور جهاد لپاره روان و، يو بوډا سړی و، چې په سترګو باندې يې وريځې راغلې وی، مونږ ترې تپوس وکړو ته ولې راغلې يې ؟ ته خو معذوره يې ؟ هغه وويل چې الله عزوجل فرمايي : سپک او درانه ټول ووځئ.

[ذَلِكُمْ خَيْرٌ لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ]:

حافظ ابن کثير ددې تفسير داسې کوي:

أَيْ هَذَا خَيْرٌ لَكُمْ فِي الدُّنْيَا والآخرة لأنكم تَغْرَمُونَ فِي النَّفَقَةِ قَلِيلًا فَيُغْنِمُكُمُ اللَّهُ أَمْوَالَ عَدُوِّكُمْ فِي الدُّنْيَا مَعَ مَا يَدَّخِرُ لَكُمْ مِنَ الْكَرَامَةِ فِي الْآخِرَةِ.

دا جهاد غوره دی ستاسې لپاره په دنيا او آخرت کې ځکه چې تاسې د خپلې نفقې څخه لږ تاوان کوئ نو الله تعالى تاسې ته په دنيا کې ددښمن مالونه په غنيمت کې درکوي، سره ددې چې آخرت کې تاسې لپاره عزت هم ذخيره کوي.

[دې آيت کريمه کې الله عزوجل د منافقانو نور څلور صفات بيانوي چې دوی د تبوک غزا څخه وروسته وروسته کيږي خو کچيرې دا نزدې غزا وی او دوی ته پکې غنيمت ښکاريدای نو بيا دوی خامخا تلل يعنې ددوی ټول هم او غم دنيا ده]

لَوْ كَانَ عَرَضًا قَرِيبًا وَسَفَرًا قَاصِدًا لَاتَّبَعُوكَ وَلَكِنْ بَعُدَتْ عَلَيْهِمُ الشُّقَّةُ وَسَيَحْلِفُونَ بِاللَّهِ لَوِ اسْتَطَعْنَا لَخَرَجْنَا مَعَكُمْ يُهْلِكُونَ أَنْفُسَهُمْ وَاللَّهُ يَعْلَمُ إِنَّهُمْ لَكَاذِبُونَ (42)

ژباړه: که (غزوه تبوک) وی سامان آسان حاصليدونکی او سفر درميانه ، خامخا دوی به تلی وی تا سره ليکن لری شوی دی په دوی باندې سفر او زر دی چې قسمونه به وکړي دوی په الله تعالى سره که طاقت لرلې مونږه خامخا وتلي به وی مونږ تاسې سره، هلاکوي دوی ځانونه خپل (په دروغ قسم سره) او الله تعالى پوهيږي، چې يقينا دوی دروغژن دي.

[لَوْ كَانَ عَرَضًا قَرِيبًا وَسَفَرًا قَاصِدًا]:

عرض د دنيا سازوسامان ته ويل کيږي، چې د انسان نفس يې غواړي. قريب معنا چې حصول يې آسان وي. نو حاصل يې دا شو: غَنِيمَةٌ قَرِيبَةٌ غَيْرُ بَعِيدَةٍ. نزدی ترلاسه کيدونکی غنيمت مراد دی. او روميانو نه مال غنيمت اخستل دې منافقانو ته ناممکنه ښکاره کيده ځکه دې غزا ته نه تلل.

وَسَفَراً قاصِداً أَيْ: سَفَرًا مُتَوَسِّطًا بَيْنَ الْقُرْبِ وَالْبُعْدِ.

قاصدا معنا درميانه مزل وي، چې زيات تکليف پکې نه وي.

ځکه دا اوږده مزلونه منافقانو لپاره ډير سخت وو، دوی کې ايمان نه و. کنه دغه جهادي سفرونه د انسان د ژوند نآشنا او خوشګوار لمحات وي. دا په غرونو ګړنګونو کې شپې کول، دا په يخنۍ او واوره کې د الله لپاره پيره کول، او دا په وږي نس ورځې ورځې مزلونه کول، چې د پاسه دربانديې ړرون ګرځي او ټوله توجه دې الله عزوجل طرف ته وي، او ځای په ځای وايې چې ربه دا ستا لپاره دي، په خوږونو کې د چېنې اوبو څکل او دمه کول او مونځونه کول، ددې سفرونو خوند او لذت مومنانو ته معلوميږي.

[الشُّقَّةُ]:

ابو عبيد او نور وايي: إِنَّ الشُّقَّةَ السَّفَرُ إِلَى أَرْضٍ بَعِيدَةٍ. ژباړه: هغه سفر چې لرې ځمکې ته وي.

او انسان پرې مشقت او تکليف ته رسيږي.

[وَسَيَحْلِفُونَ بِاللَّهِ لَوِ اسْتَطَعْنَا لَخَرَجْنَا مَعَكُمْ يُهْلِكُونَ أَنْفُسَهُمْ]:

او ځانونه څنګه هلاکوي، نو داسې چې يو خو کار يې غلط کړی، جهاد څخه وروسته پاتې شوي دي، او بيا پرې قسمونه هم کوي. نو عذر ګناه بدتر از ګناه. غلط کار لپاره عذر کې ددروغو قسم کول د هلاکت سبب دی.

نو دې آيت کې هم د منافقانو يو څو صفات بيان شول.

اول: کله چې مال غنيمت اميد وي بيا جهاد ته هم ځي.

دويم: کله چې سفر آسان وي، او سخته پکې نه وي نو بيا دا منافقان منډې راوهي. او د مومنانو طرز دا دی چې په سخته کې استقامت اختياروي.

دريم: د جهاد څخه پاتې کيدو لپاره غير شرعي عذرونه وړاندې کوي.

څلورم: دروغ وايي او ددروغو قسمونه کوي.

چې دا څلور صفات نن سبا اکثره مسلمانانو کې راغلي دي. والله المستعان.

[پدې آيت کريمه کې د علماؤ دوه اقوال دي: اول دا چې عمرو بن ميمون وايي پدې کې نبي عليه السلام ته د مينې ډک عتاب دی چې تا ولې هغه منافقانو ته د جهاد

څخه پاتې کېدو اجازت ورکړو چې ددروغو عذرونه يې ورانديې کول، بايد تا يې تحقيق کړی وی، نو تنبيه ورته ورکړل شوه او دويم دا چې مکي، نحّاس او مهدوي وايي دا افتتاح د کلام ده، لکه خلک وايي: أَصْلَحَكَ اللَّهُ، وَأَعَزَّكَ، وَرَحِمَكَ، كَيْفَ فَعَلْتَ كَذَا؟ خو فتح القدير کې وايي چې دا اول قول پدې موضع کې زيات مناسب دی]

عَفَا اللَّهُ عَنْكَ لِمَ أَذِنْتَ لَهُمْ حَتَّى يَتَبَيَّنَ لَكَ الَّذِينَ صَدَقُوا وَتَعْلَمَ الْكَاذِبِينَ (43)

ژباړه: بخښنه کړې ده تاته الله تعالی، ولې اجازت وکړو تا دويته، تر هغې پورې چې ښکاره شوی وی تاته هغه کسان چې رشتيا وايي او پيژندلې وی تا دروغژن.

تفسير:

الله عزوجل جهادي امير او قاضي ته ادب ښايي، چې تحقيق به کوئ، بې دليله دعوه به د چا نه منئ.

علامه شوکاني وايي:

وَقَدْ رَخَّصَ لَهُ سُبْحَانَهُ فِي سُورَةِ النُّورِ بِقَوْلِهِ: فَإِذَا اسْتَأْذَنُوكَ لِبَعْضِ شَأْنِهِمْ فَأْذَنْ لِمَنْ شِئْتَ مِنْهُمْ وَيُمْكِنُ أَنْ يُجْمَعَ بَيْنَ الْآيَتَيْنِ بِأَنَّ الْعِتَابَ هنا متوجّه إِلَى الْإِذْنِ قَبْلَ الِاسْتِثْبَاتِ حَتَّى يَتَبَيَّنَ الصَّادِقَ مِنَ الْكَاذِبِ، وَالْإِذْنَ هُنَالِكَ مُتَوَجِّهٌ إِلَى الْإِذْنِ بَعْدَ الِاسْتِثْبَاتِ وَاللَّهُ أَعْلَمُ. [فتح القدير]

او يقينا الله تعالی نبي عليه السلام ته په سورت نور کې د اجازت ورکولو رخصت ورکړی و، پدې قول سره: کچيرې دوی اجازت وغواړي ستا نه د بعضې کارونو لپاره نو چاته چې ستا خوښه شي اجازت ورکړه. [او دلته يې په اجازت ورکولو تنبيه ورکړه] نو ددواړو آيتونو ترمنځ جمع داسې ممکنه ده چې دلته د خبرې پوخوالي يعني د ريښتوني د دروغجن څخه جلا کيدو څخه مخکې اجازت ورکولو ته زورنه متوجه ده، او هلته اجازت د خبرې پوخوالي څخه وروسته متوجه دی. والله أعلم.

نو معلومه دا شوه چې امير او قاضي به تبين کوي، دروغ او رشتيا به معلوموي، کره او کوټه به جدا کوي، کنه هر سړی به وايي زما عذر دی، زه دا کار نشم کولای، زه عذر لرم، دې تشکيل ته نشم تللی او امير او قاضي به ورته وايي چې سمه ده وروره، ته پاتې شه. نه، بلکې دليل به ترې غواړي چې څه عذر لری، دليل بيان کړه او ددليل تنقيح به بيا کيږي چې خبره واضحه شي خلک يې وپيژني، سبا ورسره هماغه شان تعامل وکړي.

علامه شوکاني ددې آيت په تفسير کې دا هم وايي:

وَفِي الْآيَةِ دَلِيلٌ عَلَى جَوَازِ الِاجْتِهَادِ مِنْهُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَالْمَسْأَلَةُ مُدَوَّنَةٌ فِي الْأُصُولِ. وَفِيهَا أَيْضًا: دَلَالَةٌ عَلَى مَشْرُوعِيَّةِ الِاحْتِرَازِ عَنِ الْعَجَلَةِ وَالِاغْتِرَارِ بِظَوَاهِرِ الْأُمُورِ. [فتح القدير]

ژباړه: او دا آيت د نبي عليه السلام داجتهاد په جائز کيدو دليل دی، او دا مسئله د اصولو په کتابونو کې جمع شوې ده. او پدې آيت کې په ظاهري کارونو زر نه دوکه کېدل او د عجلې (جلتی) څخه ځان ساتلو مسئلې جواز باندې دليل هم شته.

او يوه مهمه مسئله پدې آيت کې دا ده چې نبي عليه السلام د غيبو علم نه درلودو ځکه يې منافقانو دروغ او رشتيا په غيبو سره نشو جلا کولای.

[دې ايت کريمه کې الله عزوجل د مومنانو طرز عمل ذکر کوي، چې کله د جهاد غږ وشو، منافقانو خو عذرونه او بهانې جوړول شروع کړل، او اجازه يې غوښتله خو مومنانو د شهادت په نيت ځانونه سينګار کړل او غزوې ته روان شول]

لَا يَسْتَأْذِنُكَ الَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ أَنْ يُجَاهِدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِالْمُتَّقِينَ (44)

ژباړه: اجازت نه غواړي ستا نه هغه کسان چې ايمان لري په الله تعالی، او په ورځ وروستنی، ددې نه چې جهاد وکړي په مالونو خپلو سره او په نفسونو خپلو سره او الله تعالی پوهه دی په متقيانو باندې.

تفسير:

نو دې آيت کې د مومن او منافق پيژندلو لپاره ښايسته معيار ښودل شوی، چې چا په سخته کې اجازه طلب کوله او ښکاره عذر يې نه و نو دا سړی يا خو منافق دی او يا د منافقانو صفت پکې راغلی دی. او مومنانو صفت دا دی:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ قَالَ: «مِنْ خَيْرِ مَعَاشِ النَّاسِ لَهُمْ، رَجُلٌ مُمْسِكٌ عِنَانَ فَرَسِهِ فِي سَبِيلِ اللهِ، يَطِيرُ عَلَى مَتْنِهِ، كُلَّمَا سَمِعَ هَيْعَةً، أَوْ فَزْعَةً طَارَ عَلَيْهِ، يَبْتَغِي الْقَتْلَ وَالْمَوْتَ مَظَانَّهُ. أخرجه مسلم.

په خلکو کې د غوره ژوند والا هغه کس دی چې د الله په لار کې يې خپل د اس واګې رانيولي وي، په شا يې الوځي، هر کله چې ددښمن د راتلو له امله د ډار يا خوف غږ اوري نو په الوتلو هلته ورځي، قتل او مرګ په هغه ځايونو کې لټوي چې هلته پيدا کيږي.

[پدې آيت کريمه کې هم منافقانو ته زجر دی او د هغوی څخه ايمان سلب شوی دی، معنا دا چې څوک تا نه دتبوک پدې سخته کې د جهاد څخه پاتې کيدو اجازت غواړي نو دا خلک بې ايمانه دي، الله أکبر، څومره کلک تهديد دی خو نن سبا خلکو ته دا ډيره وړه خبره ښکاري]

إِنَّمَا يَسْتَأْذِنُكَ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَارْتَابَتْ قُلُوبُهُمْ فَهُمْ فِي رَيْبِهِمْ يَتَرَدَّدُونَ (45)

ژباړه: يقينا اجازت غواړي ستا نه (د جهاد څخه پاتې کيدلو) هغه کسان چې نه لري ايمان په الله تعالی او په ورځ د آخرت او شک کړی دی زړونو ددوی پس دوی د شک له امله ګډ وډ دي.

تفسير:

[إِنَّمَا يَسْتَأْذِنُكَ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ]:

ايمان بالله او ايمان بالآخره يې ذکر کړيدي، نو دا ځکه چې دا دواړه د جهاد مرکزي علتونه دي، دا دواړه ايمانيات انسان قعود ته نه پريږدي.

[فَهُمْ فِي رَيْبِهِمْ يَتَرَدَّدُونَ]:

دغه وخت کې منافق سخت حيران وي، چې څه وکړم، کوم خوا وتختم، ددې جهاد نه به څنګه خلاص شم، کافرانو سره شم که نه دلته مومنانو سره پاتې شم، لار ترې ورکه وي. ځمکه ورته ځای نه ورکوي.

[پدې آيت کريمه کې الله رب العالمين د منافقانو بل صفت ذکر کوي چې باټې وهي خو عمل نه کوي، چې هغوی دا ويل: لَوِ اسْتَطَعْنَا لَخَرَجْنَا مَعَكُمْ، زمونږ وسع نشته، کنه مونږ خو وتلو، نو الله عزوجل به وفرمايي چې دروغ وايي، که ددوی اراده وی نو دوی به تياری کړی وی.]

وَلَوْ أَرَادُوا الْخُرُوجَ لَأَعَدُّوا لَهُ عُدَّةً وَلَكِنْ كَرِهَ اللَّهُ انْبِعَاثَهُمْ فَثَبَّطَهُمْ وَقِيلَ اقْعُدُوا مَعَ الْقَاعِدِينَ (46)

ژباړه: او که دوی نيت لرلې د وتلو د جهاد خامخا دوی به تياری کړی وی هغې لره د سامان ليکن بد ګڼلی دی الله تعالی پورته کيدل ددوی (د جهاد لپاره) نو منع يې کړل دوی لره (د وتلو د جهاد نه) او وويل شول دوی ته کينئ تاسې د کيناستکو سره.

تفسير:

غزوه تبوک داسې غزا وه چې د منافقانو ددغه لاپو حقيقت يې واضحه کړو، دوی به ويل چې مونږ هم مجاهدين يو، هر وخت جهاد لپاره تيار يو. خو عجيبه دا ده چې ۵۰ او ٦٠ کاله کې چيرته سنګر ته حاضر نشو، نه يې نښه ويشتل زده کړل، نه يې لمبل زده کړل، نه يې د جنګ لپاره جسم تيار کړو او نه يې اسباب تيار کړل، ټوله خواري يې د کور، دکان، ځمکې او جائيداد لپاره ده. او بيا چې مجلس کې کيني وايي مونږ خو جهاد اکبر کوو، خپل نفس سره جهاد کوو او مجاهدين خو جهاد اصغر کوي، چې دا په نبي عليه السلام باندې دروغ تړي، او نفس سره که دغه خلکو جهاد کولای نو نفس به يې د جنګ ميدان او د حورو سودا کولو بازار ته به يې راوړی وی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ مَاتَ وَلَمْ يَغْزُ، وَلَمْ يُحَدِّثْ بِهِ نَفْسَهُ، مَاتَ عَلَى شُعْبَةٍ مِنْ نِفَاقٍ» أخرجه مسلم.

څوک چې مړ شو او غزا يې ونه کړه، او ځان يې هم ورته تيار نه کړو نو دا د منافقت په يوه څانګه مړ شو.

بيا دلته يو حديث نه بعضې خلک استدلال کوي چې حديث کې راځي چا چې په صدق زړه سره شهادت وغوښتو، الله عزوجل به يې د شهداءو مرتبې ته ورسوي، اګر که په خپله بستره مړ شي، نو وايي مونږ شهادت غواړو، لهذا زمونږ مرتبه به د مجاهدينو په شان وي. سبحان الله، يو خوا مجاهد خپل سر قربانوي، د نړۍ کفارو مظالمو او تکليفونو ته يې خپل ځان کلک نيولی او بل خوا يو کس په نرم پالنګ خوبونه کوي، او ځان دغه مجاهد سره برابروي. نو دې حديث څخه ورته استدلال سم ندی، ځکه حديث داسې دی:

عن سَهْلِ بْنِ حُنَيْفٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنْ سَأَلَ اللهَ الشَّهَادَةَ بِصِدْقٍ، بَلَّغَهُ اللهُ مَنَازِلَ الشُّهَدَاءِ، وَإِنْ مَاتَ عَلَى فِرَاشِهِ» أخرجه مسلم.

ژباړه: چا چې د الله تعالی څخه په رښتيا سره شهادت وغوښت، الله عزوجل به يې د شهيدانو مقامونو ته ورسوي، اګر که دا په خپله بستره باندې مړ شي.

دا خلک د (بصدق) قيد ورسره نه مراعات کوي، نبي عليه السلام فرمايي چې په رشتيا سره يې شهادت غوښتلو نو رشتيا سره شهادت غوښتلو څه معنا ده ؟ تاسې وګورئ دې آيت کې د صدق مصداق ذکر شوی. رب العالمين فرمايي، چې دوی به تياری کړی وی، جهادونو ته به تلي وو، خو چې ندي تللي معلوميږي چې خپله دعوه کې صادقه ندي. لهذا دې حديث نه مراد هغه خلک دي، چې مجاهدين دي، شهادتونو پسې ګرځي، خو بيا

هم ورته په خپله بستره مرګ راشي لکه خالد بن وليد رضي الله عنه نو دغه خلکو ته الله عزوجل د شهيد مرتبه ورکوي.
همدغه رنګ ددې حديث نه وروسته امام مسلم همدا حديث راوړی، (من مات ولم يغز) اشاره ده دې ته چې فقط آرزوګانو باندې ګورې شهادت نه ميلاويږي، يو څه به کوې نو شهادت به تر لاسه کوې. مثال يې داسې دی، يو کس دی وايي چې زه د شپې قيام الليل کوم، خو نه ورته تياری کوي، نه اسباب برابروي، بلکې بې غمه شپې څملي او سهار راپاځي، ټول کال همداسې تير کړي، او بل خوا يو مسلمان دی هغه ټول کال قيام الليل او تهجد کوي، نو آيا دا دواړه برابر دي ؟ نه، ندي برابر، ځکه دا اول کس خو فقط د خولې خبرې کوی، پدې ټول کال کې يوه ورځ هم راپانځيدو، د قيام الليل اسباب يې ندي برابر کړي، او فقط په خوله دعوه کوي، نو همداسې د جهاد خبره هم ده.

[وَلَكِنْ كَرِهَ اللَّهُ انْبِعَاثَهُمْ فَثَبَّطَهُمْ]:

وس الله رب العالمين ددوی د عدم توفيق علت بيانوي چې دوی ته د جهادونه توفيق ولی نه ميلاويږي ؟ جواب دا دی چې دا خلک د الله عزوجل ندي خوښ، سم خلک ندي، نو ځکه ددوی وتل رب نه خوښوي، داسې قيمتي عمل لپاره د پاکو او سپيڅلو مجاهدينو انتخاب کوي، هر څوک ددې عمل لايق نه وي.
(ثبطه تثبيطا) خنډ جوړول او يو کس د کار څخه منع کولو ته وايي. د جهاد څخه وروسته پاتې کېدو يو اصلي علت دې آيت کې بيان شو، خلک خو ځان ته قسما قسم عذرونه او حيلې جوړوي، خو الله عزوجل خبره واضحه کړه چې دغه خلک د رب العالمين بد راځي نو ځکه يې خپل لار کې نه استعمالوي.

[وَقِيلَ اقْعُدُوا مَعَ الْقَاعِدِينَ]:

دوی ته وويل شول، چا ورته ويل ؟ يا تقدير مراد دی، او يا هم د رسول الله صلی الله عليه وسلم او صحابه وو قول مراد دی.
قاعدين نه مراد معذوره خلک دي. ماشومان، زنانه، مريضان او بوډا ګان وغيره.
[پدې آيت کريمه کې الله عزوجل مومنانو ته تسلي ورکوي، چې دې منافقانو او ناکاره خلکو وتلو ته مه خوشحاليږئ، ددوی وتلو باندې کوم خير نه مرتب کيږي، بلکې ددوی وتل ستاسې لپآره زيات نقصاني دي. او ددغه منافقانو به يو څو قبيح صفات هم بيان کړي.]

لَوْ خَرَجُوا فِيكُمْ مَا زَادُوكُمْ إِلَّا خَبَالًا وَلَأَوْضَعُوا خِلَالَكُمْ يَبْغُونَكُمُ الْفِتْنَةَ وَفِيكُمْ سَمَّاعُونَ لَهُمْ وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِالظَّالِمِينَ (47)

ژباړه: که دوی وتلي وای په لښکر ستاسې کې، نه به وو زيات کړی دوی تاسې لره مګر نقصان او خامخا منډې به وهلي وی دوی په منځ ستاسې کې (په فساد سره) غوارې دوی په تاسې کې اختلاف او په (لښکر) ستاسې کې جاسوسان ددوی شته او الله تعالی ښه پوهه دی په ظالمانو باندې.

تفسير:

دې آيت کې هم د منافقانو څلور صفات ذکر شو:
اول صفت: که دوی ووځي نو هلته نقصان او فساد کوي.
دويم: اختلاف اچوي په مابين د مهاجرينو او انصارو کې.
دريم: دا منافقان د کفارو لپاره جاسوسي کوي.
څلورم: ظالمان دي. د شريعت حدودو څخه تجاوز کوي.
نو دا صفات پدې خلکو کې موجود دي، ځکه الله تعالی مخکې وفرمايل (کره الله انبعاثهم) ددوی وتل ځکه رب بد ګڼي.
نو چې ددې صفاتو والا کسان تاسې سره غزا ته هم لاړ شي نو تاسې ته به تاوان زيات درکوي که ګټه ؟ خامخا تاوان يې زيات دی نو ځکه الله تعالی فرمايي چې دوی دلته خه دي. خو فقط لږ راتينګ شوي وی چې ټولو خلکو ته ښکاره شوي وی او ساده مسلمانانو ته هم خبره واضحه شوی وی، هغه مسلمانانو ته چې ددوی دومره خباثتونو باوجود هم پرې دوکه کيږي، او وايي رب به يې ښه کړي، دومره بد خلک ندي!

[مَا زَادُوكُمْ إِلَّا خَبَالًا]:

وَالْخَبَالُ: فساد، چغلي، اختلاف اچونې او ارجاف يعني ددروغو خبرونو خپرولو ته وايي.

[وَلَأَوْضَعُوا خِلَالَكُمْ يَبْغُونَكُمُ الْفِتْنَةَ]:

حافظ ابن کثير وايي:
وَلَأَسْرَعُوا السَّيْرَ وَالْمَشْيَ بَيْنَكُمْ بِالنَّمِيمَةِ وَالْبَغْضَاءِ وَالْفِتْنَةِ.
خامخا دوی به ستاسې ترمنځ چغلی، بغض او فتنې اچونې لپاره منډې وهلې او ګرځيدلی.
ددې منافقانو يو لوی خصلت الله عزوجل ذکر کړی. منډې رامنډې ډيرې وهي، کله يو خوا ته ورځي، وسوسې اچوي، او کله بل خواته ورځي، وسوسې اچوي. لکه ددغه منافقانو او مرجفينو خلکو عادت وي.
اول نه چې کار شروع کوي، نو مجالسو کې غلطې خبرې کوي، د نظام خلاف خبرې، د قوميت خبرې، مسؤولينو باندې بې ځايه انتقادونه، خيالي نقشې جوړول، چې دا کار داسې پکار دی او دا داسې پکار دی، چې تنبيه ورته ورکړل شي وايي زه خو د اصلاح په نيت دا خبرې کوم، ولې دا اصلاح به مونږ نه کوو ؟ نو ګوره لار يې کومه اختيار کړې ده او رنګ ورته څه ورکوي. بيا دې خبرې ته زور ورکوي چې دلته خلاف شريعت کارونه روان دي، او څوک چې اصلاح کوي، هغه ته تنبيه ورکول کيږي، هغه رټل کيږي، بيا همدغه دليل ونيسي، ځان خفه کړي، او جهادي کارونو څخه وروسته شي، سنګر ته نه ځي، جنګ ته نه ځي، خه عذر يې پيدا کړی وي چې زما حقې خبرې څوک نه اوري، په قرار قرار آخر ځان دې ته جوړوي چې دې صف نه خپې سپکې کړي، چې کله پدې بريالې شي نو بيا هلته پروپاګنډ ته زور ورکړي، دا ټيلي ګرامو او فيس بکو باندې لګيا وي، چې مجاهدينو کې دا خطايي ده او دا خطايي ده، او دغه طريقې سره خلک د جهاد نه کينوي، په مسؤولينو يې بدګمانه کوي، او آخري نتيجه يې دا راوځي چې کفري نظام ته تسليم شي او بيا د کفارو سره په ملګرتوب د اسلامي نظام او مجاهدينو خلاف دسيسې جوړوی. نو مجاهدينو ورونو دغه خلکو نه ځان لری وساتئ، کوم کس چې تشې خبرې کوی، او کار نه کوي نو پوهه شئ دا سړی غلط سړی دی. او انجام ورله وګورئ، خامخا يې رب العالمين په کفرونو، شرکونو او ذلتونو کې اخته کوي. والله المستعان.

[وَفِيكُمْ سَمَّاعُونَ لَهُمْ]:

امام مُجَاهِد ، زَيْد بْن أَسْلَم او ابْن جَرِير وايي: {وَفِيكُمْ سَمَّاعُونَ لَهُمْ} أَيْ: عُيُونٌ يَسْمَعُونَ لَهُمُ الْأَخْبَارَ وَيَنْقُلُونَهَا إِلَيْهِمْ. ابن کثير.
تاسې کې د هغوی جاسوسان دي، هغوی لپاره اطلاعات جمع کوي او راپورونه ورکوي.
دا وګورئ نبي عليه السلام او صحابه وو صف کې جاسوسان وو، او دندې يې همدا وي، اختلاف اچول، پروپاګنډ کول، چغلی لپاره منډې رامنډې وهل، سنګر او معرکې ته نه تلل، سخته کې ددروغو عذرونه وړاندې کول، د مخلصو مجاهدينو پسې ټوقې کول، مجاهدينو پسې دروغ تړلو د وجې هغوی حوصلې کمزورې کول، اميرانو باندې بې ځايه تهمتونو له امله هغوی د مهمو کارونو څخه مصروفول او داسې نور چې مخکې به راشي ان شاء الله، نو نن چې جاسوس معلوموې همدا صفات پکې وګوره، دغه کس به يا جاسوس وي او يا به غير شعوري د اسلام خلاف کار کوي، نو مومن په تنبيه ورکولو سره پوهيږي او جاسوس او مفسد انسان د بار بار تنبيه ورکولو باوجود هم د خپل عادت څخه نه ګرځي.
نو دا ددې دليل هم نشي ګرځيدای چې بعضې خلک د جهاد څخه پاتې کيدو لپآره بهانه جوړوي، چې غاړې ته کينه جهاد مه کوه، نا، بيا خو پکار دا ده چې صحابه هم غاړې ته کيناستلي وی. او دا اشاره هم ده، چې دا لږ کسان دي، ډير ندي، نو دغه لږو پټو جواسيسو د وجې جهاد ترک کول هم شيطاني وسوسه ده، او دا قانون دی جاسوس انسان رب العالمين خامخا شرمولی دی، اګر که څه وخت مهلت هم ورته ورکړي.
[پدې آيت کريمه کې د منافقانو مرضونه او د باطن خباثت خه په ډاګه شوی دی، دا هغه خلک دي چې مخکې يې هم ستا په خلاف مکرونه او چلونه جوړول، مخکې يې هم مسلمانانو کې تفرقه پيدا کولو کوشش کړی دی.]

لَقَدِ ابْتَغَوُا الْفِتْنَةَ مِنْ قَبْلُ وَقَلَّبُوا لَكَ الْأُمُورَ حَتَّى جَاءَ الْحَقُّ وَظَهَرَ أَمْرُ اللَّهِ وَهُمْ كَارِهُونَ (48)

ژباړه: يقينا غوښتلې وه دوی فتنه مخکې ددې نه او جوړ کړي وو دوی ستا په خلاف ډير چلونه تر دې چې راغی حق او ښکاره شو دين د الله تعالی او دوی بد ګڼي.

تفسير:

[لَقَدِ ابْتَغَوُا الْفِتْنَةَ مِنْ قَبْلُ]:

ددوی د اختلاف اچونې دسيسې خو تاسې ته لا له پخوا څخه روښانه دي لکه احد کې ابن سلول خپل ۳۰۰ جنګيالي عين جنګ موقع کې ستانه کړل، بنو نضير يهوديان يې د قتل څخه وژغورل، بنو قريظه سره يې اړيکې وی، غزوه احزاب کې يې تيښته وکړه، او نورو مسلمانانو ته يې هم ويلې چې بس نوره کيسه ختمه شوه، ځان وباسئ، عائشه رضي الله عنها باندې تهمتونه ولګول، مهاجرينو او انصارو اختلافاتو ته يې لمن وهله، او آخر کې يې مسجد ضرار هم جوړ کړو. نو دا مرضيان خو مخکې نه معلوم دي.

[وَقَلَّبُوا لَكَ الْأُمُورَ]:
علامه قاسمي وايي: دَبَّرُوا لَكَ الْحِيَلَ وَالْمَكَائِدَ. [تفسير القاسمي]
ستا پر خلاف د حيلو او مكرونو تدبيرونه جوړوي.
[پدې ايت كريمه كې هم د جهاد څخه وروسته پاتې كېدونكو منافقانو نور صفات ذكر كيږي]

وَمِنْهُم مَّن يَقُولُ ائْذَن لِّي وَلَا تَفْتِنِّي أَلَا فِي الْفِتْنَةِ سَقَطُوا وَإِنَّ جَهَنَّمَ لَمُحِيطَةٌ بِالْكَافِرِينَ (49)

ژباړه: او بعضې ددوی نه هغه څوک دي چې وايي اجازت راكړه ماته (د پاتې كېدو) او مه اچوه ما په فتنه كې، خبر شئ دوی په فتنه كې غورځېدلي دي او يقينا جهنم خامخا راګېرونكی دی كافرانو لره.

تفسير:
[وَمِنْهُم مَّن يَقُولُ ائْذَن لِّي وَلَا تَفْتِنِّي]:
اول صفت د منافقانو: جهاد څخه پاتې كېدو اجازت غواړي او بيا وايي چې دا اجازت راكړه، په فتنه كې مې مه اچوه، مه مې ګناهګاروه.
دويم صفت: د امير مخالفت كوي، هغه ورته يو امر كوي او دا ورته وايي چې نه زما د خوښې مطابق كار وكړه، يعني امير خپل تابع كول غواړي.
فتنې څخه مراد دلته ګناه كې اخته كول او هلاكت ده. ددې دوه تفسيرونه شوي :
اول: دې منافقانو نبي عليه السلام ته ويل چې دې سختې ګرمۍ كې ماته دومره لرې سفر كولو حكم مه كوه ځكه زه به ستا امر ونه منمه او ګناه كې به اخته شم. او كچيرې لاړ شم نو دلته كورونه يواځې پاتې كيږي، بچيان به مې هلاك شي. دا تفسير ددې الفاظو سره زيات مناسبت لري.
دويم: د جد بن قيس په نوم يو منافق و، هغه دا بهانه جوړه كړه چې اى د الله رسوله! د روميانو ښځې زياتې خايسته دي نو كه زه تبوك غزا ته لاړ شم شايد چې ځان كنټرول نه كړای شم، لهذا ته ما معذور وګڼه او د پاتې كېدو اجازت راته راكړه. [المعجم الكبير ٢ / ٢٧٥، ح ٢١٥٤، أبو نعيم في المعرفة] چې سند كې يې اختلاف شته.

[أَلَا فِي الْفِتْنَةِ سَقَطُوا]:
دوی خو بهانې جوړوي چې مونږ فتنه كې پرې نه وځو خو حقيقت كې دوی په فتنه كې اخته دي. او في الفتنة جار مجرور يې د حصر لپاره مقدم كړي دي. تاسې خو منافقان ياست، نو د نفاق نه به هم لويه فتنه وي ؟ تاسې د رسول الله عليه السلام څخه وروسته پاتې كيږئ، ددې څخه به هم لويه فتنه چيرې وي ؟

[وَإِنَّ جَهَنَّمَ لَمُحِيطَةٌ بِالْكَافِرِينَ]:
دا داسې ظالمان وو، چې نبي عليه السلام تابعداري او جهاد ته ګټه يې فتنه ويلې، ځكه پرې رب العالمين د كفر فتوه ولګوله.
دلته خو به ځان په حيلو باندې خلاص كړي، قيامت كې به څه كوي، چې جهنم څخه به نشي ويستل كيدای.
[دلته د منافقينو او مرجفينو نور قباحتونه ذكر كيږي چې ددوی پيژندنه د جهادونو او معركو په دور كې په آسانۍ سره كيږي]

إِن تُصِبْكَ حَسَنَةٌ تَسُؤْهُمْ وَإِن تُصِبْكَ مُصِيبَةٌ يَقُولُوا قَدْ أَخَذْنَا أَمْرَنَا مِن قَبْلُ وَيَتَوَلَّوا وَّهُمْ فَرِحُونَ (50)

ژباړه: كه ورسيږي تاته خوشحالي نو خفه كوي دوی لره او كه ورسيږي تاته څه مصيبت نو وايي دوی يقينا مونږ عمل كړی دی په خپل تدبير باندې مخكې ددې نه، او وګرځي دوی (ستاسې نه) او حال دا دی چې دوی خوشحالي كوي.

تفسير:
دا منافقين او مرجفين د جهاد په موسم كې راښكاره كيږي، داسې بدبخته انسانان دي چې د اسلام او مجاهدينو په كاميابۍ خفه كيږي او په ضرر يې د خوښۍ احساس كوي، يا مجاهدين ساده ګان ګڼي او ځان هوښيار ګڼي، چې ګوره مونږ په ځومره حكمت او بصيرت سره ځان خوندي كړو ؟ يعني د اسلام، عقيدې او منهج غم ورسره نشته خو د خپل نفس ساتنه يې هدف ده، هغه كه په هره لار وي.

[إِن تُصِبْكَ حَسَنَةٌ تَسُؤْهُمْ]:
الْحَسَنَةُ: الْغَنِيمَةُ وَالظَّفَرُ.
الحسنة څخه مراد غنيمت او بريا ده.

[وَإِن تُصِبْكَ مُصِيبَةٌ]:
الْمُصِيبَةُ: الْخَيْبَةُ وَالِانْهِزَامُ.
مصيبت څخه مراد شكست او تاوان (هدف ته نه رسيدل) دي.

[يَقُولُوا قَدْ أَخَذْنَا أَمْرَنَا مِن قَبْلُ]:
كله چې مسلمانانو ته تكليف ورسيږي نو دغه وخت به دا منافقان خپل سياست، تجربه او نقشه تشريح كوي او تفريعات به پرې پيل كړي. چې مونږ مخكې ويلي چې ګوره داسې كار مه كوئ، ددې نتيجه خه نه ده.
نو آيا دا خبره ددوی د منلو ده چې جهاد مه كوئ، عمليات ودروئ، جوړه وكړئ، خبره وكړئ ولو كه د عقيدې او منهج په نقصان هم تمامه شي ؟ چې جنګ وي خامخا فتح او شكست، زخم، اسارت او شهادت به پكې وي.

[وَيَتَوَلَّوا وَّهُمْ فَرِحُونَ]:
داسې عجيب خلك دي چې د اسلام په شكست خوشحاليږي، د مسلمانانو په فتح خفه كيږي، ځكه چې مسلمانان غالبه شي خو د منافقانو او مرجفينو حيثيت ختميږي، خبرې يې دروغ ثابتيږي، نو بيا خفه كيږي. او چې مصيبت رسيږي، نو بيا وايي چې مونږ خو ويلې چې دا خلك په مشرۍ نه پوهيږي، په سياست نه پوهيږي، سرزوري كوي.
همدا اعتراضات په نبي عليه السلام هم شوي وو. او هدف ددې مرجفينو دا وي چې ساده مسلمانان لاس ته كړي.
[وس الله عزوجل نبي عليه السلام ته امر كوي چې دې منافقانو او مرجفينو ته جواب وركړه چې مونږ ته د جهاد په صف كې كوم څه رسيږي، دا الله عزوجل مونږ ته په تقدير كې ليكلي وو، خامخا به راته رارسيدل، او ستاسې ارجاف به زمونږ توكل كمزوری نه كړي]

قُل لَّن يُصِيبَنَا إِلَّا مَا كَتَبَ اللَّهُ لَنَا هُوَ مَوْلَانَا وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ (51)

ژباړه: ته ووايه هيڅكله به ونه رسيږي مونږ ته مګر هغه څه چې الله تعالى مونږ لپاره مقرر كړيدي، هغه مولا زمونږ دی، او خاص په الله تعالى دې ځان وسپاري مومنان.

تفسير:
[قُل لَّن يُصِيبَنَا إِلَّا مَا كَتَبَ اللَّهُ لَنَا]:
دا مصيبتونه ليكل شوي او مقرر شوي دي:
اول: په لوح محفوظ كې. دويم: هغه كتاب كې چې پر مونږ نازل شوی.
او ددې جواب حاصل دا دی كله چې يو انسان پدې پوهه شي چې د الله عزوجل تقدير حتمي دی او هر خير او شر په تقدير كې ليكل شوی دی نو بيا پرې مصيبتونه اسانيږي.

[هُوَ مَوْلَانَا]:
نَاصِرُنَا، وَجَاعِلُ الْعَاقِبَةِ لَنَا، وَمُظْهِرُ دِينِهِ عَلَى جَمِيعِ الْأَدْيَانِ.
هغه زمونږ كومكي دی، او آخري انجام زمونږ په نفع ګرځونكی دی، او خپل دين په ټولو دينونو غالبونكی دی.

[وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ]:
وَالتَّوَكُّلُ عَلَى اللَّهِ: تَفْوِيضُ الْأُمُورِ إِلَيْهِ. په الله باندې توكل كولو معنا دا ده چې خپل ټول كارونه هغه ته سپارل.
دلته مراد دا دی چې تاسې توكل په الله وكړئ، په افرادو او اسبابو مه كوئ. چې دا منافقان درسره ونه وتل او ستاسې تعداد كم شو نو تاسې مه خفه كيږئ، يا اسباب درسره كم و نو تاسې په الله توكل وكړئ، هغه به ستاسې كومك كوي. او همدا د ايمان تقاضا ده چې يواځې په الله تعالى توكل وشي.
[وس دې آيت كريمه كې منافقينو او مرجفينو ته دويم جواب دی]

قُلْ هَلْ تَرَبَّصُونَ بِنَا إِلَّا إِحْدَى الْحُسْنَيَيْنِ وَنَحْنُ نَتَرَبَّصُ بِكُمْ أَن يُصِيبَكُمُ اللَّهُ بِعَذَابٍ مِّنْ عِندِهِ أَوْ بِأَيْدِينَا فَتَرَبَّصُوا إِنَّا مَعَكُم مُّتَرَبِّصُونَ (52)

ژباړه: ته ووايه چې انتظار نه كوئ تاسې په باره زمونږ كې مګر يو د دوو خوشحاليو نه او مونږ انتظار كوو ستاسې په باره كې چې تاسې ته به الله تعالى خپل طرف نه عذاب ورسوي يا په لاسونو زمونږ، پس انتظار كوئ يقينا مونږ ستاسې سره انتظار كونكي يو.

تفسير:
[قُلْ هَلْ تَرَبَّصُونَ بِنَا إِلَّا إِحْدَى الْحُسْنَيَيْنِ]:
دويم جواب حاصل دا دی چې آيا تاسې زمونږ په اړه دوه خوشحاليو څخه د يوې انتظار كوئ ؟ چې يا نصرت او يا شهادت دی. زمونږ په نزد خو دا دواړه ښكلې نتيجې دي.
حديث كې راځي:
عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " تَضَمَّنَ اللَّهُ لِمَنْ خَرَجَ فِي سَبِيلِهِ، لَا يُخْرِجُهُ إِلَّا جِهَادًا فِي سَبِيلِي وَإِيمَانًا بِي وَتَصْدِيقًا بِرُسُلِي، فَهُوَ عَلَيَّ ضَامِنٌ أَنْ أُدْخِلَهُ الْجَنَّةَ أَوْ أَرْجِعَهُ إِلَى مَسْكَنِهِ الَّذِي خَرَجَ مِنْهُ نَائِلًا، مَا نَالَ مِنْ أَجْرٍ أَوْ غَنِيمَةٍ. [صحيح مسلم]
ژباړه: رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: الله رب العالمين د هغه چا په اړه په ځان دا لازمه كړې چې څوك په الله ايمان ولري، د رسولانو تصديق وكړي او د جهاد په نيت سره ووځي نو زه به دا جنت ته خامخا داخلوم او يا به يې خپل كور ته راګرځوم، سره د اجر او يا سره د غنيمت.
او [هل] استفهامي دلته د تقريع،

توبیخ او زورني لپاره راغلی دی.
[وَنَحْنُ نَتَرَبَّصُ بِكُمْ أَنْ يُصِيبَكُمُ اللَّهُ بِعَذَابٍ مِنْ عِنْدِهِ أَوْ بِأَيْدِينَا]:
دا جمله د ماقبل مومنانو د عاقبت مقابل کې ده، هلته مومنانو لپآره دوه خوشحالی او دوه خایسته نتیجې وې، نو دلته د منافقانو او مرجفینو لپآره دوه بدې پایلې دي، یو دا چې د الله عزوجل لخوا د عذاب راتلل دي. او یا د مجاهدینو په لاس اسیرانیدل، وژل کیدل او ذلیله کیدل دي.

[فَتَرَبَّصُوا]:

او دلته دا فاء فصیحه ده او دا امر د تهدید لپاره دی، الله عزوجل دې خلکو ته وعید ورکوي. پښتو کې خلک وايي ګورو به، هغه شان تهدید ورته بیان شوی. معاذ الله.
[دې ایت کریمه کې هم د منافقانو دوه نور بد صفات ذکر کیږي]

قُلْ أَنْفِقُوا طَوْعًا أَوْ كَرْهًا لَنْ يُتَقَبَّلَ مِنْكُمْ إِنَّكُمْ كُنْتُمْ قَوْمًا فَاسِقِينَ (53)

ژباړه: ته اووایه خرچه کوئ په خوښه یا په ناخوښه، هیڅ کله به قبول نه کړی شي ستاسې څخه، یقینا تاسې نافرمانه قوم یاست.

تفسیر:
[قُلْ أَنْفِقُوا طَوْعًا أَوْ كَرْهًا لَنْ يُتَقَبَّلَ مِنْكُمْ]:

امام ابْنُ جَرِيرٍ د ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما څخه ددې آیت شان نزول ذکر کړی، چې دا د جد بن قیس په اړه نازل شوی، مخکې د المعجم الکبیر للطبراني حدیث تیر شو: إِنِّي إِذَا رَأَيْتُ النِّسَاءَ لَمْ أَصْبِرْ حَتَّى أُفْتَتِنَ، وَلَكِنْ أُعِينُكَ بِمَالِي، قَالَ: فَفِيهِ نَزَلَتْ قُلْ أَنْفِقُوا طَوْعاً أَوْ كَرْهاً الْآيَةَ.
یقینا زه چې زنانه ووینم نو صبر نشم کولای او فتنه کې غورځیږم، خو زه به په خپل مال سره ستا مرسته وکړم، وایي د هغه په اړه دا آیت نازل شو.
یا خو دا خبر دی، الله عزوجل ورته خبر ورکوي کچیرې تاسې په خوښه یا په ناخوښی خرچه کوئ نو له تاسې څخه هیڅکله هم نشي قبلیدای. یا دا هم ویل شوي چې دا امر دی په معنا د خبر دی.
او دا واضحه ده چې کفر او نفاق موجود وي نو صدقه یې چیرته قبلیږي ؟

[إِنَّكُمْ كُنْتُمْ قَوْمًا فَاسِقِينَ]:

وَالْفِسْقُ: التَّمَرُّدُ وَالْعُتُوُّ. فسق سرکشي او حد څخه تجاوز ته وايي.
او دلته ترې مراد فسق أکبر دی.
[وس الله عزوجل ددې منافقانو د صدقاتو نه قبلیدو علت وضاحت سره ذکر کوي]
وَمَا مَنَعَهُمْ أَنْ تُقْبَلَ مِنْهُمْ نَفَقَاتُهُمْ إِلَّا أَنَّهُمْ كَفَرُوا بِاللَّهِ وَبِرَسُولِهِ وَلَا يَأْتُونَ الصَّلَاةَ إِلَّا وَهُمْ كُسَالَى وَلَا يُنْفِقُونَ إِلَّا وَهُمْ كَارِهُونَ (54)
ژباړه: او نه دي منع کړي دوی چې قبول کړی شي ددوی نه صدقې ددوی مګر دې خبرې چې دوی کفر کړی دی په الله تعالی او په رسول د هغه او نه راځي دوی مانځه ته مګر په داسې حال چې ناراسته وي او نه مصرفوي دوی مګر په داسې حال کې چې بد یې ګڼي.

تفسیر:
[وَمَا مَنَعَهُمْ أَنْ تُقْبَلَ مِنْهُمْ نَفَقَاتُهُمْ إِلَّا أَنَّهُمْ كَفَرُوا بِاللَّهِ وَبِرَسُولِهِ]:

درې علتونه د عدم قبولیت بیان شو، چې دا درې د منافقانو قبیح صفات هم دي.
اول صفت: کفر دی.
دا منافقان کفار دي. او شرک په صورت کې بل هیڅ عمل نه قبلیږ ي.

[وَلَا يَأْتُونَ الصَّلَاةَ إِلَّا وَهُمْ كُسَالَى]:

دویم صفت: دوی مونځ نه کوي، مګر په سستی او بوج ګڼلو سره مونځ کوي. دا ځکه چې دوی ددې مونځ د ثواب امید نه ساتي، او نه هم د مونځ پریښودو د عذاب څخه ډاریږي. ددوی د مونځ حاصل یواځې خلکو ته ښودنه ده چې مونږ مسلمانان یو، دې لپاره چې څټونه راته ونه وهي.
[وَإِذَا قَامُوا إِلَى الصَّلَاةِ قَامُوا كُسَالَى يُرَاءُونَ النَّاسَ وَلَا يَذْكُرُونَ اللَّهَ إِلا قَلِيلا} [النِّسَاءِ: 142]
او کله چې دوی مونځ ته ودریږي نو سست ودریږي، ځان ښودنه کوي خلکو ته، او الله عزوجل نه یادوي مګر لږ.
نو دا د منافق صفت دی چې مونځ کې سست پست ولاړ وي، داسې نشاط، تازه او توجه سره نه وي ولاړ.
مسلمانانو ورونو!
دا وګورئ، مونځ دومره مهم عبادت دی چې صدقه او جهاد باندې هم خورا زیات تاثیر لري.

[وَلَا يُنْفِقُونَ إِلَّا وَهُمْ كَارِهُونَ]:

دریم صفت: د الله په لار کې چې کومه خرچه کوي نو دا د زړه له کومې نه کوي بلکې بد یې ګڼي. ځکه چې ددوی دا عقیده ده چې دا مال خو زمونږ څخه ضایع شو. د انفاق د اجرونو څخه ناامیده دي.
چې صدقه یې نه قبلیږي نو مونځ روژه یې هم نه قبلیږي. معاذ الله.

نثر اللؤلؤ والمرجان

في سلسلة معرفة الرحيم الرحمان

شپږم درس

أحمد الله وأسبّحه بعلوّه وكماله الذي خلق السموات والأرض على مِنواله ونُوِّرَت بنوره وزُيِّنَتْ بجماله ثم استوى على العرش لائقا بذاته وجلاله ولا يخفى عليه شيئ من أمور العالم وأفعاله وعليم بجميع أحواله وأعلن الفوز لمن امتثل بإنزاله وإرساله وأصلي وأسلّم على رسوله ونبيه محمد وعلى أهل بيته وأصحابه وآله، أمابعد:

محترمو مسلمانو وررونو او خويندو!

مخکې د عقيدې په ذکر شوي بحث کې مونږ د لوی الله په توفيق سره د الله تبارک وتعالی د ذات په اعتبار سره په مطلق علو باندې د رسول الله صلی الله عليه وسلم د احاديثو نه دلايل ذکر کړل، اوس په دې شپږم درس کې په مذکوره دعوې د رسول الله صلی الله عليه وسلم د صحابه کرامو او تابعين عظامو اقوال ذکر کوو.

دفع القلق والمهابة

بإثبات هذه العقيدة عن خير البرية الصحابة

مخکې فصل کې تاسو د قران نه بعد د احاديثو نه هم د دې عقيدې اثبات ملاحظه کړ چې الله رب کريم د ذات په اعتبار سره فوق سبع سماوات دی، اوس د کتاب او سنت څخه د دې ثابت عقيدې دغه اعتقاد د رسول الله صلی الله عليه وسلم د صحابه کرامو رضوان الله عليهم اجمعين څخه هم واورئ.

(۱) ابوبکر الصديق رضی الله عنه کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفات شو او صحابه کرام د يو لوی غم او مصيبت سره دچار شول نو ابوبکر رضی الله عنه د عمر رضی الله عنه د خطبې په مقابل کې خطبه کوي او فرمايي:

من كان يعبد محمدا فإنه قد مات، ومن كان يعبد الذي في السماء فإنه حي لا يموت"

ژباړه: چا چې د محمد عبادت کاوه نو يقينا هغه وفات شو، او چا چې د هغه چا عبادت کاوه چې هغه په اسمان کې دی، نو بې شکه هغه ژوندی دی مرګ پرې نه راځي.

أخرجه الدارمي في الرد على المريسي ص٤٦٣ -ضمن عقائد السلف او ابن قدامة په إثبات صفة العلو ص١٠١ ــــ١٠٢ أو علامه ذهبي په العلو ص٦٢.أو ابن القيم رحمه الله په اجتماع الجيوش الإسلامية ص ١١٩ کې ذکر کړی دی.

(۲) عمر بن الخطاب رضی الله عنه د ده رضی الله عنه نه هم تقريباً ډيرو تفسيرونو دغه واقعه نقل کړې، چې عمر رضی الله عنه کله يوې زنانه په لار کې ودرولو او خبرې يې ورسره کولې نو د ده له ملګرو نه يو کس هغه ته وفرمايل "يا أمير المؤمنين حبست الناس على هذه العجوز"

ژباړه: ای امير المومنين ته د دې بوډۍ په وجه د نورو خلکو د ملاقات نه حصار شوي فقال: نو عمر رضی الله عنه ورته وفرمايل "ويلك أتدري ما هي؟

ژباړه: های هلاک شي ته خبر يې دا څوک ده؟ "هذه امرأة سمع الله شكواها من فوق سبع سموات"

دا خو هغه ښځه ده چې شکايت يې الله تبارک وتعالی د اوو اسمانونو نه بره اوريدلی وو. هذه خولة التي أنزل الله فيها دا خوله ده هغه خوله چې الله تبارک وتعالی يې په شان کې دغه کلام نازل کړی چې فرمايي:

{قد سمع الله قول التي تجادلك في زوجها}

وګوره العرش للذهبی ٢/١٦٣ اوالرد على الجهمية ص٢٧٤ داامام دارمی اوبيهقی رحمه الله هم په الأسماء والصفات ٢/٣٢٢ رقم الأثر ٨٨٦ باندې ذکر کړی دی.

(۳) عثمان بن عفان رضی الله عنه عبد الرحمن بن عوف رضي الله عنه فرمايي: چې کله ما د عثمان رضی الله عنه لپاره بيعت واخيسته او خلکو هم ورسره بيعتونه وکړل نو فرمايي چې: رفع رأسه إلى سقف المسجد وقال: "اللهم اشهد"

نو عثمان رضی الله عنه سر د مسجد د چت (مراد ترينه بره اسمان طرف سر اوچتول دي) طرف اوچت کړ، او ويې فرمايل: ای الله ته ګواه اوسه.

وګوره العرش للذهبی ٢/١٦٤ العلو لذهبی ص٦٣ ابن خزيمه فی التوحيد ١/٢٤٢ الأسماء والصفات للبيهقی ٢/٢٤٢

(۴) عبدالله بن مسعود رضی الله عنه د ابن مسعود رضی الله عنه نه روايت کړی دی فرمايي:

چې څوک سبحان الله، والحمدلله، والله أكبر، ووايي "نو تلقاهن ملك فعرج بهن إلى الله تعالى" نو يوه ملايکه يې واخلي او دغه کلمات د الله طرف ته پورته کوي.

فلا يمر بملأ من الملائكة إلا استغفروا لقائلهن، حتى يجيء بهن وجه الرحمن" نو دوی په يوه ډله د ملائکو نه ورتيريږي مګر دا چې هغوی د دې ويوونکي ته مغفرت غواړي، تر دې چې دغه کلمات دا ملايکه د رحمان ذات مخې ته ورسوي، امام ذهبی رحمه الله دغه اثر نقل کوي او فرمايي: أخرجه العسال وإسناده كلهم ثقات وګوره العرش ٢/١٦٥ دغه ډول دا اثر ابن القيم په اجتماع الجيوش الاسلاميه ص ٢٥٢ کی هم ذکر کړی او فرمايلي يې دي اخرجه العسال باسناد كلهم ثقات.

(۵) عبدالله بن عباس رضي الله عنهما دی ده به فرمايل:

فكروا في كل شيء ولا تفكروا في ذات الله، فإن بين السموات إلى كرسيه سبعة آلاف نور، وهو فوق ذلك سبحانه وتعالى"

ژباړه: په هر څه کې د کيفيت متعلق فکر کوئ خو د الله په ذات کې دغه فکر مه کوئ ځکه د اسمانونو او د هغه د کرسی تر منځه اوه ۷ زره د نور پردې دي، او الله تعالی د هغې نه هم بره دی. العرش للذهبی ٢/١٧١ الترغيب والترهيب للأصبهانی ٢/١٧٣ اثبات صفة العلو لابن القدامة ص١٠٦ ـــــ١٠٧

توفيق المعبود بذكر الخلاصة و المقصود

محترمو لوستونکو!

دلته د دې صحابه کرامو د دې اثارو نه ښکاره معلومه شوه چې دوی هم الله تبارک وتعالی په فوقية بالذات باندې قائل وو، او همدا اعتقاد د کتاب او سنت څخه ماخوذ او ثابت اعتقاد دی، کوم چې مخکې تاسو ملاحظه کړو، نو د کتاب او سنت او د صحابه وو د اقوالو نه معلومه شوه چې الله تبارک وتعالی د اسمانونو نه بره دی.

دې باب کې به د صحابه کرامو نور اقوال د عرش د اثبات په باب کې ذکر شي، ان شاء الله تعالی.

نو د کتاب او سنت نه د دغې ثابت او سپيڅلې عقيدې دغه جازم اعتقاد چې ځنګه تاسو د صحابه کرامو رضوان الله عليهم څخه بالدلائل ملاحظه کړ اوس راشئ او دې لاندې را روان فصل کې دغه اعتقاد لږ د صحابه وو د شاګردانو تابعينو رحمهم الله څخه هم واورئ.

دفع المكر والمكيدة
بذكرالشواهدعن التابعين باثبات هذه العقيدة

نو راځو او په توفيق د لوی الله تبارک وتعالی د اهل زيغو هغه مکر او کيد هم دفع کوو چې هغوی د الله تعالی متعلق د فوقيت عقيده تجسيم

ګڼي او منونکو ته يې مجسمه او دغه ډول قسم قسم بې کاره القاب ورکوي، او دغه عقيده د سلفو څخه نفي کوي. نو اوس د يو څو تابعينو هغه اقوال ذکر کوو چې هغه دليل وي په دې چې د دوی عقيده هم د الله تبارک وتعالی په باره کې د فوقيت متعلق د قران حديث او صحابه کرامو غونډې وه.

(۱) کعب الاحبار رحمه الله چې ده د ابوبکر رضی الله عنه په خلافت کې اسلام راوړی او د عثمان رضی الله عنه په خلافت کې وفات شوی چې عمر يې تقريباً د سل کالو څخه اوختې وو، کما فی الکاشف ص ۳/۹ وتقريب التهذيب ص۸۱۲ دغه جليل القدر تابعی فرمايي قال الله في التوراة: أنا الله فوق عبادي،........ الله تعالی په تورات کې فرمايلي: زه الله يم د خپلو بندګانو نه بره يم ...... العرش للذهبی ۲/۱۸۷ وأخرجه ابن بطة فی الابانة ۳/۱۸۵ و الجيلانی فی الغنية۱/۵۷

(۲) حسن بصری رحمه الله چې دا هم جليل القدر تابعي او د بصرې اوسيدونکی دی له ده څخه په ثابت سند سره نقل دې چې ده وفرمايل: سمع يونس عليه السلام تسبيح الحصا والحيتان، فجعل يسبح، وكان يقول في دعائه: سيدي في السماء مسكنك، وفي الأرض قدرتك" وذكر الحديث يونس عليه السلام په بحر کې د کبانو او ګيډکيو تسبيحات واوريدل نو شروع شو چې تسبيح يې ويل او په دعاء کې يې ويل: چې ای زما هغه باداره چې ځای د اوسيدو دې په اسمان کې دی، او قدرت دې په ځمکه کې دی ...... صفة العلو لابن القدامة ص ۹۶ رقم الاثر۵۹ العرش للذهبی ۲/۱۸۹ ياد دې وي چې د سماء نه مراد علو او اوچت والی دی کما مر فيفصل سطر النقاط بحل شبهة النفاة.

(۳) مسروق بن الأجدع الهمدانی رحمه الله چې دا هم د ډيرو صحابه کرامو شاګرد دی، د ده متعلق صحيح نقل دی چې ده به کله هم له عائشې مور څخه حديث ذکر کولو نو فرمايل به يې حدثتني الصديقة بنت الصديق حبيبة حبيب الله، المبرأة من فوق سبع سموات"

ماته ريښتوني زنانه د ريښتوني سړي لور او د الله د دوست (رسول الله صلى الله عليه وسلم) محبوبې هغې زنانه چې پاکې يې پاس د اوو۷ اسمانونو نه راغلې ده (هغې راته) دا حديث بيان کړی دی العرش للذهبی ۲/۱۹۱ طبقات ابن سعد۸/۶۶ والشريعة للآجری ۵/۲۴۰۴ والحلية لأبی نعيم ۲/۴۴

(۴). امام مفسر مجاهد رحمه الله چې دا د عبدالله بن عباس رضی الله عنهما مشهور شاګرد او جليل القدر امام او تابعي دی، موصوف د الله تبارک وتعالی د دې وينا متعلق چې { فخلف من بعدهم خلف} تفسير کوي او فرمايي: هم في هذه الأمة يتراكبون كما تراكب الحمر والأنعام في الطرق، ولا يستحيون الناس في الأرض، ولا يخافون الله في السماء"

ژباړه: دا به په دې أمت کې (داسې خلک) وي چې يو په بل به داسې ځوريږي لکه څنګه چې په لارو کې خروته او نور ځاروي يو په بل ځوريږي نه به دوی ځمکه کې د انسانانو نه حياء (شرم) کوي او نه به (د هغه) الله نه ويريږي چې په اسمان کې دی. وګوره تفسير مجاهد ص۲۵۶ تفسير الطبری ۱۶/۷۵ واجتماع الجيوش الاسلامية ص۲۵۷ والعرش للذهبی ۲/۱۹۶

(۵) سعيد بن جبير رحمه الله چې دا هم مشهور تابعي دی، د ده نه هم په سند سره نقل دي چې فرمايي: د بني اسرائلو د بادشاهانو څخه د يو بادشاه په زمانه کې څو کلونه قحط سالي راغله نو بادشاه وويل چې يا به الله په مونږ باران کوي او يا به مونږ الله ته تکليف ورسوؤ، نو په مشاورينو کې ورته چا وويل ته به څنګه په دې قدرت ومومې حال دا چې هغه (الله) په اسمان کې دی نو بادشاه وويل: زه به د الله دوستان قتل کړم، نو په دې (خبرې) سره الله باران ووراوه. وګوره العرش للذهبي ۲/۱۹۷ ابونعيم فی الحلية ۴/۲۸۲ اثبات صفة العلو لابن قدامه ص۹۷ (۶) سليمان بن طرخان التيمی البصری رحمه الله به فرمايل: لو سئلت أين الله؟ لقلت في السماء.

که چيرته له ما پوښتنه وشي چې الله چيرته دی، نو زه به ورته حتماً ووايم چې الله په اسمان کې دی.

خلق افعال العباد للبخاری ص۱۱ اثبات صفة العلو لابن قدامة ۱۱۴

(۷) عبيد بن عمير الليثي رحمه الله هم يو له هغو امامانو څخه دی چې په توثيق يې اجماع ده.

کما فی الکاشف ۲/۲۰۹ موصوف فرمايي: ينزل الرب عز وجل شطر الليل إلى السماء الدنيا فيقول: من يسألني فأعطيه، من يستغفرني فأغفر له، حتى إذا كان الفجر صعد الرب عز وجل. ژباړه: زمونږ رب عزّوجل نيمه شپه د دنيا اسمان ته راکوزيږي او فرمايي: څوک دی چې له ما نه څه وغواړي او زه يې ورکړم څوک دی چې له ما نه مغفرت وغواړي او زه ورته بښنه وکړم تر دې چې سحر شي نو بيا زمونږ رب بره خيژي، وګوره السنة لعبدالله بن احمد ۱/۲۷۲ اجتماع الجيوش الاسلاميه لابن القيم ص ۲۵۹ العلو للذهبي ص۹۳ والعرش له ۲/۲۰۵

(۸) بل د مکې مشهور قاري عمر بن عبدالرحمان بن محيصن المکی رحمه الله چې د مسلم ترمذي او نسايي له راويانو څخه دی، ده به د "وفي السماء رزقكم وماتوعدون" قراءت داسې کولو: وفي السماء رازقكم وما توعدون. ژباړه: په اسمان کې ستاسو رازق (روزي درکوونکی) دی او هغه څه هم چې وعده يې له تاسو سره کيږي، وګوره العرش للذهبی ۲/۲۱۵ کتاب اتحاف فضلاء البشر....۲/۴۹۲

(۹) ايوب بن ابي تميمة كيسان السختياني چې دا هم يو لوی ثقه ثبت محدث او دصحاحو راوي دی، چې د لويو فقهاو او عبّادو څخه دی، حماد بن زيد فرمايي: چې ما له ده څخه واوريدل چې د معتزله وو متعلق يې وفرمايل: إنما مدار القوم على أن يقولوا ليس في السماء شيء.

ژباړه: بې شکه عقيده د دې قوم دا ده چې دوی وايي چې په اسمان کې هيڅ هم نه شته، وګوره العرش للذهبی ۲/۲۱۸ او همدا اثر يې په خپل کتاب العلو ص۹۸ کی هم نقل کړی او متعلق يې فرمايلي: هذا إسناد كالشمس وضوحا، والاسطوانة ثبوتا عن سيد أهل البصرة وعالمهم:

دا سند د بصرې د سردار او عالم لکه د لمر په شان داسې روښان او واضح دی او د ستني(پايي) غونډې مضبوط ثبوت لري او دغه اثر يې په سيراعلام ۶/۲۴ کی هم نقل کړی دی.

(۱۰) ثابت بن اسلم البناني رحمه الله چې دا هم د جليل القدر تابعينو څخه دی دا فرمايي : داود عليه السلام به ډير اوږد لمونځ (قيام) کولو بيا به يې رکوع وکړه بيا به يې سر اوچت کړ اسمان طرف ته او ويل به يې: إليك رفعت رأسي يا عامر السماء نظر العبيد إلى أربابها يا ساكن السماء" ژباړه: ستا طرف ته مې سر را اوچت کړی ای د اسمان ابادونکيه! داسې درته ګورم (اميد لرم) لکه څنګه چې غلامان خپلو بادارانو ته اميد لري، ای د اسمان اوسيدونکيه! دا اثر اللالكائي په شرح أصول اعتقاد أهل السنة والجماعة ۳/۴۰۰ رقم الأثر۶۶۹ باندې ذکر کړی او امام أحمد رحمه الله په الزهد ص۱۱۱ او ابن قدامة په إثبات صفة العلو ص ۹۵ -۹۶ کی په رقم ۵۸ أو ذهبي په العلو ص۵۵ او ص۹۶ کی هم ذکر کړی او د هغې نه بغير يې په الأربعين في صفات رب العالمين کې هم ص۵۸ کې په رقم ۳۷ ذکر کړی .أو ابن القيم رحمه الله دغه اثر په اجتماع الجيوش الإسلامية ص۲۶۸ کې هم ذکر کړی تلک عشرة كاملة

توفيق المعبود فی ذکر الخلاصة و المقصود

دلته په پوره ته ذکر شوي فصل کې د جليل القدر او معظمو تابعينو رحمهم الله څخه مو تاسو ته يو څو هغه أقوال نقل کړل چې د هغې نه ښه صفا بلا تردد والتأويل دا معلوميږي چې د الله تبارک وتعالی د فوقيت بالذات په اثبات کې د هغوی هم دغه عقيده وه کومه چې ذکر شوه، چې خلاصه او مقصود د دې بحث څخه هغه دا ثابتول دي چې دغه تابعينو چې د بې شماره صحابه کرامو سره يې صحبتونه او مجلسونه شوي او د هغوی څخه يې مخامخ رؤيةً او مشافهةً د دين عقيدې او شرعي احکامو اخذ کړی دی دوی هم د کتاب او سنت موافق د صحابه کرامو غونډې دغه عقيده لرله چې الله تبارک وتعالی د ذات په اعتبار سره بره دی او هيڅ انسان په صحيح سند سره دا نه شي ثابتولی چې له تابعينو څخه يو هم د دې عقيدې نه انکار کړی وي او يا يې هم په هغې کې تاويل او تحريف کړی وی کما فی الحموية الكبرى لابن تيمية الحرّانی ص ۲۲۰ او همدا د قران سنت او اجماع د امت نه ثابته هغه عقيده ده چې په دې کې به شک تردد انکار او يا هم تأويل او تحريف د اهل الزيغ عمل ګڼل کيږي او له دې نه ناخبره او جاهل به په خپل رب خالق او معبود باندې جاهل او د هغه نه ناخبره وي، والعياذ بالله تعالی

الغاية المرسومة بنقل اجماع فوقية الله عن علماء الأمة المرحومة

مخکې فصلونو کې مونږ بتوفيق الله تعالی د قران او حديث نه واخله تر تابعينو دا خبره ثابته کړه چې الله تبارک وتعالی د ذات په اعتبار سره د اوو ۷ اسمانو د پاځه دی او همدا د امة د اوائلو نه نقل شوي ثابت جازم او راسخ هغه اعتقاد دی چې يو مخالف يې هم په لاس کی دليل نه لري شيخ الاسلام ابن تيمية رحمه الله د دې متعلق فرمايي: ثم ليس في كتاب الله، ولا في سنة رسول صلى الله عليه وسلم، ولا عن أحد من سلف الأمة لا من الصحابة والتابعين، ولا عن أئمة الدين ـ الذين أدركوا زمن الأهواء والاختلاف ـ حرف واحد يخالف ذلك، لا نصا ولا ظاهرا.

ولم يقل أحد منهم قط: إن الله ليس في السماء، (ژباړه) نو نشته نه د الله په کتاب او نه د رسول الله صلى الله عليه وسلم په سنت کې او نه د يو کس نه په سلفو د امت کې چې صحابه دي او بيا تابعين او د دين امامان دي، کومو چې د خواهشاتو او

اختلافاتو ادوار موندلي په دوی کې له يو څخه يو حرف هم داسې څوک نه شي ثابتولی چې هغه د دې (عقيدې) خلاف وي نه د نص او نه د ظاهر په طريقې سره او نه بلکل يو کس په دوی کې دا ويلي، چې الله په اسمان کې (بره ـ پاس) نشته دی، وګوره: الحمويه الکبری ص(۲۲۰) نو په دې مناسبت سره اوس دې فصل کې باذن الله تعالی د امة مرحومه د جيدو او معتمدو علماوو او فقهاوو څخه دا ذکر کوو چې هغوی هم دغه اعتقاد خپله عقيده ګرځولی، اګر چې د اجماع نظر او عقيده ده، کمافي الاعتقاد للالکائي ۱/۱۹ والعرش لابن ابي شيبة ص۱۳۸ وصفة العلو لابن قدامة ص ٦۳

نو چونکې عقيده اجماعي عقيده ده، نو د ټولو علماوو اقوال او يا هم د هغوی نومونه ذکر کول زمونږ د وس او طاقت نه لاندې نه دي، اما دومره ده چې په اختصار سره به د هغو له جملې څخه چې د الله تبارک وتعالی باره کې د فوقية بالذات عقيده لري، د يو څو هغو علماوو نومونه ذکر کړو، کوم چې د عامو بې علمه مسلمانانو تر منځه هم ډير مشهور دي، فضلا عن العلماء او هغه په لاندې ډول دي.

(۱) امام ابو حنيفه رحمه الله المتوفی هـ ۱۵۰ وګوره العلو للذهبی ص ۱۰۱ واثبات صفة العلو لابن قدامة ص ۱۷۰ والفقه الاکبرص ۱۷۳

(۲)امام مالک رحمه الله المتوفی هـ۱۷۹ وګوره الشريعة للآجری ص۲۸۹ وکتاب السنة لإبن احمد بن حنبل ۱/۱۰۷ والعلو لذهبي ص۱۳۸ واجتماع الجيوش ۲/۱۴۱

(۳)امام شافعی رحمه الله المتوفی هـ ۲۰۴ وګوره اجتماع الجيوش ۲/۱٦۵ او دده خپل کتاب مسند الامام الشافعی

(۴)امام احمد بن حنبل رحمه الله المتوفی هـ ۲۴۱ وګوره اثبات صفة العلوء ص۱٦۷ او الرد علی الجهمية ص۱۴٦،۱۴۷ العقيده ص۱۰۸ رواية ابی بکرالخلال له

(۵) امام بخاري رحمه الله المتوفی هـ۲۵۴وګوره صحيح البخاري کتاب التوحيد و خلق أفعال العباد ص ۴۲،۴۳

(٦) امام اوزاعی رحمه الله المتوفی هـ۱۵۷ وګوره اجتماع الجيوش لابن القيم ۲/۱۳۵

(۷)امام محمد بن حسن الشيباني رحمه الله صاحب ابی حنيفة رحمه الله المتوفی هـ ۱۸۹ وګوره اثبات صفة العلو لابن قدامة ص۱۷۰ وشرح اعتقاد.... للالکائی ۲/۴۳۳ والعلوء لذهبی ص۱۱۳

(۸) امام بن خُزيمه رحمه الله المتوفی هـ ۳۱۱وګوره اثبات صفة العلو ص ۱۸۵ و معرفة علوم الحديث ص ۸۴ اجتماع الجيوش ۲/۱۹۳

(۹) امام ابوبکر الآجري البغدادي رحمه الله المتوفي ۳٦۰ وګوره الشريعة له ۳/۱۱۰۰

(۱۰) امام ذهبي رحمه الله المتوفی ۷۴۸ وګوره د ده خپل کتابونه العرش او العلو او الأربعين چې د الله تبارک وتعالی د همدې او نورو صفاتو په اثبات کې يې ليکلي دي .

(۱۱) شيخ الاسلام ابن تيميه الحراني رحمه الله المتوفی هـ ۷۲۸ وګوره دده کتابونه التدمريه الحموية تلبيس الجهميه مجموع الفتاوی

(۱۲) ابن قدامه رحمه الله المتوفی هـ ٦۲۰ وګوره د هغه خپل کتاب صفة العلو

(۱۳) امام مسلم رحمه الله المتوفی هـ ۲٦۱ وګوره صحيح مسلم و اجتماع الجيوش ۲/۲۴۱

(۱۴)امام بيهقي رحمه الله المتوفی هـ ۴۵۸ وګوره د هغه خپل کتاب الأسماء والصفات ۲/۳۲۱ ـــ ۳۲۲

(۱۵) امام عبدالله بن يوسف الجوينی رحمه الله المتوفی هـ۴۳۸ وګوره رسالة فی اثبات الاستواء والفوقية له

(۱٦) امام ابو حامد الاسفرائنی رحمه الله المتوفی هـ ۴۰٦وګوره اجتماع الجيوش ۲/۱۹۲ والعرش للذهبی ۲/۳۵۳

(۱۷) امام ابن ابي زَمَنِين المالکی رحمه الله المتوفی هـ ۳۹۹ وګوره أصول السنة له ص ۱۱۴ اجتماع الجيوش

(۱۸) امام قرطبي رحمه الله المتوفی هـ ٦۷۱ وګوره تفسير القرطبی۱/۲۵٦ واجتماع الجيوش ۲/۲٦

(۱۹) امام ابوجعفر الهمدانی رحمه الله المتوفی هـ وګوره مجموع الفتاوی لابن تيمية ۴/۴۴ والعرش للذهبي ۱/۱۵۳و اجتماع الجيوش ۲/۲۷۵ و بيان تلبيس الجهمية ۱/۵۴

(۲۰) امام بن القيم رحمه الله المتوفی هـ۷۵۱ وګوره اجتماع الجيوش

(۲۱) امام حافظ تقی الدين عبدالغنی المقدسی رحمه الله المتوفی هـ ٦۰۰ وګوره د ده کتاب عقيدة الحافظ ...ص۴۰،۴۱،۴۲

(۲۲) امام دارمي رحمه الله المتو فی ۲۸۰هـ وګوره د هغه خپل کتاب نقض الامام ابی سعيد ۱/ ۲۲٦

(۲۳) امام بن منده العبدي رحمه الله المتوفی هـ۳۹۵ وګوره د ده خپل کتاب التوحيد ص۴۹۴

(۲۴) امام نسايي رحمه الله المتوفی هـ۳۰۳ وګوره السنن الکبري ۷/۳۳۸ رقم الحديث ۵۹۰٦ و ۸۱٦٦

(۲۵) امام عبدالرحمان المهدی رحمه الله المتوفی هـ ۱۹۸وګوره اجتماع الجيوش ۲/۲۱۴ خلق افعال العباد للبخاری ص۱۷

(۲٦) امام عبدالله بن احمد رحمه الله المتوفی هـ۲۹۰ وګوره السنة د ده خپل کتاب

(۲۷) امام بن جرير الطبري رحمه الله المتوفی هـ۳۱۰ وګوره اجتماع الجيوش ۲/۱۹۴

(۲۸) امام ترمذي رحمه الله المتوفي هـ ۲۹۷وګوره جامع الترمذی کتاب التفسير تحت حديث رقم ۳۲۳۹ واجتماع الجيوش ۲/۲۴۳

(۲۹) امام ابوالقاسم هبة الله اللالکائی رحمه الله المتوفی ۴۱۸هـ وګوره د ده خپل تصنيف شرح اعتقاد اهل السنة ۳/۴۲۹

(۳۰) امام محی السنة البغوي رحمه الله المتوفی هـ ۵۱۰وګوره اجتماع الجيوش ۲/۱۹۹

(۳۱) نعيم بن حماد الخزاعي رحمه الله المتوفی هـ ۲۲۸ وګوره اجتماع الجيوش ۲/۲۲۱ العرش للذهبي ۲/۳۰۵

(۳۲) امام اسحاق ابن راهويه المروزي رحمه الله المتوفی هـ ۲۳۸ وګوره السنة للخلال و اجتماع الجيوش ۲/۲۲٦ والعرش للذهبی ۲/۱۰

(۳۳) امام عبدالله بن مسلم بن قتيبه رحمه الله المتوفی هـ ۲۷٦ وګوره د ده کتاب کتاب تأويل الحديث فی الرد علی اعداء اهل الحديث کاملا والعرش للذهبی ۲/۳۴۵

(۳۴) امام يحيی بن يحيی بن کثير الليثي رحمه الله المتوفی هـ ۲۲٦ وګوره العرش للذهبی ۲/۲۳۳

(۳۵) امام يزيد بن هارون رحمه الله المتوفی هـ ۲۰٦وګوره اجتماع الجيوش ۲/۲۱۴

(۳٦) حماد بن زيد رحمه الله المتوفی هـ ۱۷۹ وګوره العرش لابن ابی شيبة ص۱۵۱ العرش للذهبي ۱/۱۲۲

(۳۷) امام ابوبکر احمد بن عمرو بن أبي عاصم رحمه الله المتوفي هـ ۲۸۷ وګوره د ده کتاب السنة

(۳۸) امام ابوبکر المروزی رحمه الله المتوفی هـ ۲۷۵وګوره اجتماع الجيوش ۲/۲۰۱

(۳۹) امام ابوجعفر محمد بن عثمان بن ابی شيبة رحمه الله المتوفی هـ ۲۹۷ وګوره العرش وماروی فيه له

(۴۰) امام ابوبکر بن الأثرم رحمه الله المتوفی هـ ۲۷۳ وګوره العرش للذهبی ۲/۳۳٦

(۴۱) امام ابوبکر بن الخلال رحمه الله المتوفي هـ۳۱۱ وګوره السنة له ۱/۲٦۷

(۴۲) امام ابو شيخ الأصبهانی رحمه الله المتوفي هـ ۳٦۹ وګوره د ده خپل کتاب العظمة ۲/۵۴۱،۵۴۲،۵۴۳

(۴۳) امام ابو عبدالله بن منده العبدي رحمه الله المتوفی هـ ۳۹۵ وګوره د ده کتاب التوحيد ۱/۱۱۴ و۱/۱٦۳ و۲/۱٦۹

(۴۴) امام ابو احمد العسال رحمه الله المتوفي هـ۳۴۹ وګوره د ده خپل کتاب المعرفة او العرش د امام ذهبي رحمه الله

(۴۵) امام الطبرانی رحمه الله المتوفی هـ ۳٦۰ وګوره د ده کتاب معجم الکبير

(۴٦) امام ابو اسماعيل الأنصاري الهروي رحمه الله المتوفی هـ ۴۸۱ وګوره د هغه خپل کتاب. الصفات

(۴۷) امام ابو عمر الطلمنکي رحمه الله المتوفی هـ ۴۲۹ وګوره اجتماع الجيوش ۲/۱۴۲

(۴۸) امام ابو عمربن عبدالبر رحمه الله المتوفی هـ ۴٦۳ وګوره اثبات صفة العلو ص٦٦ واجتماع الجيوش ۲/۱۴۳

(۴۹) امام سفيان بن عيينه رحمه الله المتوفی هـ ۱۹۵ وګوره تفسير الثعلبی واجتماع الجيوش ۲/۲۲۳

(۵۰) امام عبدالله بن المبارک رحمه الله المتوفی هـ ۱۸۱ وګوره اثبات صفة العلو وګوره درء التعارض العقل والنقل ۲/۳۴ واثبات صفة العلو ص ۱۷۱ واجتماع الجيوش ۲/۲۱۴

(۵۱) امام ابو يوسف رحمه الله المتوفي هـ۱۸۲ وګوره المعرفه لابي العسال والعرش للذهبي ۲/۲۴۷

(۵۲) امام ابو المعالي الجويني رحمه الله المتوفي هـ ۴۷۸ وګوره الحموية الکبری ص ۵۱۴

(۵۳) سفيان الثوري رحمه الله المتوفی هـ ۱٦۱ وګوره شرح اصول اعتقاد أهل السنة ۱۵/۱۹ د لته مونږ دغه د يو څو علماوو چې د اهل السنة والجماعه د قبيلو څخه دي حتا چې اکثر له دوی څخه بلکې ټول د امامانو د جملې څخه دي د هغوی اسماء ګرامي مو ذکر کړل چې له دې څخه مونږ دا ثابتول غواړو چې هغوی د الله سبحانه وتعالی متعلق د فوقية بالذات عقيده لرله او يو هم له دوی څخه په دې کې تاويل اختلاف او تردد نه دی کړی دغه ډول که په دې باب کې د امة مسلمه د متقدمينو او متأخرينو نورو فقهاوو نومونه ذکر کول وغواړو نو دا په لس او شل جلده کتابونو کې هم نه ځايږي، نو تاسو به د دې څخه دا علم او اعتقاد اخذ کړی وي چې الله تبارک وتعالی د ذات په اعتبار سره د اسمانونو نه بره دی، او همدا د مؤمن اعتقاد او د کتاب سنت او اجماع د امت سره سره د سليم فطرت تقاضا هم ده، نو اوس راځو او د لوي الله متعال په توفيق مرسته او مدد د دې عقيدې څلورم قسم اثبات هغه د عقل او فطرت څخه هم کوو ان شاء الله.

الفلاح والرشاد في مسائل الجهاد ٦

شپږم درس : صحيح البخاري كتاب الجهاد

الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على رسوله الأمين وعلى أزواجه وأصحابه ومن تبعهم في إحسان إلى يوم الدين أما بعد:

محترمو مسلمانانو ورونو او خویندو!

مونږ مخکې درس کې د لوی الله به توفیق سره د الفلاح والرشاد په سلسله واره لړۍ، درسونو څخه په تیر شوي درس کې د صحیح البخاري د کتاب الجهاد څخه د شپږم حدیث وضاحت او تفصیل ذکر کړو چې پاتې د تفصیل برخه به یې ان شاء الله د لوی الله متعال په توفیق په دې درس کې ذکر کړو، راځو د شپږم حدیث پاتې برخې شرحې او وضاحت ته.

بابٌ الحظ المزيد بإثبات من مات في سبيل ربه دون القتل فهو شهيد

په دې باب کې غواړو چې د هغه سوال جواب ذکر کړو چې ایا یو انسان جهاد ته ووځي په دغه لار کې هجرت وکړي او دا د کفارو سره د معرکې او قتال نه بغیر وفات شي، نو د ده حکم څه دی؟ جواب دا دی چې ظاهر د کتاب او سنت دلیل دی په دې چې دا شهید دی الله سبحانه وتعالی په سورة الحج ۸۵ نمبر ایة کریمه کې فرمایي:

والذين هاجروا في سبيل الله ثم قتلوا أو ماتوا ليرزقنهم الله رزقا حسنا.

ژباړه: او هغه کسان چې دوی هجرت کړی دی په لاره د الله کې بیا دوی (د دشمن د لاسه) قتل شي او یا هم په خپل مرګ سره وفات شي خامخا به روزي ورکړي دوی ته الله سبحانه وتعالی خایسته روزي.

دغه ډول په سورة النساء ۱۰۰ نمبر ایت کریمه کې فرمایي:

ومن يخرج من بيته مهاجرا إلى الله ورسوله ثم يدركه الموت فقد وقع أجره على الله.

ژباړه: او څوک چې ووت له کور خپل څخه په داسې حال کې چې هجرت کوونکی وي الله او رسول طرف ته بیا ده لره مرګ راګیر کړي پس بې شکه واقع شو اجر د ده په الله باندې.

نو د دې ایاتونو د عموم نه معلومیږي چې د دوی په درجه کې فرق نشته نو دا دواړه شهیدان دي، وجه دا ده چې د شهادت لاره او سبب یې منتخب کړی نو ځکه یې مرتبه د شهادت ګرځي دغه ډول په (۱)مصنف ابن أبي شيبه کې د عمر رضي الله عنه نه نقل دي هغه فرمایي قال عمر، قال محمد صلى الله عليه وسلم من قتل في سبيل الله أو مات فهو في الجنة.

ژباړه: څوک چې د الله په لار کې شهید کړی شو، او یا هم په خپل مرګ سره وفات شو، نو دا شهید دی.

بل (۲) دویم حدیث دا دی مسند احمد کې د عبد الله بن عتيك نه روایت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمایل: (من خرج مجاهدا في سبيل الله فخر عن دابته أو لدغته حية أو مات حتف أنفه فقد وقع أجره على الله.

ژباړه: څوک چې د الله په لار کې جهاد کوونکی ووځي او دا بیا د خپلې سورلی نه وغورځیږي او یا یې هم مار وچیچي او یا هم په خپله بستره کې بغیر د سبب نه وفات شي، نو بې شکه اجر د ده په الله دی.

بل دریم(۳) دلیل هغه حدیث دی کوم چې أبو مالك الأشعري رضی الله عنه د نبي صلى الله عليه وسلم څخه نقل کوي چې فرمایي: من وقصه فرسه أو بعيره أو لدغته هامة أو مات على فراشه، على أي حتف شاء الله، فهو شهيد.

ژباړه: څوک د اسپ یا اوښ نه پریوځي او مړ شي او یا یې څه حشره ووچیچي او یا بې سببه په خپله بستره باندې مړ شي، او که په هرحال چې الله وغواړي مړ شي، نو دا کس شهید دی.

أخرجه الحاكم وقال: صحيح على شرط مسلم. دې باب کې نور هم ګڼ اثار او روایات موجود دي خوفعلاً پدې مقام کې دغه قدر کافی ګڼم والحمد لله رب العالمين.

باب درجات المجاهدين في سبيل الله

ژباړه: باب ثابت دی په بیان د درجو د هغو مجاهدینو کې چې هغوی په لاره د الله کې (جهاد کوونکي) وي.

حصول الأجر والثواب
بتشريح الكلمات ما فى ترجمة الباب

دلته هم د مخکې پشان د (باب) نه مخکې کلمه د (هذا) مقدر ده ټول ترجمة الباب به داسې لوستلی شي، هذا باب في بيان درجات المجاهدين في سبيل الله، يقال: هذه سبيلي وهذا سبيلي قال أبو عبد الله {غزى} واحدها غاز {هم درجات} لهم درجات (ضيافة الحواري في ذكر غرض البخاري)

يقال هذه سبيلي وهذاسبيلي ...

د امام بخاري رحمه الله غرض په دې سره هغه دا ثابتول دي چې د (سبيل) کلمه د هغې قبیلې څخه ده چې مذکر او مؤنث دواړه پکې مراد کولی شي، ځکه وایي(هذه سبيلي او هذا سبيلي)

همدا وجه چې علماء په {ليضل عن سبيل الله بغير علم ويتخذها هزوا.. لقمان ٦ } کې په يتخذها کې (ها) ضمير اياتونو د قران ته هم راجع کوي او سبيل ته هم ځکه سبيل مونث هم ده دليل وربانديې دا ايت دی {قل هذه سبيلي يوسف ۱۰۸} دغه ډول په قراءة د أبي بن كعب، رضي الله تعالى عنه: کې سورة الأعراف (۱٦۴) داسې نقل دی {وإن يروا سبيل الرشد لا يتخذوها سبيلا} او (سبيل الله) د الله هغې لارې ته وایي چې الله پرې د تلو امر کړی وي او جمع یې(سُبُل) په وزن د فُعُل راځي. قال أبو عبد الله نه مراد همدا بخاري رحمه الله

(غزى) په ضمې پیش د غَين او په تشدید د زای سره دا جمع د (غاز) ده .

او بخاري فرمايي د (...هم درجات) تفسير (لهم درجات) دی معنا يې ده (لهم منازل) يعنې دوی لپاره منزلي دي.

مطرالرحمة والسحاب بذكر مناسبة الباب مع الكتاب

دا باب د كتاب الجهاد د ابوابو په شمير سره څلورم ۴ نمبر باب دی، امام بخاري رحمه الله په دې کې دوه حديثه ذکر کوي، يو له ابو هريره او بل له سمرة بن جندب رضی الله عنهما څخه مناسبت يې د مخکې باب سره په دې ډول دی چې مخکې باب کې طلب د جهاد او شهادت ذکر شو نو دې باب کې دا خبره ذکر کوي چې جهاد کې درجې تفاوت لري، نو اوچته درجه ځانته وغواړه او مناسبت يې د كتاب الجهاد سره هم ښکاره دی، چې هغه د جهاد د فضيلت او غوروالی له وجې نه د مجاهدينو درجې دي، والله أعلم.

(۷ حديث)

(رقم الحديث ٢٧٨٩) عن أبي هريرة رضي الله عنه، قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من آمن بالله وبرسوله، وأقام الصلاة، وصام رمضان كان حقا على الله أن يدخله الجنة، جاهد في سبيل الله أو جلس في أرضه التي ولد فيها فقالوا: يا رسول الله، أفلا نبشر الناس؟ قال:إن في الجنة مائة درجة، أعدها الله للمجاهدين في سبيل الله، ما بين الدرجتين كما بين السماء والأرض، فإذا سألتم الله، فاسألوه الفردوس، فإنه أوسط الجنة وأعلى الجنة - أراه - فوقه عرش الرحمن، ومنه تفجر أنهار الجنة قال محمد بن فليح، عن أبيه: وفوقه عرش الرحمن.

ژباړه: د ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی فرمايي: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل چا چې په الله او د هغه په رسول إيمان راوړ او د لمونځ پابندي يې وکړه او د رمضان د مياشتې روژه يې ونيوله نو حق دی په الله دا چې داخل به کړي هغه لره جنت ته که جهاد يې کړی وي د الله په لار کې او که (نه يې وي کړی) او په هغه ځمکه کې ناست وي کومه کې چې پيدا شوی دی، نو صحابه وو وفرمايل ايا زيری ورنه کړو په دی سره خلکو ته نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: بې شکه په جنت کی سل (۱۰۰) درجې دي چې الله د هغو مجاهدينو لپاره جوړې کړي چې د الله لار کې جهاد کوي او د هر دوه درجو تر مابين دومره فرق دی لکه د اسمان او د ځمکې، پس چې کله هم د الله نه جنت غواړئ نو د فردوس جنت ترينه غواړئ بس بې شکه دا د جنت منځ کې دی او اعلی (اوچتې درجې والا) جنت دی (راوي شک کوي فرمايي) زما گمان دی (چې نبي صلى الله عليه وسلم وفرمايل: چې د دې فردوس جنت له پاسه د رحمن ذات عرش دی او د همدې (فردوس جنت نه) د نورو جنتونو نهرونه روان شوي دي، او محمد بن فليح د خپل پلار فليح نه نقل کړی چې بره د دې جنت نه د رحمن عرش دی.

التفكر والمراقبة فى ذكر التطبيق والمناسبة

په دې حديث کې د امام بخاري رحمه الله شيخ او استاذ هغه يحيى بن صالح الوحاظي دی، أبو زكرياء يې كنيه او الشامي الدمشقي يې نسبتي القاب دي، او الحمصي ورته هم ويل کيږي د توثيق او تعديل په باب کې د ثقةٌ په وصف موصوف دی، چې له ده نه بخاري رحمه الله دغه حديث په سند سره د ابوهريره رضى الله عنه نه ذکر کوي،

د مذکوره حديث مناسبة د باب سره صراحة هغه په مائة درجة اعدها الله للمجاهدين .....اود مابين الدرجتين ...په کلمو سره دي ځکه باب کې مطلق درجې ذکر شوي او په حديث کې د هغې اثبات او تفصيل ذکر دی چې هغه سل ۱۰۰ درجې دي والله اعلم

إغاثة المغيث بذكر شرح الحديث

(من امن بالله ورسوله) دلته اگر چې يو رسول ذکر دی نو رسولان نه دي ذکر شوي، وجه دا ده چې په دې نبي صحيح ايمان لرونکی په ټولو ايمان لرونکی گرځي له دې وجې نه چې دا نبي د نورو انبياوو د حقانيت او هغوی باندې د ايمان راوړلو دعوت ورکوي بيا دا جمله چې (وأقام الصلاة وصام رمضان). دليل دی په دې چې صرف ايمان راوړل فايده نه کوي ترڅو عمل ونه کړي نو دليل شو په دې چې اعمال په ايمان کې داخل دي، (اوجلس فى أرضه) دا دليل دی چې د جهاد په نه کولو سره سړی نه کافر کيږي هغه بيله خبره ده چې د خير نه محروميږي چې هغه حصول د هغو درجو دی چې دلته ذکر شوي دي.

شفاء الأمراض بدفع الشبهة و الاعتراض

بيا دلته سوال دا دی چې حج او زکات يې ذکر نه کړه دا ولې؟ نو ابن بطال خو دا جواب کړی چې د دې حديث د ويلو وخت کې حج او زکات نه ؤ فرض شوي نو ځکه يې نه دی ذکر کړی.

خو صاحب د تلويح په دې جواب رد کړی کوم چې علامه عينی نقل کړی دی، او هغه دا دی چې هغه فرمايي دې جواب د ابن بطال کې نظر دی او هغه دا چې زکات د خيبر نه مخکې فرض شوی وو، او ابوهريره رضی الله عنه اسلام د خيبر په کال راوړی نو ستا جواب کمزوری دی، او کرماني ويلي دي چې کيدای شي چې لا دغه وقت زکات او حج د وجوب په درجه کې نه او يا يې د تسامح په وجه نه وي ذکر کړی.

خو عيني رحمه الله د کرماني په جواب رد کوي او فرمايي چې دا هم د ابن بطال غوندې جواب دی، او هغه دا چې د جامع الترمذي په روايت کې د معاذ رضى الله عنه نه چې نقل دي هغې کې حج هم ذکر دی او په هغې کې د زکات باره کې راوي وايي (لا أدرى أذكر الزكاة أم لا.) يعنې زه نه پوهيږم چې دلته زما استاذ زکات ذکر که او که نه عمدة القارى / خو حافظ ابن حجر رحمه الله هم ترمذي والا د معاذ رضى الله عنه روايت ذکر کوي چې هغې کې حج ذکر دی دويم جواب ذکر کوي او فرمايي: وأيضا فإن الحديث لم يذكر لبيان الأركان فكان الاقتصار على ما ذكر إن كان محفوظا لأنه هو المتكرر غالبا وأما الزكاة فلا تجب إلا على من له مال.

بشرطه والحج فلا يجب إلا مرة على التراخي

ژباړه: او همدا ډول دا چې بې شکه حديث دا د ارکانو د بيان لپاره نه دی ذکر نو بس په همدې څه چې ذکر شوی په دې اکتفا شوی ده، (په دې شرط) که چيرته د دې حديث نقل محفوظ وي ځکه چې دا غالباً مکرر ذکر شوی دی، او بهر حال زکات چې دی نو دا نه واجبيږي مگر په هغه چا چې هغه په دې شرط چې مال ولري، او حج چې دی نو دا نه واجبيږي مگر يو ځلی په ځنډ سره ٦/١٢ -

(جاهد في سبيل الله أو جلس في أرضه التي ولد فيها) شارحين ليکي په دې جمله کې ارام او سکون ورکول دي هغه چا ته چې د جهاد نه محروم دي او ورته زيري دي په دې چې جنت نه محروم نه شي هغه درته په صحيح ايمان او په اداء د فرائضو هم حاصليږي، اگر چې درجې د مجاهد نه د دې مقام او درجه ټيټه او کمه ده. نو چې کله صحابه کرامو دا خبره واوريده نو طبعاً خوشحاله شو نو (فقالوا) تپوس کوي چې (يا رسول الله، أفلا نبشر الناس؟) ای د الله رسوله خلکو ته خبر ورنه کړو .. د ترمذي په روايت کې دی چې معاذ رضي الله عنه وفرمايل: چې ما ورته وفرمايل چې ای د الله رسوله (الا أخبرالناس؟) او د طبراني په روايت کې دي چې ابو درداء رضي الله عنه فرمايي: (فقلنا) يعنې مونږ وويل ...نو تطبيق ښکاره دی چې ابو هريره نه بغير نورو صحابه وو تپوس کړی دی (كان حقا على الله) د دې په شرح کې علامه قسطلاني ليکي بطريق الفضل والكرم لابطريق الوجوب.

ژباړه: يعنې دغه جنت ته د داخلولو حق الله تفضلاً او كرامةً په ذمه اخستی نه چې دا پرې واجب ده. (جاهد في سبيل الله أو جلس في أرضه التي ولد فيها) د دې جملې په شرح کې د مصابيح بعضو شراحو ويلي چې دا تسويه يعنې برابر والی دی، د شارع له طرف نه په منځ د مجاهد او غير مجاهد کې نو حافظ بن حجر پرې تعقبا ليکی.

أن التسوية ليست على عمومها وإنما هي في أصل دخول الجنة لا في تفاوت الدرجات.

ژباړه: بې شکه تسويه برابر والی په عمومي لحاظ سره نه دی بلکې اصل کې دا تسويه د جنت د دخول په باره کې ده نه په حصول د درجاتو د هغی کې ٦/١٢

(إن في الجنة مائة درجة.....) دا تعليل دی د منع او ترک البشارة ځکه مراد په دې سره معلوم شو، او هغه دا چې تاسو خلکو ته خبر مه ورکوئ ځکه که دوی په دې خبر شي نو د مفضول په حصول کې به د أفضل نه محروم شي يعنې دوی

خو به د فرائضو په عملي کولو سره جنت ته داخل شی خو د جهاد په وجه چې کوم عالي عالي درجات او مقامات دي، د هغې نه به شاته پاتې شی (و ما بين الدرجتين كما بين السماء والأرض) او د ترمذي په روايت کې دی چې (مَا بَيْنَ كُلِّ دَرَجَتَيْنِ مِائَةُ عَامٍ) چې امام ترمذي رحمه الله د هغی روايت متعلق فرمايي : هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.

او د طبراني په روايت کې دي چې (خمسمائة عام) ابن حجر فرمايي که چيرته دا طريقه محفوظ وي نو بيا د دې اختلاف تطبيق د رفتار پورې اړه لري ٦/١٣

(فإذا سألتم الله، فاسألوه الفردوس)

د فردوس په معنا کې د علماوو مختلف أقوال دي.

(۱) دا هغه باغ ته وايي چې دې کې هر قسم ونې، گلان او نباتات موجود وي.

(۲) منتزه أهل الجنة د جنتيانو پارک او تفريح گاه.

(۳) ربوة الجنة جنت کې اوچت ځای.

(۴) هغه ځای چې په هغې کې گڼ أنگور وي.

(۵) الفردوس الأودية التي تنبت ضروبا من النبات هغه لښتی چې په هغې باندې هر قسم شينكي راشنه شوي وی الغرض فردوس جنت په جنتونو کې أعلی جنت دی، نو فلهذا د دې طلب او سوال کول ضروري دي.

اللهم أرزقناها وأبوينا وأهلنا وأسرتنا وجميع إخواننا المجاهدين الأمراء والمأمورين وعامة المسلمين آمين يارب العالمين.

(فإنه أوسط الجنة) د أوسط نه مراد أفضل دى يعنې (أفضل الجنة) ځکه اوسط د أفضل په معنا هم راځي، لکه سورة البقرة ۳۴۱ کې دي چې: (وكذلك جعلناكم أمة وسطا} اية..

(خيارا) يعنې غوره او أفضل (وأعلى الجنة) يعنې عالي او أرفع معنا اوچت حيثيت لري معنوي يا حقيقة په نورو جنتونو بلند دى.

- (أراه - فوقه عرش الرحمن،) دلته دا شک د بخاري د شيخ يحى بن صالح نه شوى دى،

(ومنه) ضمير فردوس جنت ته راجع دى (تفجر أنهار الجنة) يعنې د دې فردوس جنت نه د نورو جنتونو ويالي رواني شوي او جاري شوي دي.

او حافظ فرمايي

ووهم من زعم أن الضمير للعرش.

او وهم کړى هغه چا چې ضمير يې عرش ته راجع کړى دى. [الفتح ۶/۱۳]

(قال محمد بن فليح، عن أبيه: وفوقه عرش الرحمن) په دې تعليق سره امام بخاري رحمه الله دفع د هغه شک کوي کوم چې د يحيى نه واقع شو په دې لفظ سره چې (أراه فوق ....) ځکه نورو راويانو چې دغه حديث د فليح نه روايت کړى نو هغوى په جزم سره روايت کړى دى، او دا د بخاري رحمه الله عادت دى چې حتى الوسع کوشش کوي چې حديث سالم بې عيبه پيش کوي، خو دلته اعتراض دا دى چې بخاري رحمه الله فرمايي قال محمدبن فليح ....او حال دا چې د بخاري رحمه الله د محمد بن فليح سره لقاء نده شوي نو جواب دا دى چې دغه معلق روايت بخاري رحمه الله په کتاب التوحيد د خپل صحيح کې په (باب وكان عرشه على الماء) کې بې له شکه په جزم سره د محمد بن فليح نه د ابراهيم بن المنذر په واسطې سره موصول ذکر کړى دى نو په دې بناء سره اعتراض ختم شوو والحمد لله رب العالمين.

فوائد الحديث

۱ - حديث دليل دى په دې چې جهاد اصل کې فرض کفايي دى خو بعضې صورتونو کې فرض عين ګرځي او هغه بحث مخکې تېر شوى.

۲ - د هرنيك عمل نه مخکې ايمان بالله و بالرسول لازم اوضروري دى.

۳ - چې يو انسان بلکل جهاد نه وي کړى نو هغه هم جنت ته داخلېږي خو چې ايمان يې صحيح او د اسلام په ارکانو عمل کونکى وي.

۴ - چاته په سهولت او أسانتيا بشارت او زيرى ورکول صحابه کرامو کې معمول بهاوو.

۵ - کله کله يوه حق او رښتيني مسأله د يو جايز حکمت له وجهې نه پټولى شې.

۶ - د جنت دغه عالي سل ۱۰۰ درجې صرف د مجاهدينو لپاره تيارې شوي دي.

۷ - جنتونو کې فردوس اعلىٰ او بهترين جنت دى.

۸ - جهاد ډير اوچت عمل دى ځکه نو جهاد کوونکو درجې هم اوچتې دي.

۹ - دليل دى په دې چې الله سبحانه وتعالىٰ بره دى ځکه عرش يې د آسمانونو د پاسه دى.

۱۰ - د الله سبحانه وتعالىٰ نه همېشه په سوال کولو کې بهتر او عالي شى غوښتل پکار دي.

حديث ۸

رقم الحديث ۲۷۹۰

عَنْ سَمُرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: رَأَيْتُ اللَّيْلَةَ رَجُلَيْنِ أَتَيَانِي، فَصَعِدَا بِي الشَّجَرَةَ، فَأَدْخَلاَنِي دَارًا هِيَ أَحْسَنُ وَأَفْضَلُ، لَمْ أَرَ قَطُّ أَحْسَنَ مِنْهَا قَالاَ: أَمَّا هَذِهِ الدَّارُ فَدَارُ الشُّهَدَاءِ.

ژباړه: د سمره بن جندب رضي الله عنه نه روايت دي هغه فرمايي: چې نبي صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ما نن شپه په خوب کې دوه کسان ولېدل چې ماته راغلل دواړو زه يوې ونې ته وخيجولم پس يو کور ته يې په هغې کې داخل کړم داسې کور چې هغه ډېر ښايسته او ډېر أفضل و ما بلکل د دې په شان ښايسته کور نه دى لېدلى دواړو راته وويل: چې بهر حال دا د شهداوو کور دى

التفكر والمراقبة فى ذكر التطبيق والمناسبه

په دې حديث کې د امام بخاري شيخ او استاذ هغه موسىٰ بن اسمعيل ابو سلمه المنقرى دى چې التبوذ کې ورته هم ويل کېږي د توثيق او تعديل په دنيا کې د (ثقةٌ ثبتٌ) په درجه موصوف دى بخاري رحمه الله د ده نه تر سمره بن جندب پورې دا حديث په سند سره ذکر کوې ياد دې وى چې دا حديث بخاري رحمه الله په کتاب الجنائز کې په (باب مايقال فى اولاد المشركين) کې مطول ذکر کړى دى د دې نه بغير يې په البيوع په بدء الخلق په صلاة الليل ا وپه الأدب: ا وپه الصلاة او په أحاديث الأنبياء، عليهم الصلاة والسلام، او په التفسير اوپه التعبير کې هم ذکر کړى دى بيا علماء کرام لېکي لطيفه په دې حديث کې هغه دا ده چې دا د بخاري رحمه الله د رباعياتو څخه دي يعنې د بخاري او د رسول الله صلى الله عليه وسلم ترمنځه څلور واسطې دي

بيا د ترجمة الباب سره د حديث مناسبت ښکاره او واضح دى هغه دا چې شهداوو ته د جهاد په وجه دغه شان مرتبې او درجې ورکول کېږي کوم چې په حديث کې ذکر شوي

إغاثة المغيث بذكرشرح الحديث

(رجلين أتياني ..) دا دواړه ملائکې وې چې يو جبرئل او بل مکائل عليهما السلام وو (أحسن وأفضل) دا د أوسط معنىٰ ده کوم چې مخکې حديث کې ذکر شوى نو دا حديث د هغې لپاره تفسير دس نو ګويا چې دلته يې وويل چې د أوسط نه مراد أفضل او أحسن دى قاله الحافظ بن حجر في [الفتح ۶/۱۳]، (أما هذه الدار فدار الشهداء) ددې نه معلومېږي چې د درجونه مراد دغه نعمتونه دي چې مختلف صورتونه لري چې يو د هغې څخه دغه کور دى.

فوائد الحديث

۱ - انبياء عليهم السلام هم خوبونه ويني چې دليل دى په بشريت او مخلوق والي د دوى.

۲ - د أنبياوو خوبونه وحې وي.

۳ - أنبياء په غيبو نه پوهېږي.

۴ - که څوک يوڅيز نه پېژني نو د بل نه پوښتنه کولى شي چې دا څه شى دى؟

۵ - د شهداوو درجې ډېرې أوچتې دي چې له هغې نه ښايسته او غوره درجې نورې نه شته.

رقم الباب ۵

باب الغدوة والروحة في سبيل الله وقاب قوس أحدكم من الجنة

ژباړه: باب ثابت دى په بيان د فضيلة د يو صبايي او د يو بيګايي وتلو په لاره د الله جل جلاله کې او په فضيلة د يو پاتې د لېندۍ (دځاى په مقدار) د يوکس ستاسې نه په جنت کې

حصول الأجر والثواب
بتشريح الكلمات ما فى ترجمة الباب

(باب) يعني(هذا باب) في بيان فضل (الغدوة في سبيل الله) يعني في الجهاد (وقاب قوس احدكم من الجنة) دا هم مجرور لوستل كېږي عطف دی په ماقبل باندې لوستل به يې په دې ډول وي (وفی بيان فضل قدر قوس أحدكم من الجنة) نو د ترجمة الباب دا معنىٰ امام بخاري رحمه الله وروسته دوه حديثونو کې ثابتوي او دا جمله چې (وقاب قوس ...الخ) دې کې وقابِ مجرور ويل پکار دی ځکه دا عطف دی په (الغدوة) باندې ځکه امام بخاري دې باب کې دا ثابتول غواړي چې جنت کې لږ مکان او لږ زمان د ټولې دنيا په مقابل کې غوره او بهتر دی.

مطر الرحمة والسحاب
بذكر مناسبة ترجمة الباب مع الكتاب

دا باب د کتاب الجهاد د ابوابو د عدد او شمېر په اعتبار سره ٥ نمبر باب دی امام بخاري رحمه الله به دې کې درې احاديث ذکر کوي يو د انس بن مالک بل د ابوهريره او دريم د سهل بن سعد رضی الله عنهم بيا مناسبت د دې باب د ما قبل سره په دې ترتيب دی چې مخکې باب کې د مجاهدينو درجې ذکر شوي او په دې باب کې دا خبره ذکر کېږي چې دا درجې او مرتبې د الله جل جلاله په لاره کې په لږ وخت وتلو کې هم حاصلېږي او د کتاب الجهاد سره يې مناسبت هغه هم ښکاره دی چې د الله په لار کې د جهاد او جهاد کونکي غوره والی او فضيلت دی والله اعلم

(٩ حديث)

(رقم الحديث ٢٧٩١)- عن أنس بن مالك رضي الله عنه، عن النبي صلى الله عليه وسلم قال:

لغدوة في سبيل الله أو روحة، خير من الدنيا وما فيها

ژباړه: د انس بن مالک څخه روايت دی هغه د نبی صلی الله عليه وسلم څخه روايت کوي چې نبی صلی الله عليه وسلم وفرمايل خامخا يو سهار (وتل يا تيرول) په لاره د الله کې او يا يو بيګا (شپه) دا غوره دی د دنيا او هغه څه (مال او جمال) چې په هغې(دنيا) کې دي

التفكر والمراقبة فی ذکر التطبيق والمناسبة

په دې حديث کې د بخاري رحمه الله استاذ او شيخ هغه معلّٰی بن اسد العمي البصری دی چې د تعديل او توثيق په باب کې د (ثقةٌثبتٌ) درجه لري له ده څخه دغه حديث امام بخاري رحمه الله په سند سره د انس بن مالک څخه نقل کوي بيا مناسبة د حديث د ترجمة الباب سره لفظي او معنوي دواړو طريقو سره دی. لفظي په (فی سبيل الله) او.معنوی په (خير من الدنيا....) کلمې سره دی والله اعلم

إغاثة المغيث بذكر شرح الحديث

(لغَدوةٌ) په زبر د غَين سره دا د ورځې د اول نه تر زواله پورې وقت ته وايي خو علامه جوهري فرمايي: الغدوة ما بين صلاة الغداة وطلوع الشمس، غدوه د سحر د مانځه نه د لمر د ختلو پورې وقت ته وايي بيا دغه (لغدوة) مبتدا ده او لام پکې د تاکيد دی او يا هم دا قسم دی او أصول د نحوې دی چې کله مبتدا نکره وي نو ددې تخصيص به په صفت سره کيدېشي نو تقدير دادی (لغدوة كائنة في سبيل الله ...) علامه قسطلاني فرمايي چې د ابوذر په نسخه کې چط د کهشميني نه يې روايت کړی هغې کې دغه روايت (الغدوة) معرفه ذکر شوی دی (او الروحة)، په زبر د راء سره دا د زوال نه بعد د شپې پورې وقت ته وايي بيا دلته (الروحة) عطف دی په (لغدوة) باندې او (أو) دلته د شك لپاره نه بلکې د تقسيم لپاره دی (خير) دا خبر دې د مبتدا چې هغه لغدوة ده (خير من الدنيا وما...) د دې جملې معنی قسطلاني او عيني داسې کوي.

ثواب ذلك الزمن القليل في الجنة خير من الدنيا و ماشتملت عليه.

(ژباړه: يعني ددې لږې زمانې اجر أو ثواب به د دنيا او څه چې په هغې کې دي د هغې ټولو څخه غوره وومومي [قسطلاني ٥/٣٩] [عمدة ١۴/٩٢]

فوائد الحديث

[١] دليل دی چې جهاد غوره او أفضل عمل دی.

[٢] د جنت لږ نعمت هم د ټولې دنيا څخه غوره او أفضل دی.

[٣] ترغيب دی جهاد کولو ته.

[۴] د الله په لار کې لږ وقت جهاد کول هم د الله د رضا او د جنت د حصول سبب ګرځي.

اللهم ارزقنا هما يارب

حديث ١٠

رقم الحديث ٢٧٩٢

، عن أبي هريرة رضي الله عنه، عن النبي صلى الله عليه وسلم قال:

لقاب قوس في الجنة، خير مما تطلع عليه الشمس و تغرب و قال لغدوة او روحة في سبيل الله خير مما تطلع عليه الشمس و تغرب

(ژباړه: د ابو هريره رضی الله عنه څخه روايت دی هغه د نبی صلی الله عليه وسلم څخه نقل کوي چې نبی کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل : خامخا پاتې د ليندې په جنت کې دا غوره دی د هر هغه څه نه چې لمر پرې راخيژي او ډوبيږي او ويې فرمايل خامخا يو صبايي او يا يو بيګايي وتل په لاره د الله کې غوره دي د هر هغه څه نه چې لمر پرې راخيژي او ډوبيږي.

التفكر والمراقبه فی ذكر التطبيق والمناسبة

په دې حديث کې د امام بخاري رحمه الله شيخ هغه ابراهيم بن المنذر الحزامي الأسدي دی د صدوق او حسن الحديث وصف او درجه لري ددې نه يې په سند سره دغه حديث د ابوهريره رضی الله عنه څخه روايت کړی دی بيا مناسبت او تطبيق يې د ترجمة الباب او د مخکې حديث سره لفظي أو معنوي دواړو طريقو سره په فضيلت او غوره والی د الله په لاره کې د غدوی (صبائی) او روحی (بيګايی) په وتلو سره دی والله اعلم

إغاثة المغيث بذكر شرح الحديث

(لقاب قوس ...) کې لام د تاکيد دی او دا مبتدا ده

(فی الجنة) دا صفت د (لقاب قوس) دی (خير) داخبر دی د مخکې مبتداء

(مما تطلع عليه الشمس وتغرب) مراد ددې نه ټوله دنيا ده نو دليل شو چې لمر په ټوله دنيا راخيژي د حديث ذکر شوي فوايد بعينه ددې حديث فوايد هم دي لهذا دوباره ذکر کولو ته حاجت نه شته .

حديث ١١

رقم الحديث٢٧٩٣

، عن سهل بن سعد رضي الله عنه، عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: الروحة والغدوة في سبيل الله أفضل من الدنيا وما فيها

(ژباړه: د سهل بن سعد الساعدی رضی الله عنه نه روايت دی هغه د نبی صلی الله عليه وسلم نه روايت کوي (او فرمايي چې نبی صلی الله عليه وسلم) وفرمايل:

يو بيګايي او يا يو صبايي وتل په لاره د الله کې داغوره دي د دنيا او د هاغه څه نه چې په دنيا کې دي

التفكر والمراقبه فی ذكر التطبيق والمناسبة

په دې حديث کې د امام بخاري رحمه الله شيخ او استاذ هغه قبيصة بن عقبه رحمه الله دی چې د تعديل او توثيق په باب کې د(ثقةٌ) په وصف موصوف دی چې له ده نه بخاري رحمه الله دغه حديث په سند سره د سهل بن سعد رضی الله عنه نه نقل کوي دې باب کې دا دريم حديث دي د ترجمة الباب او د مخکې حديث سره يې مناسبت په لفظي او معنوي طريقې دواړو سره دی.

شرح الحديث

د دې دواړو حديثونو د الفاظو شرح فوائد د دې باب په لومړي حديث کې ذکر شوي دي دوباره ذکر کول به يې د تکرار له قبيلي څخه وي.

حسن المأب فی خلاصة أحاديث الباب

په دې باب کې بخاري رحمه الله درې أحاديث راوړي.

(١) حديث د أنس بن مالك

(٢) حديث د أبوهريره

(٣) حديث د سهل بن سعد: رضی الله عنهم أجمعين دي چې د ترجمة الباب سره جلي ښکاره او بديهي مناسبتونه لري، کوم چې مخکې ذکر شوي دي، والله أعلم .

علامه قسطلانی رحمه الله د دې باب د ټولو درې واړه احاديثو خلاصه حاصل ذکر کوي او فرمايي: والحاصل من أحاديث هذا الباب أن المراد تسهيل أمر الدنيا وتعظيم أمر الجهاد وأن من حصل له من الجنة قدر سوط يصير كأنه حصل له أعظم من جميع ما في الدنيا فكيف بمن حصل له منها أعلى الدرجات.

ژباړه: او حاصل د دې باب د احاديثو هغه دا دی چې مراد په دې سره د دنيايي أمورو بې قدري او د جهاد تعظيم او عزت ثابتول دي، او بل دا چې هر چا چې جنت کې ورته د يو چابک په مقدار سره ځای ميلاؤ شي، نو ګويا چې ده ته ټول هر هغه څه چې په دنيا کې دي د هغې څخه غوره او بهتر ميلاو شو، نو د هغه چا به کومه مرتبه أو مقام وي چې جنت کې ورته د دې څخه أعلی درجې حاصلی شي شرح [القسطلانی ٥/٣٩] د دې دواړو حديثونو فوائد د دې باب په لومړي حديث کې ذکر شوي دي، دوباره ذکر کول به يې د تکرار له قبيلي څخه وي، والحمد لله رب العالمين.

باب الحور العين وصفتهن يحار فيها الطرف شديدة سواد العين شديدة بياض العين وزوجناهم أنكحناهم

ژباړه: باب ثابت دې په بيان د سپينو غټو سترګو والا زنانه وو او د دوی په صفاتو کې چې د داسې صفاتو والا دي چې نظرونه ورته په حيرت (حيرانتيا) پاتې کيږي، تور د سترګو يې زيات تور او سپين يې زيات سپين وي او د زوجناهم معنا انكحناهم ده.

حصول الأجر والثواب
بتشريح الكلمات ما فی ترجمة الباب

(بابٌ) دلته هم د مخکې غوندې نکره دی نو خبر دی د مبتدا محذوفي چې هغه (هذا) إسم إشاره ده يعني(هذا باب في بيان الحور العين وبيان

صفتهـن) بيا په بعضې نسخو د بخاري کې د {بابٌ} لفظ نشته صرف (الحورالعين) ذکر دي نو په دې بنياد سره بيا (الحور العين) مرفوع مبتدا او خبر يې محذوف دی چې هغه (ماذکر في هذا الأحاديث) نو ټول عبارت به داسې وي.

الحور العين وصفتهن ماذكر في هذه الأحاديث وزوجناهم انكحناهم.

دې سره يې اشاره ده د سورة الدخان ۴۵ نمبر ايت ته چې الله سبحانه وتعالی فرمايي: وكذلك زوجناهم بحورعين. نو دا هم يو مناسبت دی د ترجمة الباب سره چې دغه حيرانوونکي حورې به الله سبحانه وتعالی جنت کې مؤمنانو ته په نکاح باندې ورکوي، والله اعلم.

فَرحة القلوب والسرور بتذكرة معنى الحور

دې فصل کې غواړو چې په توفيق د الله په ترجمة الباب کې د ذکر شوي(حور) د لفظ معنا او مفهوم ذکر کړو، حور په ضمي پيش د (حا) دا جمع د حوراَء ده او په حوراوات سره هم جمع کيږي بيا دا خبره هم ياد ساتئ چې د دې حور لفظ استعمال په ډيرو معناګانو سره راځي.

(۱) حور اصل کې په لغة کې(بياض) سپين والي ته وايي دا قرطبي د ابن عون نه نقل کړي او عامه اصطلاح د علماوو کې حور ديته وايي چې د سترګو تور يې خالص تور او سپين يې خالص سپين وي او دا معنا ابن ابی الدنيا رحمه الله د حسن بصری رحمه الله نه هم نقل کړي، وګوره [صفة الجنه رقم الأثر ۳۰۳]

او دا هم ويل شوي چې سترګې يې ټولې تکي تورې وي لکه د غرڅنۍ او د غوا پشان د دې قول والا بيا دا هم وايي چې انسانانو کې حور نه شته البته دې زنانه وو ته حور د مشابهت د وجې نه ويل شوي د غرڅنۍ او غوا سره او دې باره کې دا هم ويل شوي چې حور دې ته وايي چيې سپين د سترګو يې د تور د سترګو نه ښايسته تاو شوي وي، مشهور لغوي علامه الأصمعی رحمه الله فرمايي حور سپين والي ته وايي ځکه أعرابيان د ښارونو زنانه وو ته حواريات وايي (لبياضهن وتباعدهن عن قشف الأعرابيات بنظافتهن) يعنې کوچيان د ښارونو اوسيدونکو زنانه وو ته حواريات وايې، د وجې د سپين والي او د لري والي د هغوی د هغو خيرو نه او د هغه پاك والي په وجه چې د کوچيانو د زنانه وو نه وي.

(۲)دغه ماده په نصرت او خيرخواهي کولو کې هم استعمال شوي لکه د صحيح البخاري روايت کې دي کوم چې د جابر بن عبدالله نه نقل دي چې نبي صلي الله عليه وسلم وفرمايل: إِنَّ لِكُلِّ نَبِيٍّ حَوَارِيًّا وَحَوَارِيَّ الزُّبَيْرُ " ، قَالَ سُفْيَانُ : الْحَوَارِيُّ : النَّاصِرُ .

دغه ډول قران کې هم دغه معنا استعمال شوي .قال الحواريون نحن انصارالله ....الآية

(۳)دغه ډول دا ماده د رجوع او واپسي په ځای هم استعمال شوي ده.

قرطبی د ابن عباس رضی الله عنه نه نقل کړی چې هغه وفرمايل: ما كنت أدري: ما يحور؟ حتى سمعت أعرابية تدعو بنية لها: حوري، أي ارجعي إلي.

ژباړه: وايي ماته علم نه وو په دې چې د (يحور) لفظ څه معنا ده تر دې چې د يو اعرابي نه مې واوريدل چې هغه خپلې لور ته اواز کولو چې [حُوری] يعنې راواپس شه ما ته، نو قرطبي رحمه الله فرمايي: فالحور في كلام العرب الرجوع.

ژباړه: نو حور د عربو په کلام کې رجوع ته ويلی شي او بيا فرمايي ومنه قوله عليه السلام:" اللهم إني أعوذ بك من الحور بعد الكور" يعذې: من الرجوع إلى النقصان ....ژباړه: او له همدې څخه قول د نبي صلی الله عليه وسلم دې چې فرمايي: ای الله زه په تاه پناه نيسم د حور نه وروسته له کور نه يعنې وروسته د رجوع او واپسي کولو نه نقصان ته. [تفسير القرطبی ۱۹/۲۷۳]

(۴) دغه ډول د حور دا ماده د نقصان او هلاکت په معنې کې هم استعمال شوي لکه د عربو مشهور متل دی(حور فی محارة) يعنې په نقصان کې نقصان يا دا چې (إنه في حور وبور) يعنې دغه کس په نقصان او هلاکت کې دی.

(۵) دا د حور ماده د حيرت او حيرانتيا په معنا هم استعمال شوي لکه څنګه چې امام بخاري رحمه الله په ترجمة الباب کې دغه ذکر کړي ده او دا معنا د امام مجاهد رحمه الله نه هم نقل ده چې هغه فرمايي: الحور يحار فيها الطرف من رقة الحلل وصفاء اللون.

حور هغې ته وايي چې نظر پکې حيرانيږي د نازک او نرم لباس او صفا رنګ د وجې نه او دا د اسامه بن زيد بن اسلم نه هم نقل ده وګوره صفة الجنة لإبن أبي الدنيا رقم الأثار [۳۰۱ _ ۳۰۲] دغه د حور لفظ دغه ماده په نورو معنا وو کې هم استعمال شوی ده، الغرض حور لفظ مختلفې معناګانې لري چې بعضې له هغې څخه په مراد او مفهوم کې مترادفې دي، مثلا حورې زيات سپين مخونو والا حسينو زنانه وو ته وايي حور د غټو او ښايسته سترګو والا ته وايي، حور ديته وايي چې نظرونه ورته په کتو سره تحير حيرانتيا کې واقع کيږي، نو تر دې ځايه خو دغه معناګانې درې واړه په حورو کې موجودي دي، ځکه ښايسته او د غټو سترګو او سپين مخونو والا دي چې انسان ورته په کتو سره په تعجب او حيرانتيا سره پاتې کيږي او ولې به داسې نه وي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم يې په اړه فرمايي: لِكُلِّ امْرِئٍ زَوْجَتَانِ مِنَ الْحُورِ الْعِينِ يُرَى مُخُّ سُوقِهِنَّ مِنْ وَرَاءِ الْعَظْمِ وَاللَّحْمِ.

ژباړه: او د هر جنتي لپاره به دوه بيبيانې وي د الحورالعين څخه چې د پنډۍ د هډوکي ماغزه به يې د هډوکي او غوښې نه بهر ښکاريږي. [اللهم ارزقناها يارحمن الدنيا والاخرة] صحيح البخاري رقم الحديث ۳۰۳۲

دغه ډول د حور په صفت کې د (العين) لفظ وضاحت هم مطلوب دی او هغه دا چې

العين) ، په کسری (زير) د عين او سکون (غړوندي) د يا سره جمع د عيناء، ده او دا وايي الواسعة العين، يعنې پراخ والي او غټ والي د سترګو ته وايي او دا جمع په أصل کې په ضمي (پيش) د عين سره وه خو حالانکې يا وروسته د عين د لفظ نه راغله نو د ثقل او بل له دې کبله چې دغه يا د ځان نه مخکې کسره غواړي کومه چې تقاضا د حروف لين ده نو ځکه د عين لفظ ته کسره زير ورکړل شوه [ملخصا من عمدة القاری ۱۴/۹۳]

مطر الرحمة والسحاب

بذكر مناسبة ترجمة الباب مع الكتاب

دا باب د کتاب الجهاد د ابوابو د عدد او شمارې په اعتبار سره شپږم ٦ باب دی امام بخاري رحمه الله په دې کې دوه احاديث ذکر کوي چې دواړه يې له انس بن مالک رضی الله عنه څخه په سند سره نقل کړي دي، د مذکور باب مناسبة د کتاب الجهاد سره د الشهيد ..او فضل الشهادة په کلمو سره دی چې دلالت دی په فضيلت د جهاد او مقام د مجاهد

حديث ۱۲

رقم الحديث ۲۷۹۴

أنس بن مالك رضي الله تعالى عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم قال ما من عبد يموت له عند الله خير يسره أن يرجع إلى الدنيا وأن له الدنيا وما فيها إلا الشهيد لما يرى من فضل الشهادة فإنه يسره أن يرجع إلى الدنيا فيقتل مرة أخرى.

ژباړه: له أنس بن مالك رضي الله عنه نه روايت دی چې هغه له نبي صلى الله عليه وسلم څخه روايت کوي چې هغه وفرمايل: نه شته يو بنده چې هغه مړ کيږي او ده ته د الله سره ښه بدله وي او دي خوشحال شي په دې چې دا واپس دنيا ته راشي او ده ته دی دا دنيا اودد دې ټول مالونه ورکړل شي (يعنې دا به هرګز ونه کړي) مګر شهيد (چې دا به واپس دنيا ته راتلل خوښ کړي) د وجې د هغه (عزت) نه چې ده د شهادت په فضيلت کې ليدلی دی نو پس دا خوشحالوي دا چې واپس دنيا ته راشي او دويم ځل قتل (شهيد) کړی شي.

التفکر والمراقبة فی ذکر التطبيق والمناسبة

په دې حديث کې د امام بخاري رحمه الله شيخ او استاذ هغه عبدالله بن محمد بن عبدالله بن جعفر بن اليمان الجعفی دی چې په المُسندي سره هم شهرت لري.

چې د تعديل او توثيق په دنيا کې د (ثقةٌ حافظٌ) په درجه او صفاتو سره ياديږي د هغه نه دغه مذکور حديث په سند سره د انس بن مالک نه نقل کوي.

درنو لوستونکو! د امارت په نوم د طالب ملېشو د تنظیم اوس هر کفر په ډاګه شوې، او د دوی ناکامه هڅه داده چې خپل هر کفر توجیه کړي، خپله هره کفري کړنه د شریعت یو حکم وګڼي، چې د دغه کفري کړنو له ډلې یوه هم کفارو سره د سولې په نوم کفارو ته د تسلیمۍ تړون دی، دوی دغه ذلیله کړنه په اسلام او مسلمانانو معامله د حدیبیې د سولې سره مقایسه کوي مونږ به هڅه وکړوکه څه هم خبره ډېره ښکاره ده او د هیڅ ډول توجیه، مقایسې او مقارنې وړ نه ده خو بیا به هم په همدې مقاله کې د حدیبیې د مبارکې سولې او په دوحه کې کفارو ته د طالب ملېشو د تسلیمیدو د تړون مقارنه وکړو په دې به رڼا واچوو چې د حدیبیې د سولې لاس ته راوړنې څه وې او د طالبانو د تسلیمۍ تړون اسلامي امت ته کوم زیانونه ورسول، د ډېرى کسانو سره دا پوښتنه ده چې د طالبانو د تسلیمۍ او د رسول الله صل الله علیه وسلم او قریشو ترمنځ دشوې تړون صلحه حدیبیې فرقونه واضح شي .
طالبان کفارو ته د تسلیمۍ د تړون د تایید لپاره د حدیبیې سوله په دلیل کې وړاندې کوي نو د دوحې د تړون او د حدیبیې د سولې په تړاو مو دغه لنډې ،مقارنوي او تحلیلي مقالې ته پام راګرځوم :
لومړې به په مقدمه کې د اسلام د سیاسي نظام په اړانه کې به په دې خبره وکړو چې د حدیبیې په سوله ، کومې ستراتیژۍ (دعوت ، د اسلام قلمرو پراخوالی او جهاد) ددې په پایله کې پرمختګ وکړ ،که په ټپه ودرید ، پایلې یې څه وې له دغه دریو ستراتیژیو کومه یوه یې د حدیبیې په سوله کې تطبیق شوه ؟
لکه څنګه چې تاسې ته مالومه ده چې د اسلام په سیاسي نظام کې کفارو سره سولې او خبرو ته هغه وخت اجازه شته دی چې د درې استراتژیو (دعوت ، د اسلامی نظامی قلمرو پرمختګ او قتال) ته زمینه مساعده شي او یا پکی پرمختګ وکړي .
مجاهدینو ورونو ! یوه خبره ضرور ده چې د حدیبیې د سولې او د طالب د تړون بحث ته ورننوځو له هغې مخکې پرې رڼا واچوو تاسې پوهیږئ ،چې یو د اسلام د سیاسي نظام ساختار دی او یو د اسلام د سیاسي نظام تطبیق دی .
د اسلام د سیاسي نظام په ساختار کې خارجي دیپلوماسی تطبیق ته هغه وخت اجازه شوې ، چې دغه دوه شرایط پوره کړو .
۱: یو نظامي قوت او پراخه ملاتړ درلودل
۲: بل قوي داخلي نظام او نظم درلودل .
لکه رسول الله صلی االله علیه وسلم چې کله د حدیبیه په طرف روان شو مدینه کی داخلي قوي او مستقل نظام برابر کړی وه، چې بار بار ټولو کفارو سره هم لاس او ګریوان شوی وه او هم یی په بدر او احد او نورو غزواتو کی کفارو ته د خپل قوت نمایش وړاندې کړی وه .
او همداسې یي یو مجهز فوج هم تیار کړی وه.
د یو مثال په لړ کې به یې واضحه کړو چې په دې مسله تاسې لا زیات دقیق پوهه شئ .
: یو انجینر دې د یو تعمیر نقشه جوړوي ، ډیزاین کوي یي، برابروي يي ،د تعمیر ټولې خواوې سنجش کوي، څېړي یي او طرحه کوي یي .
اوس که ما او تا دا نقشه ووینو او خبره پرې وکړو، ټولې خواوي یی وڅیړو، نو هیڅ عیب په کې په ظاهر کې نه وینو .
له مختلفو اړخونو دا یو کامل نقشه ده د طرحې ، قوت ، ساختمان ، مقاومت او ټولو اړخونو له نګاه څخه مکمل ده . اوس نو ددې نقشې د عملي تطبیق لپاره لومړې څه شي ته ضرورت دی ؟
: بودیجې ته .
اوس نو پوهه شو چې نقشه کې هیڅ عیب نه شته ،خو خپله نه تطبیقیږي یانې ددې غوره نقشې تطبیق بودیجې پورې تړاو لري، چې بودیجه نه وي ، نو دا ښه او غوره نقشه به همداسې بیکاره پرته وي ..
اسلام سیاسي نظام کی هم همدا خبره ده، چې ته هغه وخت د سولی خبری کولی شې، چې تا یو بودیجه عیاره کړې وي، چې دا بودیجه د اسلام سیاسي نظام کی دوه بخشونه لري: قوت(فوج) مستقل نظام چې د هیچ کافر اثر وربندی نه وي، یعنې اسلام یو خپل قوت تر لاسه کړی وي او هر بخش کې مستقل نظام ولري.
نو ځکه هغه وخت ما او تاته اسلام اجازه راکوي چې زه او ته خارجي دیپلوماسي مطرح کړو او یا د دریو ستراتیژیو د تطبیق مرحله شروع کړو چې ما تا او د بودیجې دغه دوه شرایط پوره کړي وي چې هغه نظامي ملاتړ او داخلي نظم دي .
اوس راځو د سولې اړوند مسلې ته مختصر کتنه کوو

د حدیبیې صلحه

لومړې باید په دې پوهه شو، چې کفارو سره سوله کول ، اصلي هدف دا نه دی ،بلکې دا زموږ او ستاسې اهدافو ته د رسیدو یوه وسیله او لاره ده ، یانې هغه وسیله ده چې موږ او تاسې اصلي هدف ته پرې رسیږو ، یانې د مجاهدینو دا دومره زحمتونه ، ولږې ، تندې ، بې کورۍ ، تکلیفونه ، زندانونه ، زخمونه او شهادتونه او نور ، ډول ډول کړاونه ددې لپاره دي چې اخر کې دې مجاهدین کفارو سره سولې ته ورسیږي ؟
نه ددې قربانیو او کړاونو د تیرولو هدف دا نه دی .
د اسلام په سیاسي نظام کې کفارو سره سوله یو اضطراري حالت دی ، یو موقت حالت دې اصل هدف دا نه دی که زه او ته کفارو سره یو وخت سوله کوو نو ددې لپاره یي کوو چې له دې لارې خپل اصلي اهداف ترلاسه کړو زما او ستا اصلي هدف څه دی ؟
د اسلام د سیاسي نظام په ساختار کې کلي اهداف د مجاهدینو د کلمې لوړاوي ، د اسلامي امت او د جهاد د لوړو منافعو او ګټو ساتل او لاس ته راوړل دي .
د اسلام په سیاسي نظام کې سوله اصل نه دی ، یانې یو داسې رکن نه دی چې ددې په نه کولو زما او ستا اسلام نیمګړی دی او یا ما او تا اصلي هدف ته نه شو رسیدلای .
طالبانو دې خبرې ته ډېر زور ورکړی چې زمونږ سوله د نبي علیه السلام د مبارکې صلحې حدیبیه په څیر ده ، طالبان خپلې سولې ته شرعي رنګ ورکوي او ډېر په تکلف سره دا ثابتول غواړي، چې امریکایانو سره د سولې په نوم روانه پروسه د اسلامي نظام د قیام تمثیل دی، خو حقیقت دا دی چې دا

سوله سراسر په غیر مشروعه بنیادونو باندې ولاړه ده او د ملت د قربانیو په سر سودا ده.

ورونو! اسلام یو مکمل ظابطه حیات الله عزوجل مونږ ته رالیږلې، چې تر قیامته د هرې یوې لویې او وړې قضیې بیان پکې په احسنه توګه موجود دی، داسې جامع کلیات شریعت بیان کړي چې د مسائلو هیڅ فرد ترې خارج نه دی، الله عزوجل دا اعلان کړی دی:
{الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينًا} [المائدة: 3]

ژباړه: نن ورځ ما ستاسې لپاره ستاسې دین پوره کړ او په تاسې مې خپل نعمت تمام کړ، او اسلام مې ستاسې لپاره دین خوښ کړ.

تر دې پورې چې مشرکانو به صحابه وو ته طعنه ورکوله چې ستاسې رسول تاسې ته د هر څیز بیان کوي تر دې چې د استنجا چل هم درته ښايي:
عَنْ سَلْمَانَ، قَالَ: قِيلَ لَهُ: قَدْ عَلَّمَكُمْ نَبِيُّكُمْ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلَّ شَيْءٍ حَتَّى الْخِرَاءَةَ (وَهُمْ يَسْتَهْزِئُونَ بِهِ في رواية مسند أحمد)قَالَ: فَقَالَ: أَجَلْ لَقَدْ نَهَانَا أَنْ نَسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةَ لِغَائِطٍ... صحيح مسلم

ژباړه: سلمان فارسي وايي، هغه ته وویل شول: تاسې ته ستاسې نبي علیه السلام د هر څه ښودنه کړې، تر دې چې د اودس ماتي چل يې درته هم ښودلی (بل روايت کې راځي چې هغوی ټوقې کولې) هغه ورته وفرمایل: هو، یقینا هغه صلی الله علیه وسلم مونږ د اودس ماتي پر وخت قبلې طرف ته مخ ګرځولو څخه منعه کړي یو.

هغه کومه مسئله ده چې اسلامي شریعت کې نده بیانه شوې، راځئ د ابو ذر رضي الله عنه څخه یې واورو:
عَنْ أَبِي ذَرٍّ، قَالَ: تَرَكَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَمَا طَائِرٌ يُقَلِّبُ جَنَاحَيْهِ فِي الْهَوَاءِ، إِلَّا وَهُوَ يُذَكِّرُنَا مِنْهُ عِلْمًا، قَالَ: فَقَالَ: صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَا بَقِيَ شَيْءٌ يُقَرِّبُ مِنَ الْجَنَّةِ، ويُبَاعِدُ مِنَ النَّارِ، إِلَّا وَقَدْ بُيِّنَ لَكُمْ». المعجم الكبير للطبراني.

ژباړه: ابوذر رضی الله عنه وايی: مونږ رسول الله صلی الله علیه وسلم پداسې حال کې پریښې یو چې نشته یو مارغه چې په هوا کې وزرې اړوي راړوي مګر هغه مونږ ته د ده علم هم بیان کړی. نبي علیه السلام وفرمایل: ندی پاتې هیڅ یو شی چې جنت ته مو نږدې کوي او د جهنم څخه مو لرې کوي، مګر تاسې ته بیان شوی دی.

همدا خبره قرآن کریم کې رب فرمایلې ده: وَمَا مِنْ دَابَّةٍ فِي الْأَرْضِ وَلَا طَائِرٍ يَطِيرُ بِجَنَاحَيْهِ إِلَّا أُمَمٌ أَمْثَالُكُمْ مَا فَرَّطْنَا فِي الْكِتَابِ مِنْ شَيْءٍ ثُمَّ إِلَى رَبِّهِمْ يُحْشَرُونَ. [سورة الأنعام:38]

ژباړه: په ځمکه کې خوځیدونکې کوم ساکښ او په هوا کې په وزرونو سره الوتونکي مارغه، دا ټول همدا ستاسې په څیر انواع او ډولونه دي. مونږ پدې کتاب کې د هیڅ شی کمی ندی کړی، بیا به هغو خپل رب ته ورغونډیږي.

غرض مې دا دی چې کوم دین په اړه رب لایزال دا اعلان کړې وي، چې کامل دی، کوم دین کې چې د استنجاء مسائل په تواتر سره ثابت وي، کوم دین کې چې په هوا کې د مارغانو مسائل هم بیان شوي وي، نو آیا هغه دین کې به د نظام چلولو مسائل او قوانین په کامله توګه نه وي بیان شوي ؟

عزتمندو! خامخا بیان شوي دي، نو مونږ تاسې به د طالبانو هر سیاسي فعالیت د شریعت تلې ته اچوو، که برابر و، ډیره خه ده او که برابر نه و، نو دغه عمل او دغه فعل به مردود وي.

سوله په شریعت محمدي کې په اجماع د مسلمانانو سره روا ده، خو په خپلو معتبرو شرطونو سره. الله عزوجل فرمايي: ({وَإِنْ جَنَحُوا لِلسَّلْمِ فَاجْنَحْ لَهَا} [الْأَنْفَال: 61])

کچیرې هغوی (کافر) سولې ته غاړه کیږدي نو ته هم ورته غاړه کیږده.

نو د طالبانو سوله به هم د کتاب او سنت په تله باندې وتلو.

تنبیه: دا خبره یاد ساتل پکار دي چې طالبانو کې لسګونه نواقض موجود دي، نو که دا یوه سوله یې په شریعت برابره هم شي، نو هیڅ فائده نه ورکوي. دوی پرې نه مسلمانیږي، خو د دومره نواقضو سره د طالبانو څخه هیڅکله د شرعي سولې تمه هم نه کیږي.

زمونږ دعوه دا ده چې د طالبانو سوله غیر شرعي بلکې د کفارو سره موالات، ارتداد او تسلیمي ده، او د نبي علیه السلام مبارکې سولې سره زیات توپیرونه لري، ځینې یې مونږ د الله په توفیق سره ذکر کوو.

*د هجرت په شپږم کال د ذوالقعدې په میاشت کې رسول الله صلی الله علیه وسلم خوب وکتلو چې عمره به کوي، په دې اړه یې د صحابه و سره مشوره وکړه، صحابه خوشاله شول، بس د عمرې په نیت یې مکې ته حرکت وکړ، د سولې په نیت یې حرکت نه دی کړی، یانې داسې نه وه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ګنې له مدینې څخه د سولې په نیت روان شو او له پیله یې غوښتل چې لاړ شي او هلته قریشو سره سوله وکړي، نه، بلکې نیت یې عمره کول وو، ځکه یې د عمرې په نیت حرکت وکړ، چې په مدینه کې شته منافقین ورسره په همدې خاطر ولاړل نه شول، هغوی فکر کاوه چې دوی سره اسلحې دي دا عمرې ته نه ځي د جنګ نیت لري، د مکې په قریشو ځان خرابوي، که چرته رسول الله صلی الله علیه وسلم د سولې په نیت حرکت کړی وي نو بیا به خبره ښکاره وه او بیا به منافقینو ته همدا مالومات شوی و، چې راځه نو هسې هم سوله کوي ته به هم لاړ شي د مسلمانانو منځ کې به دې حېثیت لوړ شي، هغه د چا خبره د قصاب په دوکان نه بلکې د حلوايي دوکان ته تلل دي .

طالب ملېشې چې اکثره د خپلو کړنو لپاره کوم دلایل وړاندې کوي فقط عناوین وړاندې کوي، نور یې جزياتو ته نه ورځي لکه خپل د تسلیمي تړون د سولې حدیبیې سره مقایسه کوي خو نور د حدیبیې د سولې جزيات او شرایطو ته نه ورننوزي ځکه که ورننوتل خپله بیا همدا د حدیبیې سوله د دوی په دې تړون د رد ستر دلیل دې دوی فقط خلکو ته په سترګو کې د خاورو وراچولو په خاطر همداسې عمومي وايي چې د حدیبیې په سوله کې رسول الله صل الله علیه وسلم د مشرکینو ځینې شرایط منلي و، نو موږ ته هم لازمه ده چې د کفارو شرایط ومنو .

نو راځئ! مخکې له دې چې دغه بحث ته ننوزو لومړې به د حدیبیې په سوله وغږیږو ان شاءالله .

د حدیبیې سوله د هجرت په شپږم کال وشوه، لکه مخکې مو وویل چې رسول الله صل الله علیه وسلم له مدینې څخه د عمرې په نیت وخوځید، کله چې مکې ته نیږدې د (صنعې) مقام ته ورسید نو په همدغه ساحه کې د رسول الله صل الله علیه وسلم اوښه (قسوه) پریوتله ،صحابه و کوشش وکړ چې اوښه اوچته کړي خو ونه توانیدل فکر یې وکړ چې ستړې شوې ده نو صحابه و، وویل اوښې ته نور مزل سخت شوې او ستړې شوې ده نو رسول الله صل الله علیه وسلم ورته وفرمایل :

ژباړه : اوښې ته مزل نه دې سخت شوې او نه یې دا عادت دی، بلکې دا هغه ذات بنده کړې ده چې فیل یې بند کړې و)

ددې مقصد دا و چې الله عزوجل نه غوښتل چې نبي علیه السلام له دې ځایه نور مخ ته لاړ شي، د نبي علیه اسلام او ابرهه ترمنځ یې تشبه مقصد نه ده، مکې ته له تللو یې لکه څنګه چې فیل منعه کړې و، دغسې یې دا اوښه هم منعه کړه .

بیا نبي علیه السلام اوښه پاڅوله او حدیبیې ته یې روانه کړه او دوی ټول بیا حدیبیه کې راټول شول، د بخاري په یو روایت کې دي چې نبي علیه

السلام يوه خبره وکړه ويې فرمايل: والذي نفسي بيده لايسالون ...
ژباړه: قسم په هغه ذات چې زما روح يې په لاس کې دی، دوی به له ما څخه د داسې يو خصلت غوښتنه نه کوي چې په هغې سره دوی د الله تعالی د محارمو تعظيم کوي، د بيت الله او د حرم تعظيم کوي، مګر زه به يې ورسره منم.

نو نبي عليه السلام د اوښې له پريوتلو دا خبره فهم کړه چې مکې ته بغير له سولې نه شي داخليدلی نو ځکه يې دا خبره وکړه، کله چې حديبيه کې راټول شول نو د خذاعه له قبيلې ورته څه خلک لومړي راغلل، دغه خلکو په جاهليت کې د بنو هاشمو سره دوستي تيره شوې وه، په دغه وفد کې يو کس و چې نوم يې بديل بن ورقه الخذاعي و،همده ته نبي عليه السلام د مکې والا لپاره پيغام ورکړ، ځکه د مکې خلک په همدې نيت راټول شوي و، چې مکې ته د نبي عليه السلام د ننوتلو مخه ونيسي، د طايف والا، غطفان والا ياني ټول راټول شوي و، نبي عليه السلام بديل ته وويل چې مکې والاو ته ووايه چې موږ د جنګ په نيت نه يو راغلي بلکې د عمرې په نيت راغلي يو، قريش هسې هم ضعيفه شوي دي، که د دوی خوښه وي نو زه به دوی سره سوله وکړم، ما دې پريږدي چې د نورو مشرکينو سره حساب وکړم، او که داسې نه کوي نو قسم په هغه ذات چې زما روح يې په لاس کې دی زه به په دې دين دوی سره تر مرګه وجنګيږم، بُديل د مکې خلکو ته د رسول الله صلی الله عليه وسلم پيغام يووړ، د مکې بيوقوفانو د پيغام اوريدل نه غوښتل خو هوښيارانو يې وويل: پيغام يې راواوروه بيا بُديل ورته وويل: رسول الله صلی الله عليه وسلم وايي چې که تاسې ماسره تر يو وخته سوله وکړئ او ما پريږدئ چې د نورو مشرکينو جنګ ته فارغ شم او که داسې نه کوئ، نو قسم په الله چې تاسې سره جګړې ته تيار يم.

نو د قريشو په منځ کې عروه بن مسعود الثقفي رض الله عنه چې هغه وخت يې ايمان نه و راوړی وويل: دا خو د خير خبره ده، ورسره يې ومنئ او ماته اجازه راکړئ چې زه د رسول الله صلی الله عليه وسلم څنګ ته ورشم. بيا ورته مشرکينو اجازه ورکړه، چې کله د نبي عليه السلام څنګ ته راغی نو نبي صلی الله عليه وسلم دې ته هم همغه خبرې وکړې کومې يې چې بُديل ته کړې وې، قريش پوهيدل چې دوی د جنګ وړتيا نه لري.

نو سوله هلته ممکنه ده چې دواړه لورې په قوت کې يو شان وي، که چرته کمزوری له زورور سره سوله کوي نو زورور به پرې خپل شرطونه خامخا مني.

نو قريشو ته دا مالومه وه چې اوس مسلمانان هغه پخواني مسلمانان نه دي بلکې اوس د نبي عليه السلام قوت له دوی زيات دی، دوی د نبي عليه السلام د لښکرو سره د هجرت په دويم، دريم او څلورم کال هم جنګونه کړي و، د مسلمانانو د قوت اندازه ورته شوې وه او ددې جګړو په لړ کې دوی کمزوري شوي و، ځکه يې نو له مجبورۍ سولې ته غاړه کېښوده.

مسلمانان همغسې په خپل قوت د الله په فضل مطمين و، هغه وخت يې هم ټيټه خبره نه کوله، له دې هم د مسلمانانو د هغه مهال لوړ مورال او قوت معلومولی شئ،کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم عثمان رضی الله عنه وليږه، چې هلته قريشو سره خبره وکړي، کله چې عثمان رضی الله عنه لاړ او لږ وخت يې هلته زيات تير کړ نو دلته د صحابه ترمنځ دا ګنګوسې شوه چې عثمان رضی الله عنه يې شهيد کړی، نو داسې نه شوه چې بس خبره ختمه شوه او صحابه ويريدل، چې ياره موږ خو کمزوري يو، عمرې ته راغلي يو، بيا به بل کال ته په قوت سره په پوره تياري سره راشو، بس ځئ بيرته وګرځئ ،نه، بلکې د الله رسول صلی الله عليه وسلم صحابه راټولوي او په مرګ ترې بيعت اخلي،

لَقَدْ رَضِيَ اللَّهُ عَنِ الْمُؤْمِنِينَ إِذْ يُبَايِعُونَكَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ فَعَلِمَ مَا فِي قُلُوبِهِمْ فَأَنزَلَ السَّكِينَةَ عَلَيْهِمْ وَأَثَابَهُمْ فَتْحًا قَرِيبًا ﴿18﴾

ياني په مرګ بيعت اخلي چې په دې بيعت يې الله عزوجل راضي او خوشاله کيږي، داسې نه ده چې عثمان رضی الله عنه پريږدي او دوی ځي، چې څه بل کال ته به سره له امادګۍ راشو، نه بلکې ټول په مرګ بيعت کوي چې يا به د عثمان انتقام اخلو او يا به پرې ټول ځانونه شهيدانوو.

خو د طالبانو نه تپوس وکړئ چې د صلحې جريان او د صلحې نه روسته يې همدې ماتې امريکار څو ځله په سر سر وويشتلی او څومره يې درته مرداران کړل ته د کوم خپل دوست او ملګري لپاره هم تندی کفارو ته تريخ کړه کنه؟

ورونو! دلته مو دې خبرې ته پام راګرځوو ،چې د طالبانو خبرې امريکايانو سره دا خو بيخي په صلحه حديبه باندې نه قياس کيږي، دا خبرې او تړون هغه پشنهاد باندې قياس کيږي، کوم پشنهاد چې په لومړيو کې په مکه کې مشرکينو رسول الله صلی الله عليه وسلم ته وکړ.

کله چې مشرکين د رسول الله صلی الله عليه وسلم ورځ تربلې زياتيدونکي نفوذ او قوت څخه په ډار او وارخطايي کې راغلل کله يې چې هره وسه تمامه کړه او زور يې ونه رسيده، نو د قريشو يو مشر عتبه بن ربيعه د قريشو د مشرکينو په استازولۍ رسول الله صلی الله عليه وسلم ته راغی، تر څو ورته ځينې وړانديزونه وکړي، رسول الله صلی الله عليه وسلم باندې خپل زهر وچلوي د دنيا مال او متاع ،واک ،زر ښځو او نورو غولونکو تمو په ګرداب کې يې راګير کړي او له خپل مسوليت او دعوې څخه يې راوګرځوي همغه و چې عتبه راغې، د رسول الله صلی الله عليه وسلم په وړاندې کيناست ورته يې وويل: وراره!

ته خو زموږ په منځ کې د اوچتې او قدرمنې کورنۍ د محترم او لوړ نسب خاوند يې، تا خپل قوم ته يوه لويه مسله راوړې ده او په دې دې د ټول قوم په منځ کې جنجال جوړ کړی، بې اتفاقه کړې دې دی، د دوی دين او معبودان توهينوې عيب پرې پورې کوې، د خپلو پلرونو دين او عادات دې پريښې، نو واوره زه درته يو څو پيشنهادونه لرم، فکر پرې وکړه ممکن کوم يو دې خوښ شي او ته يې ومنې او دا شخړه ختمه شي، رسول الله صلی الله عليه وصلم ورته وفرمايل :قل يا ابا الوليد اسمع. وايه ابوليده اورم.

عتبه وويل: وراره کوم دعوت چې تا اسلام ته شروع کړی، او کومې هلې ځلې چې کوې، او زموږ په منځ کې دې مشکلات راولاړ کړي، که له دې څخه دې مقصد د مال ترلاسه کول وي، نو موږ به درته دومره مال او دارايي راټوله کړو چې له موږ ټولو به ته زيات مالداره او شتمن شې، او که له دې لارې غواړې چې مشر شې نو موږ به دې سمدستي خپل مشر وټاکو او هيڅ فيصله به ستا له مشورې پرته نه کوو، د مکه مشر به ته شی او واک د مکی به تاسره وی که پاچاهي غواړې نو پاچا به دې کړو، او که چيرې دا څه چې درته راځي جن يا پيری وي ناروغه يې نو علاج به دې وکړو، که غواړې د خپل قوم ښايسته او غوره ښځه به درکړو، خو دا کومه دعوه چې لرې، دا کوم مشن چې دې روان کړی له دې تير شه.

کله چې عتبه خبرې ختمې کړې رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وويل ستا خبرې خلاصې شوې هغه ورته وويل: هو.

نو رسول الله صل الله عليه وسلم ورته وفرمايل: (فاسمع مني) اوس

ماته غوږ شه.

عتبه وویل غوږ مې دی.

رسول الله صلی الله علیه وسلم خبرې داسې پیل کړې:

حمٓ (1) تَنزِيلٌ مِّنَ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ (2) كِتَٰبٌ فُصِّلَتْ ءَايَٰتُهُۥ قُرْءَانًا عَرَبِيًّا لِّقَوْمٍ يَعْلَمُونَ (3) بَشِيرًا وَنَذِيرًا فَأَعْرَضَ أَكْثَرُهُمْ فَهُمْ لَا يَسْمَعُونَ [سُورَةُ حمٓ السجدة/فُصِّلَت : 1- 3]

﴿حم. (1) دا (قُرآن) د خورا مهربان او پوره رحم لرونکي الله تعالی له خوا نازل کړی شوی دی (2) یو داسې کتاب چې ایتونه یې په تفصیل سره بیان کړای شوي دي او د عربي ژبې قُرآن دی د هغو خلکو لپاره چې علم لري(3) زېری ورکوونکی او وېروونکی دی. خو له دغو خلکو څخه زیاترو ترېنه مخ واړوه او غوږ ورته نه ږدي.﴾

رسول الله ﷺ قرانکریم تلاوت کوي او عتبه ورته چوپ ناست دې، غوږ یې ورته ایښی، لاسونه یې شاته ایښي او تکیه یې وربانديې کړې ده، رسول الله صل الله علیه وسلم د سجدې آیات تلاوت کړ، سجده یې وکړه او بیا یې وویل: ابوالولیده وادې وریدل؟

اوس خپله فکر وکړه ته پوهه شه او کار دې، عتبه پاڅېد خپلو ملګرو ته ورغې ملګرو یې وویل عتبه چې له موږ په مخ تللی و په هغې نه دی راغلی، ترې ویې یوښتل څه کیسه ده، هغه ورته وویل: قسم په الله ما داسې خبرې واورېدې، چې په ټول عمر کې مې نه وې اوریدلې، هغه نه سحر و، نه شعر و، نه جادو او مداریتوب و.

ای قریشو!

محمد په خپل حال پرېږدئ.......صلي الله علیه وسلم

همدا راز د قریشو مشران ابو طالب ته راغلل او هغه یې مجبور کړ چې خپل وراره وپوهوي چې د دوی له دښمنۍ لاس واخلي، تره یې ورته وایي مشران راغلي و او داسې ...داسې .. غوښتنې یې درلودې، دا خبره هم وشوه چې ته زموږ اله و ته بد او رد مه وایه مونږ به ستا رب ته نه وایو او یا به یو کال ستا د رب عبادت وکړو یو کال ته زمونږ د باطلو الهه وو عبادت وکړه او یا به عقیدوي ازادي وي، هر څوک چې هر کار کوي نو یو به د بل کار کې مداخله نه کوو، نو محمد صلی الله علیه وسلم ورته وایي: قسم په الله اې تره! که لمر په یوه لاس او سپوږمۍ په بل لاس کې راکړې نو له دې دعوته او له دې مشن او مبارزې به لاس په سر نه شم

هو!

د دوحې تړون د مشرکینو د همغې غونډې سره مقایسه کیږي د امریکا په مشرۍ د نړۍ کفارو او طواغیتو له طالب مشرانو وغوښتل چې دا څه د شریعت، شریعت نارې وهئ، موږ ته مالومه ده چې تاسې خپله په شریعت برابر نه یاست، راځئ له دې تشو نارو هم تیر شئ، ولې هم ځان او هم موږ ستړي کوئ ستاسې چې څه مقصد دې په هغې موږ پوهیږو، تاسې د کابل واک غواړئ، موږ به مو په یوه میاشت کې دننه د کابل حاکمان کړو، وسلې، عرادې، تجهیزات او ټول امکانات به په واک کې درکړو، مزې به مو وي، ښځې به هم خه پریمانه وي، په مجلسونو کې په تلویزونونو کې او په نورو پټو او ښکاره ملاقاتونو کې به تاسې د ښه ښایسته ښځو سره مشغول شئ، هره هفته به درته په میلونونو ډالر هم درلیږو، کفري او طاغوتي هیوادونو ته به زموږ او ستاسې د دوستۍ په لړ کې خه ازاد سفرونه کوئ دلته به زموږ په ساحلونو او هوټلونو کې د ژوند له رنګونو خوند واخلئ، هیڅ قسم بندیز به دربانديې نه وي، نومونه به مو له تورو لیستونو څخه وباسو، د سفر بندیزونه به دربانديې ختم کړو، په رسمي شکل به مو خپل ملت کې ومنو.

تاسې فقط د اسلام او شریعت ددې تش په خوله د اخستونکو شعارونو او نومونو څخه هم تیر شئ دا څه جنجال مو جوړ کړی، بس ټول به سره یو ملت شو، یو به مو قانون وي، یو به مو هدف وي او یو به مو دریځ وي، د بین الملل په اصولو به سره راجمعه یو او دا شته ټول مشکلات به مو هوار شي، نه به تاسې زموږ کار کې کار لرئ او نه به موږ ستاسې کار کې کار لرو، د یو بل امن به ساتو، زموږ دوست به ستاسې دوست وي او زموږ دښمن(اسلامي دولت) به ستاسې دښمن وي او په شریکه به یې د محوه کولو لپاره کار کوو.

همغه و چې د طالب مشرانو خولې له اوبو ډکې شوې او دا هر څه یې ورسره ومنل، له خپلې دعوې، دین، ایمان، حیا، غیرت څخه ورته تېر شول، د اسلامي امت په وینو او اوښکو یې معامله وکړه او اوس نو همغه مشرکینو سره شوې تړون دې چې د عملي کیدو او تطبیق په لار کې طالب له مختلفو مرحلو تیریږي.

نو لنډه دا چې طالب ادرس غلط کړې د طالب تړون د حدیبیې د سولې د تړون سره نه مقایسه کیږي، بلکې د مشرکینو له لورې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د پشنهادونو او وړاندیزونو هغه تړون دې، چې رسو ل الله صلی الله علیه وسلم دا هر څه رد کړل او ورته یې انکار وکړ، خو طالب دا هر څه په پټو سترګو ومنل او عملاً یې ټوله نړۍ ګوري.

چې مشرکینو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ددې هر څه وړاندیزونه وکړل چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته چورلټ انکار وکړ، خو طالب ملېشو دا هر څه په پټو سترګو ومنل.

لکه مخکې مو چې ذکر کړل چې سوله د اسلام سیاسي نظام کی د زورور او کمزوري تر منځ نه وي، بلکې چې په قوت کې سره مساوي وي او یا د اسلام قوت اوچت وي، نو که زورور سره سوله وي هغه به دربانديې خپل ټول شرایط د سولې په نوم مني. لکه زوروري امریکا چې په ماتو شویو او له خپلو دعوو او کړیو وعدو په شا شویو، طالب مشرانو ومنل.

طالب مشران هم سره ددومره انحرافاتو بیا هم ددوی او د مشرکینو ترمنځ د پشنهاداتو د منلو او له خپلو دعوو له تیریدو د تسلیمۍ دا تړون د حدیبې په تړون قیاس کوي او وایي دلته هم موږ د مشرکینو ځینې شرایط منلي ځکه چې په حدیبیه کې هم رسول الله صلی الله علیه وسلم د مشرکینو شرایط منلي و.

اوس راځو دې ته چې هغه شرطونه چې د حدیبې په سوله کې پرې موافقه شوې وه په هغې شرطونو کې د مشرکینو د دین د منلو څه خبره وه؟

یا زموږ د دین خلاف څه خبره په کې وه؟

یانې د شریعت خلاف کوم شرط په کې و؟

په دې شرطونو به لږه رڼا واچوو

کله چې سهیل ابن عمر راغې، چې دا اخري استازی و، ددې لپاره راغې چې د سولې فیصله ولیکي، نو کله چې رسول الله صلی الله و علیه وسلم ولید نو ویې فرمایل: ستاسې کار اسان شو، نبي صلی الله علیه وسلم به په ښایسته نومونو نیک فالي کوله.*

د حدیبیې د سولې یو شرط دا و، چې تاسې به موږ بیت الله ته پرېږدئ چې موږ طواف وکړو؟

نو سهیل ورته وویل چې: نه تاسې به اینده کال کې راځئ هسې نه عرب داسې فکر وکړي، چې تاسې په موږ په زور راداخل شوئ.

بل شرط دا و چې که بل کال ته عمرې ته راځئ نو د عربو د عادت موافق د یو مسافر هومره اسلحه به له ځان سره هر کس راوړي، توري به ورسره په پوخونو کې وي او درې شپې به تیروئ.

نبي علیه السلام ورسره په دې شرطونو موافقه وکړه نو دا شرطونه هم د مشرکینو په دین کې نه و، یانې دا یوازې د سولې یو شرط و د هغوی د دین منل نه دي،

بل شرط دا و چې که څوک له نبي علیه السلام څخه مشرکینو ته راشي هغه به ورته بیرته نه واپس کوي او که د مشرکینو څخه څوک راشي نبی علیه السلام ته، نو هغه به ورته واپس کولای شي.

ددې شرط د منلو وجه د مسلم په حدیث کې داسې بیان شوې، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: څوک چې زموږ څخه د دوی خواته ورغې یانې مرتد شو نو الله عزوجل

دې هلاک کړي، او څوک چې د دوی څخه موږ ته راغی نو الله به ورته څه لار خلاصه کړي، یانې که موږ یې ورته واپس کړو هم نو الله عزوجل به ورته څه لار خلاصه کړي، چې همدغسې وشول، چې کوم کس به نبي علیه السلام مکې ته واپس کاوه نو هغه به هلته د هغوی په تاوان تمامیده، هلته به یې دعوت کاوه، د اسلام حقانیت به یې بیانوه او نور خلک به یې ترغیبول، ابو بصیر چې کله نبي علیه السلام واپس کړ او هغه خپل جنګي معسکر خلاص کړ، نو چا چې به هم د مکې والاو څخه اسلام قبلاوه نو د ابو بصیر سره به یو ځای کیدل، نو مکې والا مجبور شول چې بیرته رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغلل چې دا خو موږ ته بل درد سر پیدا شو، بس له ابو بصیر څخه تاسره ښه دي څوک چې راځي مه یې وآپس کوه، ځکه نبي علیه السلام خو دوی سره سوله کړې وه جګړه یې ورسره نه کوله خو دغه مومنان چې د سیف البحر په ساحه کې را جمعه شوي و، دوی به د مکې والاو قافلې لوټ کولې او هغوی تري سم تنګ و، هسې کلارې نه و ناست، بلکې د سولې له تړونه هم بهر و او خپل کار یې روان ساته، ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم دا وړاندوینه کړې وه چې له مکې څوک موږ ته راځي او موږ یې واپس کوو نو هغې ته به الله بله لار خلاصوي، نو هغوی ته یقینې هم الله دا لار خلاصه کړه چې ابوبصیر بیل محاذ خلاص کړ، هلته به دا ټول راغلي نوي مسلمانان ورتلل او هغه سره به راجمعه کیدل او د مشرکینو په ښتونو به سپریدل، نو په دې شرطونو کې یوه خبره هم داسې نه وه چې د مشرکانو د دین موافق وي او یا هم زموږ د شریعت مخالف وي، له دې سولې دا هم ثابتیږي چې قریش په دغه وخت نسبت مسلمانانو ته ضعیف و ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته د دوه خبرو اختیار ورکړ چې یا به سوله کوئ او یا جنګ ته اماده شئ.

طالب خو نه یوازې دا چې نور د جهاد نه کولو او په ټولو کفارو باندی د ېز نه کولو تړونونه ورسره امضاء کړي دي بلکه هغه نور وطني او طاغوتي تنظیمونه چې هم دوی سره یو ځای ول او د پاکستان د ازادئ په نوم یې له ډیرو خلکو قرباني واخیستله هغوئ هم راوستل مرتدینو سره یې کینول، رسول الله صل الله علیه وسلم که یو طرف سوله وکړه بل طرف د ابوبصیر رضی الله عنه جبهه خلاصه وه هلته مسلمانان ورتلل او منظم کیدل او په مشرکینو یی شپه او ورځ یوه کړې وه، رسول الله صل الله علیه وسلم خو داسې ونه کړل چې ابو بصیر یې منعه کړ، طالب خو یو چاته هم وخت نه ورکوي چې یو کافر ته په بده سترګه وګوري او یا د دوی له ظلمونونه وروتښتي، دوی خو له ځانونو د کفارو ملیشی او عسکر جوړ کړي دي او د کفارو په نیابت کفارو سره جنګیدونکو اسلامي خلافت سربښندونکو غازیانو سره عملاً د همدې هدف لپاره په جګړه ښکیل دي چې هم کفار او د کفارو ګټې او سرحدات وساتي.

الغرض:

بله دا چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ددې شرطونو دومره اهتمام نه دی کړی، بلکې د الله د امر پابندي یې کوله دلیل دادی چې: کله د عقبه ابن معیت لور امې کلثوم مدینې ته هجرت وکړ، نو د سولې د شرطونو په اساس په کار وه چې دا زنانه بیرته واپس شوې وی، ځکه ورپسې ورور یې ولید بن عقبه راغلې و، نو دغه وخت دا ایات نازل شو:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا جَآءَكُمُ ٱلْمُؤْمِنَٰتُ مُهَٰجِرَٰتٍ فَٱمْتَحِنُوهُنَّ ٱللَّهُ أَعْلَمُ بِإِيمَٰنِهِنَّ فَإِنْ عَلِمْتُمُوهُنَّ مُؤْمِنَٰتٍ فَلَا تَرْجِعُوهُنَّ إِلَى ٱلْكُفَّارِ لَا هُنَّ حِلٌّ لَّهُمْ وَلَا هُمْ يَحِلُّونَ لَهُنَّ وَءَاتُوهُم مَّآ أَنفَقُواْ وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ أَن تَنكِحُوهُنَّ إِذَآ ءَاتَيْتُمُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ وَلَا تُمْسِكُواْ بِعِصَمِ ٱلْكَوَافِرِ وَسْـَٔلُواْ مَآ أَنفَقْتُمْ وَلْيَسْـَٔلُواْ مَآ أَنفَقُواْ ذَٰلِكُمْ حُكْمُ ٱللَّهِ يَحْكُمُ بَيْنَكُمْ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ [سُورَةُ المُمتَحنَة: 10]

اې مومنانو! کله چې مومنې ښځې هجرت وکړي، تاسي ته راشي، نو (د هغو د مسلمانۍ) څېړنه وکړئ او د هغو د ایمان په حقیقت باندې الله ښه پوهیږي، بیا کله چې تاسي ته معلومه شي چې هغوی مؤمنې دي، نو کافرانو ته یې بیرته مه لیږئ؛ نه هغوی د کافرانو لپاره روا دي او نه کافران د هغوی لپاره روا دي. د هغو کافر مېړونو چې کوم مَهر هغو ته ور کړئ و، هغه هغو ته بیرته ورکړئ. او له هغو سره په نکاح کولو کښې پر تاسي څه ګناه نشته کله چې یې مَهر ورکړئ. او تاسي په خپله هم کافرې (ښځې) پخپله نکاح کښې مه ساتئ، کوم مَهر چې تاسي خپلو کافرو میرمنو ته ورکړی ؤ، هغه بیرته ځني وغواړئ. او کوم مَهر چې کافرانو خپلو میرمنو ته ورکړی ؤ، هغوی دې هغه بیرته وغواړي. دا د الله حُکم دی، هغه ستاسي تر منځ فیصله کوي او الله د پوهې او حکمت څښتن دی.

نو نبي علیه السلام د الله په دې امر عمل وکړ او زنانه یې واپس نه کړه، قریشو هیڅ حرکت ونه کړ، نو دا هم په دې دلیل شو چې قریش ضعیف شوي و، خو بیا هم د نبي علیه السلام دلیل ورته برابر و، ځکه حق یې هم نه جوړیده، په تړون کې داسې لیکلې و (لایاتیک من الرجل ...سړی یې لیکلې و، د زنانه کومه تذکیره په کې نه وه، د مسلمانانو د قوت دلیل دا هم کیدای شي چې کله قریشو لوز مات کړ او د خذاعه قبیلې په مقابل کې یې د بنو بکر قبیلې سره کومک وکړ، نو نبي علیه السلام په دوی غزا وکړه.

راځئ! اوس د امریکا په تر ټولو ستره استخباراتي هډه کې د امریکا په مشرئ د نړئ کفارو ته د سولې په نامه د طالب د تسلیمئ د تړون مادې د نبوي او شرعي سولې د شرطونو سره مقایسه او مقارنه کړو.

لومړې: د نبي علیه السلام اوربندونه د طالبانو په څېر تلپاتې او دایمي نه و، چې له شروع نه په کې نه نیټه ذکر شوې وي او نه هم وخت، بلکې هغه به تر ټاکلې مودې پورې مؤقتي و. خو تاسې دلته د دوحې په تړون کې د طالبانو د دایمي اوربند په اړه ولولئ؟ (٤- دایمي او هر اړخیز اوربند به د بین الافغاني ډیالوګ او مذاکراتو په اجنډا کې یوه موضوع وي.)

ملا برادر قطر کې وایي:

(او إسلامي امارت تعهد کړی چې د أفغانستان خاوره به د کوم هېواد د امنیت پر ضد نه استعمالیږي، چې دا په أفغانستان کې تلپاتې سولې ته عملي زمینه برابروي.)

جهاد به تر هغې پورې جاري وي چې تر څو کافر باقي وي، خو دوی د دغه سولې سره جهاد ته د پای ټکې کیښودل غواړي، دایمي اوربند شریعت کې نشته. قریشو سره د حدیبیې په مقام صلح کې نبي علیه السلام لس کاله اوربند کړی و.

عَنِ الْمِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ، وَمَرْوَانَ بْنِ الْحَكَمِ، «أَنَّهُمْ اصْطَلَحُوا عَلَى وَضْعِ الْحَرْبِ عَشْرَ سِنِينَ، يَأْمَنُ فِيهِنَّ النَّاسُ وَعَلَى أَنَّ بَيْنَنَا عَيْبَةً مَكْفُوفَةً، وَأَنَّهُ لَا إِسْلَالَ وَلَا إِغْلَالَ» سنن أبي داود وإسناده حسن.

مسور بن مخرمه او مروان بن الحکم وایي:

هغوی (د قریشو مشرکینو او مسلمانانو) لس کاله جنګ بندي باندې صلح وکړه، چې خلک به په امن وي، او پدې خبره چې زمونږ ترمنځ به په عهد باندې سالم زړونه وي، او غلا او خیانت به نه وي.

د سولې انتهایي مودې په اړه د علماؤ ترمنځ اختلاف شته، لکه امام خطابي ذکر کړي، د سولې مودې په اړه مختلف اقوال دي:

١. لس کاله آخري موده ده.
٢. څلور کالو څخه زیات روا نده.
٣. درې کاله.
٤. دې لپاره حد ندی معلوم بلکې د امام فکر ته به پرېښودلی شي.

حافظ ابن حجر وایي:

”وَقَدِ اخْتَلَفَ الْعُلَمَاءُ فِي الْمُدَّةِ الَّتِي تَجُوزُ الْمُهَادَنَةُ فِيهَا مَعَ الْمُشْرِكِينَ فَقِيلَ لَا تُجَاوِزُ عَشْرَ سِنِينَ عَلَى مَا فِي هَذَا الْحَدِيثِ وَهُوَ قَوْلُ الشَّافِعِيِّ وَالْجُمْهُورِ وَقِيلَ تَجُوزُ الزِّيَادَةُ وَقِيلَ لَا تُجَاوِزُ أَرْبَعَ سِنِينَ وَقِيلَ ثَلَاثًا وَقِيلَ سَنَتَيْنِ وَالْأَوَّلُ هُوَ الرَّاجِحُ وَاللَّهُ أَعْلَمُ.“ [فتح الباري]

ژباړه: علماؤ کرامو د مشرکانو سره سولې د جائز مودې په اړه اختلاف کړی، ویل شوي چې د لس کلونو څخه پورته روا نده لکه څنګه چې حدیث کې دي، دا د امام شافعي او جمهورو قول دی، دویم دا ویل شوي چې زیاته موده هم روا ده، بل قول دا چې د څلورو کالو څخه زیاته روا نده، چا ویلي درې کاله او چا دوه کاله خو

اول قول راجح دی، (لس کاله موده) نور الله خه پوهیږي.

شیخ الإسلام ابن تیمیة وايي:

"بَابُ الْهُدْنَة، وَيَجُوزُ عَقْدُهَا مُطْلَقًا وَمُؤَقَّتًا وَالْمُؤَقَّتُ لَازِمٌ مِنْ الطَّرَفَيْنِ يَجِبُ الْوَفَاءُ بِهِ مَا لَمْ يَنْقُضْهُ الْعَدُوُّ وَلَا يُنْقَضُ بِمُجَرَّدِ خَوْفِ الْخِيَانَةِ فِي أَظْهَرِ قَوْلَيْ الْعُلَمَاءِ، وَأَمَّا الْمُطْلَقُ فَهُوَ عَقْدٌ جَائِزٌ يَعْمَلُ الْإِمَامُ فِيهِ بِالْمَصْلَحَةِ." [الفتاوى الكبرى ج 5 / ص 542]

ژباړه: د سولې په اړه باب، د سولې ترون مطلق یعنې بغیر د قید څخه او تر یوې نیټې پورې جائز دی، په دواړو خواو وفا کول لازم دي، تر څو چې یې دښمن مات نه کړي، او د علماؤ صحیح قول مطابق، تش د خیانت له داره هم دا ترون نه ماتیږي، او هر چې مطلق دی، نو دا ترون به امام د مصلحت پر بناء تړي.

امام ابن المنذر د بعضې علماؤ څخه ذکر کړي:

"لَا يَجُوزُ مُهَادَنَتُهُمْ إِلَى غَيْرِ مُدَّةٍ، لِأَنَّ ذَلِكَ يُوجِبُ الْكَفَّ عَنْهُمْ عَلَى الْأَبَدِ، وَلَا يَجُوزُ ذَلِكَ، لِأَنَّ قِتَالَهُمْ مَتَى قُدِرَ عَلَيْهِ يَجِبُ إِذَا كَانُوا أَهْلَ أَوْثَانٍ حَتَّى يُسْلِمُوا، وَقِتَالُ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ يَجِبُ حَتَّى يُسْلِمُوا، أَوْ يُؤَدُّوا الْجِزْيَةَ، وَإِذَا هَادَنَهُمْ عَلَى غَيْرِ مُدَّةٍ، كَانَ ذَلِكَ عَقْدًا خِلَافَ ظَاهِرِ كِتَابِ اللهِ، وَذَلِكَ مَرْدُودٌ لِأَنَّ اللهَ أَمَرَ بِقِتَالِ الْمُشْرِكِينَ، وَلَا يَجُوزُ أَنْ يَعْقِدَ عَقْدًا خِلَافَ أَمْرِ اللهِ. "

[الأوسط في السنن والإجماع والاختلاف ۱۱ ج / ص ۳۱۱]

ژباړه: تر نامعلومې نیټې اوربند ناروا دی، ځکه دا د ابد لپاره له هغوی څخه لاس نیول دي، او دا جائز ندي، ځکه د هغوی په جنګ چې کله هم بر لاسي شو نو واجب دی، کله چې هغوی د بتانو عبادت کونکي وي (اهل کتاب نه وي) تر دي چې اسلام راوړي، او د اهل کتابو جنګ هم تر هغه واجب دی، چې اسلام راوړي، یا جزیه ورکړي، او کچیرې نامعلومه مودې باندې سوله وکړي، نو دا ترون د الله د کتاب د ظاهر خلاف دی، او باطل دی، ځکه الله تعالی د مشرکانو په جنګ امر کړی، او د الله د حکم خلاف ترون ناروا دی.

دغه رنګ خبره علامه ابن قدامه هم کړی چې ابدي سوله ناروا ده.

راجح قول په اتفاق د علماؤ سره دا دی چې هر اړخیز او دایمي اوربند په شریعت کې جواز نه لري، مطلق اوربندونو خبره هم علماؤ کړی خو دایمي چې د ابد لپاره وي، پدې باندې د علماؤ اتفاق دی چې دا ناروا دی او د طالبانو اوربند دایمي دی.

نو تاسې ولوستل چې د حدیبیې په سوله کې معین وخت ذکر شوی و، نه دا چې د طالب په څېر دایمي او تل پاتې سوله وي ، دایمي نه وه لکه

د طالب د تسلیمۍ ترون چې وخت په ذکر نه دي او دایمي یې د کفر طوق لعنت غاړه کې واچوه ،نه مو په ترون کې ورسره کوم معین وخت ټاکلې او نه هم دا معلومه ده چې ستاسې دا ترون به په څه نقض کیږي ، بلکې په ترون کې په همدې مورد مو د دایمي او تلپاتې سولې الفاظ ښه واضح دي .

ورونو! د اسلام سیاسي نظام کی سوله موقت وي اوتسلیمي تلپاتې او ابدي وي، ځکه کله چې دښمن ته تسلیم شي نو مجبور یې له خپلو ټولو اهدافو او دعوو تېر شي او د دښمن عسکري شروع کړي ، د سولې او تسلیمی ترمنځ عام طور سره فرق همدا دی لکه څنګه یې چې طالب عملي کوي ، طالب د تسلیمی ډیری څرګندې بیلګې وړاندې کړي او لا یې هم وړاندې کوي ، د طالب له خبرو همدا جوتیږي چې دوی د تسلیمی لفظ د تلپاتې سولې او اوربند په نومونو تعبیروي خو حیف دا چې د طالب کشرخیلو عقل هیڅ کار نه کوي .

دویم : مونږ مخکې هم ویلي و، چې طالبان د سولې په نوم امریکایانو له هرې خوا ټینګ وتړل، او پر طالبانو یې د تعطیل الجهاد قباحت ومانه، داسې کیسې یې ورسره وکړې چې مکمل یې په خپلو دامونو کې راګیر کړل، اوس چې قدم اخلي نو هم یو وار دغه کفارو سره رابطه کوي او معلومات تري کوي. د وسلوالي مبارزې ځای یې ورته ورک کړو.

او نبي علیه السلام سوله دخپل ځان قوي کولو او نورو فوځي تحرکاتو

لپاره ترسره کړې وه. د اسلام پیغام یې د وخت سترو امپراطوریو روم او فارس ته ورساوه، خو هغه الهي دین، د طالبانو په څېر دموکرات دین نه.

د صلح څخه وروسته یې د جهان په نورو کافرو یهودو، د نجد په قبائلو او رومیانو شروع وکړه. لکه ځېنې لوی مشهورې غزاګانې یې په لاندې ډول دي:

١.غزوة الغابة أو غزوة ذي قردٍ ٢.غزوة خيبر ووادي القرى

٣.غزوة ذات الرقاع ٤.معركة مؤتة

او سرایا خو بې شمیره وی :

١.سرية غالب بن عبد الله الليثي إلى بني المُلَوِّحِ بالكَدِيد ٢.سرية حسمَىَ بالكسر ثم السكون مقصور: أرض ببادية الشام، بينها وبين وادي القرى ليلتان. وبعضهم قالوا حَسْمى. ٣.سرية عمر بن الخطاب إلى تربة ٤.سرية بشير بن سعد الأنصاري إلى بني مرة بناحية فدك ٥.سرية غالب بن عبد الله الليثي ٦.سرية عبد الله بن رواحة إلى خيبر ٧.سرية بشير بن سعد الأنصاري إلى يمن وجبار ٨.سرية أبي حدرد الأسلمي إلى الغابة ٩.سرية ابن أبي العوجاء ١٠.سرية غالب بن عبد الله إلى مصاب أصحاب بشير بن سعد بفدك ١١.سرية ذات أطلح ١٢.سرية ذات عرق إلى بني هوازن ١٣.سرية ذات السلاسل ١٤.سرية أبي قتادة إلى خضرة.

زمونږ پوښتنه دا ده چې طالبان به کوم ځای کې په کافر ېز کوي ؟ په چا به جنګ کوي ؟ معلومه خبره ده، د مسلمانانو په خلاف به یې کوي

د امریکایانو سره له سولې وروسته دوې په کوم کافر حمله وکړه ؟

د کوم مظلوم مسلمان پوښتنه یې وکړه؟

او یا کوم خلک چې کفارو باندې بریدونه وي د همغه سپیڅلو مجاهدینو وژلو ، بندیانولو او شړلو ته یې مکمل ملا وتړله ؟

ایا رسول الله صلی الله علیه وسلم ابوبصیر باندې رد وکړ؟

ایا د هغه د وژلو اراده یې وکړه ؟

چې نن طالب د خلافت په مجاهدینو باندې هر طرف ظلم شروع کړی او د امریکایانو په دستور هرطرف موحدین او مجاهدین شهیدانوي .

طالبانو سره به دا ومنو خیر تاسې د حدیبیې سوله وکړه امریکایانو سره مو سوله وکړه ، دا چینایانو سره مو څه کېسه روانه کړې ؟

دا روسانو سره مو کومه خپلولي ده ؟

دنورو کفارو سره مو کله او چرته سوله وکړه ؟

رسول الله صلی الله علیه وسلم خو یو قریشو سره سوله وکړه نورو ټولو ته خو یې امن ورنه کړ ، بلکې په هر طرف یې غورځنګونه شروع کړل ،رسول الله صلی الله علیه وسلم خو قریشو سره د محدود وخت لپاره ېز بندي کړې ، چې ته به تر دغه ټاکلي وخته پوره ما حمله نه کوي زه به یې په تا نه کوم ،

رسول الله صلی الله علیه وسلم چې له حدیبیې راغې لکه څنګه مو چې پورته یادونه وکړه د نورو غزواتو او سریو په شمول یې خیبر فتحه کړ ، وروسته د حدیبیه نه کال پوره نه وه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم خیبر باندې لښکر ورمرش کړ ، په دې سوله خو رسول الله صلی الله علیه وسلم ..

د خیبر د خلکو هغه قوت وپاشه هغوئ خو د قریشو په زور نازیدل ، قریش یې ترې یو طرف کړل ،د خیبر یهود یې ځانته کړل ، رسول الله صلی الله علیه وسلم چې له حدیبیې راغې نو پوهیده چې خیبر یې په اسانه لاس ته ورځي او هلته ښه پریمانه غنایم دي نو اعلان یې وکړ چې څوک ماسره د حدیبیې په سوله کې نه و، د عمرې په سفر کې راسره نه و، هغه خیبر ته نه وړم ، هغه پوهیده چې اوس به دا کسان مفته د غنایمو ترلاسه کولو لپاره روان شي ، بلکې دوئ یې د تبوک غزوې ته یوړل چې هلته یې ایمانونه مالوم کړي ، خیبر خو یو انعام و چې د حدیبې د سولې په پایله کې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته الله متعال ورکړ .

طالبه بیا درباندی غږ کوو د رسول الله صلی الله علیه وسلم سوله منځ اوخپل قبیح عمل ورباندی قیاس کوې ؟

ایا د حدیبیې له سولې وروسته رسول الله صلی الله علیه وسلم جهاد کړی که نه ؟

دشمن پسې لښکرې ویستلي او که نه ؟

طالبه! تا خو د تلپاتې او دایمي اوربند کیسی او تړونونه دی شروع کړي دي، رسول الله صلی الله علیه وسلم د حدیبیې له سولې وروسته خیبر ته لاړ .

طالبه ! وایه کنه ، ته چرته او کوم طرف د غزا په نیت لاړې؟ کوم طرف پلان لرې ؟

د حدیبیې د سولې بله ستره لاس ته راوړنه د دعوت د ستراتیژۍ تطبیق و ، مسلمانان اذاده شول ، مکه کې رابښکاره شول ښکته پورته یې سفرونه وکړل ، راشه درشه یې زیاته شوه ، د دعوت لمن پراخه شوه همدا زمینه مساعده شوه چې په اتم کال د مکې د فتحې امادګي ونیول شوه .

طالبه ! ته څه وخت د امریکا د فتحې تصمیم نیسې ، ستا په تسلیمۍ خو مسلمانان نور هم ذلیله او محدود شول ، د توحید دعوت بند شو ، علماء شهیدان شول ، په دعوتونو د قران په درسونو یې تاسې بندیزونه ولګول.

د حدیبیې سوله خو د مکې د فتحې په خاطر وه ، چې الله ورته زمینه مساعده کړه ، له دې مخکې خو مسلمانان چا نه منل ،دې سولې سره خو د یو دولت په حېث راڅرګند شول مسلمانان ازاد شول ، سفرونه یې وکړل ، له دې سولې وروسته زیات خلک مسلمانان شول ، یو کال وروسته یې عمره هم وکړه همغه خپل مقصد یې هم ترلاسه کړ ، خو دا ځل له تیر څخه عمره ډېره متفاوته وه ، د خیبر غنایم ورسره و ، ښه په شان او شوکت او ښه ډېک لاسونه باعزته لاړل ،

طالبه تا څه لاس ته راوړل .؟

طالبه! د امریکا فتحی لپاره به اروپا ته مسلح ورغلی وی، بیا که امریکایانو سره دې سوله کوله د دې لپاره چې انګلستان . فرانسه،جرمني... او نور کفري هیوادونه فتحه کړې نو بیا دې قیاس پرځای وه، کنه اوس خو تسلیم شوی یې، بس خپل کفر باندې اعتراف وکړه ،ضد مه کوه د کفر نه د ویستلو لارې وګوره کنه داسې همداسې تور مخ به الله متعال سره مخ شی .

طالبه! له امریکا سره دې سوله وکړه، څه نو په چین ورمنډه کړه هم به ترې غنایم ترلاسه کړې ، هم د یغور مسلمانان ازاد کړې ، د ایران په روافضو ورمنډه کړه ، د پاکستان مرتدین څنګه شول ؟

هغوئ خو ستاسې مخکنی حکومت هم چپه کړې و ،ستاسې مشران یې بربنډ په امریکایانو خرڅ کړل ، نور دې هم ډیر پورونه ورپورې دي ، هغه خو شته په هغې ورشه !

ته خو بیرته همغه ماتې امریکا ته زاری کوې، چې هله پیسې مې اذادې کړه ، هله په رسمیت مې وپیژنه هله هغه وکړه او دغه وکړه .

دومره ذلیله شوې چې امریکا ته خپله امریکا ته په نارو سترې شوې او کار ونه شو اوس دې نو په ملت فشار واچوه او ملت دې اوري او ته په زارو او نارو سر کړ چې هله طالب په رسمیت وپیژنئ ،علت څه دې چې دومره کفارو سره د رسمیت شوقي یې ؟

دریم : نبي علیه السلام څخه اجتماعي سوله نده ثابت، خو طالبانو د نړۍ ټولو کفارو او مرتدو سره د سولې په نوم مذاکرات وکړل.

ګاونډیان : پاکستان، ایران، هند، تاجکستان، اوزبکستان وغیره، د امریکا متحده ایالتونه او د هغې متحدینو ته امن شو، او ېز بندي شوه، سعودي، مصر، عراق، شام، یمن وغیره ملکونو سره جنګ نه کوي، اروپایي ټولنه هم د امریکا متحدین دي، هغې سره دې هم سوله ده . د اسرایل یهودو سره جنګ نه کوي، روس سره خو هسې هم جنګ نه کوي، هغه خو تر اوسه اکمال کړې دي، د خلافت خلاف یې پریمانه اسلحې ورکړې، د ماسکو په بندو کوټو کې یې مجلسونه وکړل، ملا برادر وضاحت سره د امارت موقف بیانوي:

او إسلامي امارت تعهد کړی چې د أفغانستان خاوره به د کوم هېواد د امنیت پر ضد نه استعمالېږي، چې دا په أفغانستان کې تلپاتې سولې ته عملي زمینه برابروي.

داسې کمزورې خبره یې هم نده کړې، بلکې دغه کفارو سره یې تعهد کړی.

نبي علیه السلام په یو وخت کې

اجتماعي لسګونو کافرو بلکې د نړۍ ټولو کافرو سره سوله نده کړې. داسې نبي علیه السلام ندي کړي چې د مکې مشرکانو سره یې سوله کړې وي، دغه رنګ یهودیانو سره یې هم سوله کړې وي، د نجد قبائلو سره، فارس سره، رومیانو سره دې ټولو سره دې په یو وخت سوله وي.

طالبه! ستا خو تاریخ کې دا خبره نه شته چې له افغانستانه یو لویشت اخوا د مسلمانانو غم درسره شي، شیخ مقبول تقبله الله وایي دوه زره نهم کال کې د امارت په عربي (الصمود) مجله کې دا خبره راغله چې موږ له افغانستان څخه یو لویشت هم بهر نه کوم سوچ لرو، نه کوم اقدام کوو او نه مو چاسره کار شته، کله مو چې دا خبره وکتله د حقاني په شمول د امارت د هغه وخت نورو مشرانو خوا ته لاړو چې ستاسې مقصد له دې خبرو څه دې؟

موږ خو دا جهاد، عالمي جهاد ګڼو ... نه د قوم لپاره چاپیره یواو نه هم د بین الملل په کرښو کې د وطن په نوم خاورې اذادۍ ته چاپیره یو، موږ د نړیوال جهاد فکر لرو او تر څو چې دا د بین الملل کرښې پولې ماتې نه شي د جهاد هغه مقصد نه ترلاسه کیږي. شیخ مقبول تقبله الله وایي چې حقاني وویل: که موږ ووایو چې موږ دا کرښې نه منو، نو دا ددې مانا ده چې موږ خلافت اعلان کړی، نو د سرحداتو نه منل د خلافت اعلان دی او که دا کار وکړو نو بیا به په ځمکه کې ځاې ونه لرو.

نو طالب ملېشو د رسول الله صلی الله علیه وسلم د شرعي سولې په ضد د ټولې نړۍ کفارو طواغیتو، مرتدینو، مشرکینو سره په یو ځل سوله کړې، ټولو ته یې د امن ډاډ ورکړی او ښه پخه یې له جګرې توبه وویستله البته کفارو سره له جنګه توبه ګار شول، بلکې د کفارو د ساتنې په هدف د مومنانو سره خو اوس هم په جنګ کې ښکیل دي. دریم: طالب ته وایو! که څه هم تاسې مرتدین یاست او د اسلام له دایرې بهر یاستئ، مسلمان باید د اسلام په ټولو اصولو عمل وکړي .. که څه هم ستاسې سوله امریکا سره دا تسلیمي ده سوله نه ده، خو که خپله دا تسلیمي د حدیبې په سوله قیاس کوې، نو د حدیبې د سولې د ماتیدو اصول خو هم عملي کړئ کنه، ته که د سولې د کولو اصول د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سولې د اصولو سره سم ګڼې نو بیا د سولې د ماتیدو اصولو کې خو هم د هغې پیروي وکړه کنه، د سولې د کولو اصول منې او د ماتیدو اصول یې نه منې دا کوم اسلام شو، ځانته قاضي ته تللې یې، ستاسې د اخستو او ورکولو تلې جلا، جلا دي.

د نبي علیه السلام سوله د یو حلیف په قتل باندې ختمه شوه، د قریشو امداد کول د بنو بکر سره د خزاعه خلاف د مکې دفتحې سبب وګرځید، نبي علیه السلام خپلې لښکرې په مکه وروا چولې او د خپل حلیف انتقام لپاره یې د فتح مکې غزوه وکړه، دغه رنګ بنو قینقاع چې تر ټولو زړور یهود وو، مدینه کې ورسره اوسیدل، تر اوسه نبي علیه السلام په هغوۍ اقدام نه و کړی، چې د یوې زنانه بې عزتي یې وکړه، نو نبي علیه السلام پرې اقدام وکړ او هغوۍ یې محاصره کړل او آخر یې له مدینې څخه وشړل. اګر که تر دې وخت پورې کومه رسمي سوله نه وه، خو په یو بل لا تعارض نه و شروع شوې.

د قینقاع جنګ واقعه هم محققینو ضعیفه کړې، اګر که حافظ ابن حجر ورته حسن ویلي، خو خپله یې یو راوي ضعیف کړی، نو دا د دې څخه استدلال به علی فرض صحته وي، او نبي علیه السلام خامخا دا کار کوو، ځکه چې د خزاعه لپاره یې په مکه جنګ وکړ، نو د یوې مسلمانې خور لور لپاره یې هم د دغه جعلي معاهدو څه پروا نه ساتله.

د امریکا متحده ایالتونو سره د مسلمانانو بې شمیره پیغلې بندیانې دي، عافیه صدیقیه په شمول سلګونو عرب او نورې مهاجرې خویندې ورسره د اسارت شپې تیروي، خو د طالبانو پروا هم نشته، بې غمه ورسره د سولې تړونونه امضاء کوي، نو د مسلمانانو پیغلو د بې عزتۍ په وخت دغه کفارو سره سوله روا نده.

طالبه یو ځل د امریکا نه پوښتنه وکړه چې له تړون وروسته یې څومره مسلمان شهیدان کړي څومره یې بندیان کړي؟

دا مالومات وکړه چې څومره مسلمانې خویندې او میندې ورسره بندیانې دي، نوره پوښتنه یې که نه شې کولای خیر د یو لیست غوښتنه خو ترې وکړه دا خو به دې د بین الملل په اصولو کې دیپلوماتیک حق هم وي چې یو لیست ترې طلب کړې ګوندې دا لیست درکړي او په دې لیست دې دغه له غیرت، احساس، عاطفې، حیا خالي وجدان او ضمیر کې لږ درد پیدا شي، لږ فکر درسره پیدا شي چې څه کول په کار و او تا څه وکړل، دومره ذلیله او رسوا یې چې اوس د خپلو کړنو یادونه هم علني نه شې کولای ځکه چې پوهیږې چې غیر له شرم او خجالت څخه بل څه نه درکوي.

ملا داد الله وایي:

چې زمونږ خویندې ورونه دې کفارو سره په زندانو کې بندیانې وي، سیمې مو اشغال وي او څوک چې امریکا سره خبرې کوي نو دا به غدار او خائن وي، نو څه مو فکر دی، نن د طالب ټول مشران خائنان او غداران نه دي؟

د رسول الله صلی الله علیه وسلم سوله درې کاله وروسته د قریشو د سرغړونو په سورت کې ماته شوه، نو بیا یې امادګي ونیوله او په قریشو یې حمله وکړه؟

او کله چې له سولې وروسته هم له حدیبې ستون شو نو کلارې کیناست، بلکې په خیبر یې برید وکړ داسې نه چې مکمل عالم کفر ته یې د امن ډاډ ورکړ، هغې خو له یو اړخه ځان مطمین کړ او په بل اړخ یې ورودانګل.

د اسلام د سیاسي نظام د قلمرو د پرمختګ ستراتیژي یې تطبیق کړه، د قتال ستراتیژي یی تطبیق کړه، راغې په ارام یی وانه ړول تبوک ته یې مخه کړه،

سوچ وکړه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم سوله په څه شې ماته شوه، د اسلام په سیاسي نظام کې سوله د اساسي هدف لاس ته راوړو لپاره یوه موقته وسیله ده، طالبه ستا اصل هدف اوس څه شې دې؟

، چې ته ددې لپاره سوله کوې، ته اوس څه غواړې؟

ستا ټول هدف خو د چوکې او واک تر انحصاره دې او بس.

د سولې وروسته خو تا هر څه ختم کړل، جهاد ختم، پرمختګ ختم، هر څه ختم، رسول الله صلی الله علیه وسلم خو مدینه کې قوي نظامي ملاتړ درلود، داخلي نظام جوړ دی شریعت حاکم دی، فیصلی په قران کیږی او بیا غواړي چې عمرې ته لاړ شي، مکی ته مسلح حرکت کوي، بیا لاره کی د موقت او اضطراري حالت سره مخ کیږي او بیا موقت وخت لپاره سوله کوي، یعنې رسول الله صلی الله علیه وسلم په اصطلاح بودیجه لري، بیا نو د دښمن خولې ته ورځې او هغه هم د سولې په نیت نه ځي، بیا هلته سوله کوي، دا د رسول الله صل الله علیه وسلم حرکت یو نمایشي حرکت و، خپل زور یې مکې والاو ته ښودلو، ورته یې په زغرده وویل: یا به سوله کوئ او یا زه عمره کوم جنګ ته تیار شئ، په مرګ یې بیعت کړې و، دا یې ورته ښکاره کړه چې: یا به دربانډې ځان د یو قوت په حېث منم او یا به عمره کوم.

خود طالب موقف همغه د مشرکینو پیشنهاد و، او طالب هم د مشرکینو ټول پیشنهادات ومنل.

دغه سوله کې ډیر خلک تللي، راغلي، کله به چې مکې ته استازي لاړل، نو هلته به ورته د مکې قریشو کشرانو لکه د طالب کشرخیلو په څېر ویل چې موږ ته د سولې خبرې مه کوئ موږ دوۍ سره د تورې په زور غږیږو، یو ځل چې د مشرکینو سفیر عوره

بنې مسعود الثقفي ، رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغى ، رسول الله صلى الله عليه وسلم سره يې خبرې كولاې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته يې وويل دا تا چې راوستي دا درڅخه تښتي ، ته ولې خپل قوم سره جنګيږې دا ستا خپل قوم دې خپل عرب قريش قوم خرابوې، لکه د طالبانو د قوميت او وطنيت له ګمراه او ګنده فکر څخه يې خبرې شروع کړې .

ابوبکر رض الله عنه ورته په غصه شو ، ورته يې ويل: لاړ شه د لات فرج وڅټه ، موږ په رسول الله صلى الله عليه وسلم ځان قربانوو .

طالبه ! کله چې درته امريکا ويل چې زموږ او ستاسې ترمنځ ووروري او پخه دوستي شوه ، نور به زموږ امنيت تاسې ساتئ ، ګوره چې زموږ د امريکا او نورې کفري نړۍ د هيوادونو سرحدونه ښه کلک وساتئ او د اسلامي خلافت مجاهدين درڅخه سر اوچت نه کړي ، موږ به مو په ډالرو او نورو ډول ، ډول طريقو او پلمو هر اړخيزې مرستې کوو نو طالبه تا به هم ورته ويلي وي چې ځه وځه رزيلې امريکا چرته د خنځيرانو ګندګي وڅټه ، موږ دا کار، نه شو کولاى .

طالب خو همغه د مکې د قريشو کيسې کوي ، چې وطن نه خرابوو ، وطن کې نور جګړه نه غواړو ، بس جنګ نور ختم شو ، د مذاکرې په ميدان کې هم رسول الله صلى الله عليه وسلم د سر ټيټۍ موقف نه دې اختيار کړې ، مغيرة بن شبه زره پوش د رسول الله صلى الله عليه وسلم په سر ولاړ دې ،ثقفې د رسول الله صلى الله عليه وسلم ږيرې ته لاس وړي ، ددې لپاره چې رسول الله صلى الله عليه وسلم غصه کړي يا يې ميلان پيدا کړي، د عوره وراره ، مغيره د عوره لاس په توره وهي، ورته وايي : چې دا نجس لاس لرې کړه. اود رسول الله صلى الله عليه وسلم مبارک ږيرى باندى مه وهه.

راشه طالب ته ګوره چې نن سبا د کفارو په مجللو هوټلونو کى نجسو مشرکانو ته لاسونه او غاړې ورکول څه چې حتى خپل نجس مخونه هم سره موښي ، مستۍ دي ، خنداګانى دي او ډول ، ډول اداګانې دي چې د کفارو او طالب مشرانو ترمنځ روانې دي .

رسول الله صلى الله عليه وسلم هلته هم قاطع خبره کړې، چې يا به خبره ومنئ يا به عمره يا جنګ کوم او يا سولې ته تيار شئ ، رسول الله صلى الله عليه وسلم چې کله عثمان رضى الله عنه د سفير په شکل وليږه نو درې اساسي خبرې يې ورته وکړې چې دا قريشو ته وکړه :

اول : موږ جنګ ته نه،بلکې عمرې ته راغلې يو .

دويمه :مکه کې څه مسلمانان دې په زندانونو کې دي ،ورته وآيه صبر وکړئ فتحه راروانه ده ستاسې غم موږ سره شته

دريمه دا چې مشرکين اسلام ته دعوت کړه چې اسلام قبول کړي

کله چې عثمان رضى الله عنه لاړ نو ښه په وياړ جګې پايڅې په مکه ورننوت ، د مکې مشرکينو ورته وويل : چې ښنګه دې پايڅې اوچتې کړي ، عثمان ورته وايي: دا زموږ د رسول الله صلى الله عليه وسلم حکم دى موږ د رسول الله صلى الله عليه وسلم په حکم ځان وژنو ..

طالبه! ته چې کله دوحه کې په هوټلونو کې د بربنډو انجونو سره مخ شوې، هلته مو په نوره نړۍ کې د کفارو په زندانونو کې د اسلامي امت بنديان ياد و ؟ چاته مو دعوت ورکړ؟ د رسول الله صلى الله عليه وسلم کوم شرط او خبره مو عملي کړه ..؟

بنو بکر او بنو خزاعه قبيلې وې مکه کې ، رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل: چې هر څوک دې خپل موقف مالوم کړي د چا سره په عهد کې شامليږي ، خذاعه رسول الله صلى الله عليه وسلم سره او بنې بکر قريشو سره داخل شول ، او دلته خبره فقط دا وه چې په يو بل دغه ټاکلې وخته پورې حمله نه کوو، کله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم سوله وکړه نو دلته بنو خذاعه ، د رسول صلى الله عليه وسلم په عهد کې بکر د قريش په عهد کې داخله شوه بلاخره بنې بکر په خذاعه حمله وکړه او لکه مخکې مو چې ذکر کړه ، رسول الله صلى الله عليه وسلم تړون لغوه اعلان کړ، ويل يې سوله نوره نه شته ، سوله ختمه شوه، اوس خبره داده چې که امريکا سره څوک په پيمان کې دي نو که هر چيرته يې په مسلمان حمله وکړه، نو سوله ختمه شوه بيا اعتبار نه لري ، بيا لښکر کشي په کار ده ، يانې که بريد وشو سوله ختمه شوه .

نو طالب ته وايو : چې دا ستا سوله به کله ماتيږي ، دا ستا کاغذي تړون خو درته امريکا په ځلونو نقض کړ ، تا کوم عکس العمل وښود؟

کله يې چې په کابل واکمن کولې په همغه مهال يې د باګرام په زندان کې همدا ستا له خولې تر دوه سوه کسان درته بمبار کړل ، تا څه وکړل ؟

بيرته دې په امريکايانو بريد وکړ ، که نه ، له هغې وروسته دې هم د کابل په هوايي ميدان کې د امريکايانو ساتنه کوله ،؟

کله چې صف ته نزدې شو نو ویې ویل: ای الله! ماته هغه بهتر او افضل شې راکړه چې خپلو صالحو بندګانو ته یې ورکوې.
کله چې نبي علیه السلام له لمانځه نه خلاص شو نو ویې فرمایل: اوس لږ وړاندې چا خبري وکړې؟
هغه وویل یا رسول الله ما، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: نو ستا اس به زخمي کېږي او ته به د الله په لاره کې شهید کېږي.

کشف الاستار ۲/۲۸۱ ورجاله وثقات.
هو همدا د رب په مینه مست او ریښتني رجال به یو ځل بیا نړۍ په الهي نظام منوره کړي، بعون الله.
خو افسوس د هغه چا په حال چې له دین نه خبر نه دي، او دا مخلص مجاهدین په غلطو نومونو یادوي، صد افسوس د دوی په حال چې مجاهدین یې د فلاح او کامیابۍ لور ته را بولي خو دوی د غیرو خلکو په خولو دوی خوارج او د نورو پروژه بولي.

د کایناتو خالقه!

ته دې خلکو ته هدایت وکړه، څوک چې په غلطه لار درومي، یقیناً ته چې چاته هدایت وکړې بیا یې څوک نشي ګمراه کولی، او څوک چې ګمراه کړې بیا ورته بل څوک هدایت نشي کولی، اللهم امین.
ای خلکو!
د الله په خاطر خپل زړونه مو د دین له نوره ډک کړئ، چې په موجوده کفري دسیسو پوهه شئ، بس کړئ، نور د بې دینو خلکو تقلید ځکه دوی مو جهنم په لور بیایي.
د خپل نړېوال اسلامي خلافت غېږ ته پناه راوړئ تر څو د دجال له لښکرو سره جهادونه وکړئ او د دوی له شره بچ شئ، ان شاءالله.
دین ته مخه کړئ، له عقل مو کار واخلئ او په هسې چټې افواهاتو د الله عزوجل د لارې مجاهدین غلط مه یادوئ.
همدا مجاهدین د محمد مهدي علیه السلام هغه لښکر دی چې د دجال لښکرو ته به ماتې ورکوي او ځمکه به د دوی له شره پاکه وي، ان شاءالله.

وما علینا الا البلاغ المبین.

د خراسان پر افق درې ځلېدونکي ستورې

الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على رسول الله وعلى آله وصحبه ومن والاه، أما بعد:

د کوچني اختر څو ورځې تېرې وې، چې الله عزوجل راباندې ستره پیرزوینه وکړه، او د اسلامي دولت تمکین ته یې د هجرت توفیق راکړ، په یو سخته لار د کوټ سیمې ته ورسېدو، هرې خوا ته ډلې، ډلې ګلالي مجاهدینو غوړې ځنې اړولې ، راړولې، او لر ،بر د دښمن په لټه کې ګرځېدل، مخلص (سپرغی) به د دښمن په تعقیب کې په یو لور روان و، شاهین به بلې خوا په مرتدینو غزا جوړه کړې وه، تور ابو بکر، سهیل او ذو الفقار به هم د ملګرو په شمول د کوټ په کلیو ګرځېدل، راګرځېدل، اورکزي مجاهدین هم په موټر سایکلو ښکته پورته ګرځېدل، او د مجاهدینو له موټرونو به هر چرته په سلګونو ماشومان راتاو وو، ، د مجاهدینو سره یې مینه تر دې حده وه چې د دوی له لاسونو او سرونو به یې تور عقابي بیرغ په زور کش کاوه، چې کاکا دا مونږ ته راکړه، تاسې ځان ته نور جوړ کړئ. د کوټ په اکثرو مساجدو کې د اسلامي خلافت دیوان الدعوة د علماؤ لخوا د عامه خلکو پوهاوي په پار د عقیدې، ضروري احکامو او مهمو واجباتو درسونو لړۍ روانه وه، مدارس او مکاتب آباد و، خدمت عامه او د طب بخشونه هم خورا فعال و، قضاء، حسبې او د امنیت مراکز هم ودان و، د مجاهدینو د پیرې، ګزمې او خط ساتلو نظم هم فوق العاده و، د خلافت مجاهدینو خپل رعیت سره بې کچه مینه کوله، اسلامي شریعت قایم و، هرې خوا ته امن، ډاډ، سکون، ورورګلوي، مینه او الفت و. هر عام او خاص په خوله مسکا او خوشحالي وه.

یوه ورځ د ملګرو سره د ډوبې اونې یخ سیوري ته ناست و، چې ګورو مولوي صیب مسلم کنړي ځان سره یو بل د سپینو جامو عالم هم زمونږ مجلس ته راوست، دا څېره زما لپآره نآشنا وه، کله مې نه وه لیدلې، د تعارف پرمهال مسلم مولوي صیب وویل چې دا شیخ ضیاء الحق کنړی نومیږي، ضروري تعارف یې وکړ، بیا یې وویل چې شیخ صیب د خراسان والي حافظ سعید خان سره بیعت لپآره راغلی و او اوس خپل اهل راوستلو په پار لاندې کېوزي، ترڅو د هجرت ستره فریضه ادا کړي. چې بیا دغه عالم د شیخ ابو عمر په نوم وځلید چې د خراسان غرږ مجلې تېرې ګڼه کې مو دده سیرت ولوست، څو ورځې تېرې شوې، مونږ همدې کوټ کې وو، چې سعد أمارتي د یو څو ملګرو په ملتیا هجرت راوکړ، او هغه هم زمونږ میلمه شو، هغه راسره دوه ،درې خوږې ورځې تیرې کړې، کوټ یې ډېر خوښ شو، د کوټ خوږ شاوخوا سیمې یې وکتلې، د لا پرمختګ لپاره مجاهدینو سره یې خپلې تجربې هم شریکې کړې، او بله ورځ مامند ته وخوځېد، مونږ هم د سعد أمارتي په ملتیا مامند ته پورته شو، دا نو مامند ته زمونږ لمړی سفر و. هلته مو مجاهدینو سره لیدنې کتنې وکړې، او د سینزلۍ په یو مرکز کې د تاسیسي تربیتي دورې لپاره منتظر شو، یوه ورځ ددغه مرکز په برنډه کې ناست وم، چې مخامخ لویې دروازې څخه یو څو ملګري رادننه شول، چې تر ټولو مخکې یې دنګ ځوان و، په تن یې تورو جامو او په سر یې تور پټکې نوراني سپین مخ ته لا ښکلا او رڼا وربښلې وه، زما سترګې هم دغه ځوان کې خښې شوې او هڅه مې کوله چې دا څوک دی ؟

دغه وخت نوموړی زما په طرف ډېر رانږدې شوی و، نو ناڅاپه مې متحیر ذهن ادراک شروع کړ، چې دا خو شیخ جلال الدین دی، هغه څېره چې زما لپاره نهایت آشنا وه، د یو بدن دوه غړي و ، خو په دغه لباس کې مې ونه پېژانده، ځکه چې په ټول عمر مې پدې لباس نه و کتلای، د وړوکوالي راهیسې مې شیخ صیب په سپینو جامو، سپینو او سرو دسمالونو او تور پټکي پرته په نورو کالیو کې نه و لیدلای!

خو سمدستي مې ورمنډه کړه، او ورغاړې وتم، هغه هم په غیږ کې جوخت ونیولم، دا نو هغه حالت و چې له بیان څخه بهر و. بیا مو شیخ صیب سره راغلیو نورو میلمنو سره سترې مه شي وکړه، شیخ طاهر باجوړي (سلمان خراساني) او داسې نور ملګري ورسره وو. بیخي مو په شیخ صیب سترګې نه مړیدې.

دلته مو تر مازیګره خوږ مجلس وکړ، مازیګر شیخ صیب ویل چې فلاني مرکز کې مو بیان دی، مونږ هم ورسره لاړو، ډېری مجاهدین راټول ول، شیخ صیب ماښام لمونځ ورکړ، په سجده کې یې زیات وژړل، رب العالمین ته یې په مونځ کې عاجزي وکړه او بیا یې زیات مؤثر او زړه راښکونکی بیان وکړ، د ملګرو سترګې لمدې شوې او ایمانونه یې تازه شول.

د بیان څخه وروسته شیخ صیب سره د ارهابي مولوي مرکز په لور روان شو، چې کله مرکز ته ورننوتلو ګورو چې د خراسان والي حافظ سعید خان ناست دی، څنګ کې ورسره سعد أمارتي هم ناست و ، مخامخ کټ کې ورسره سیف الاسلام مولوي صیب ناست و، ماښام تیاره وه، نو حافظ صیب متوجه شو، چې دا راتلونکی کس څوک دی ؟

چې کله شیخ صیب ورنږدې شو، نو حافظ صیب له خندا شین شو او ورته یې وویل: شیخ صیب زه خو حیران شوم چې دا کس څوک دی، ځکه چې بیخي لباس دې بدل کړی دی، تختو کې چې مونږ تاسې څو شپې وکړې نو ستاسې لباس هماغه د ښار سپینې جامې او سپین دسمال و، شیخ صیب هم په خندا شو او ورته یې وویل چې دا جامې راته محمدي قاري صیب رابدلې کړې ، چې شیخ صیب دې آسمان څکو غرونو او شنو درو کې دا تور کالي واغونده او دا خړ څرمنې بوټان په پښو کړه . تر دغه دمه شیخ صیب او سعد امارتي هم سترې مه شي نه وه کړې ، نو یو بل سره یې ښه کلک روغبړ وکړ او سیف الاسلام مولوي صیب خو هسې هم د شیخ صیب ګاونډي و، بیا دلته مجلس وشو،دماخستن د لمانځه امامت حافظ صیب وکړ، زمونږ هم حافظ صیب سره دا لمړی ملاقات و، شیخ صیب ورته زمونږ تعارف هم وکړ، بیا مو ورسره بیعت تازه کړ. دلته د پیښې سیمې ځېنو زیارتونو او غیر شرعي قبرونو په اړه لازمې مشورې وشوې، او بیا ناوخته سره ټول خواره شول تقبلهم الله.

شیخ جلال الدین د سهار هغه ځلیدونکی ستوری و ، چې د خراسان پر افق د لږ وخت لپاره راوخوت ،د شپې په تیارو کې یې ډېرو لار ورکو ته د سهار رڼا ورکړه ، د یو روڼ سهار د راتلو زیری یې په لر بر خواره کړل او بیا د سبا په راختلو د خراسان له لمن څخه ولوید ، خو دده په پل روانه قافله له همغه وخته له سختو ګرنګونو او پیچومو تیریږي او د خپل منزل په لور لار لنډوي ، شیخ جلال الدین څوک و او څنګه یې د اسلامي دولت تمکین ته هجرت وکړ او څنګه سره له نورو دوه ورونو یې ګلورینی ځوانی د الله عزوجل د نظام د قیام په لاره کې قربان کړې راځئ په دې لیکنه کې یې راسره ولولئ .

د شیخ صیب نوم او نسب:

د شیخ صیب خپل نوم ابو عبد الله جلال الدین و، پلار نوم یې حکیم سید او نیکه یې نور علي خان بن معتبر خان بن شاه خان بن موسی خان و، چې اصلاً د کنړ ولایت د ماڼوګي والسوالۍ د ننګلام د کلي اوسېدونکي و.

د شیخ صیب کورنۍ پیژندنه:

د شیخ صیب والد او نیکه د شوروي خلاف مختلفو محاذونو کې برخه اخیستې وه، کله چې د دوی کلی ننګلام د شوروي درنده ګانو لخوا په بشپړ ډول وسوځېد نو د نورو خلکو په څېر دوی هم کلي پرېښودو ته اړ شول او د بمبارونو په سیورو کې د هجرت په پار ووځي ، ورځې د ولږو او تندو په حالت کې د

غرونو اوږده مزلونه ترسره کړل، تر دې چې باجوړ ته ورسیدل، هلته یې څو ورځې تیرې کړې او بیا د صوابۍ ولسوالۍ تربیلې په نوم سیمه کې یې سکونت اختیار کړ، چې دوه کاله پس ورته الله عزوجل مشر ځوی ورکړ، او د جهاد د ډیرې مینې له امله یې پرې د مجاهد نوم کیښود، چې وروسته د شیخ مجاهد محمدي په نوم وځلید، بیا شیخ صیب جلال الدین یې څلورم ځوی و، چې د ولادت نیټه یې د ۱۴۱۲ هـ ق کال سره سمون خوري.

د شیخ صیب علمي ژوند:

شیخ صیب ابتدایي زده کړې د خپل والد صیب او د کلي ملایانو او استاذانو څخه وکړې، څو لږه موده وروسته د شیخ صیب والد د غریبۍ له امله بل ولایت ته مسافرۍ ته اړ شو او همانغه وه چې کور یې هم همغه ځای ته یوړ، شیخ صیب دغه ځای کې په ۱۱ میاشتو کې د قرآن کریم حفظ وکړ، الله عزوجل ورته نآشنا قوي حافظه ورکړې وه. او ډیر خوږ غږ یې درلود، د حفظ څخه وروسته د فیصل آباد مشهورې مدرسې [ستیانه بنګله] څخه یې علم حاصلول پیل کړل، چې په ټوله مدرسه کې یې لمړۍ نمره وګټله او سعودي څخه راغلیو میلمنو په لاس ورته انعامات ورکړل شول.

بیا شیخ صیب نورو زده کړو لپاره پیښور ته راغی، او دلته یې د پیښور یوې مشهورې مدرسې څخه د مختلفو فنونو په شمول د احادیثو او تفسیر علم ترلاسه کړ، او د لته یې هم د فراغت په وخت لمړی مقام وګاټه او ممتاز سند یې ترلاسه کړ.

د فراغت سره سم د پیښور په یوې مشهورې مدرسه کې مدرس مقرر شو، چې د احادیثو او فنونو اکثر کتابونه یې تدریس کړل، لکه صحیح البخاري، صحیح مسلم، سنن نسائي، مشکاة، بلوغ المرام، ریاض الصالحین، نخبة الفکر، القصیدة النونیة، الفیة ابن مالک، الکافیه، أصول الشاشي، المقامات الحریریة، هدایة النحو، علم الصیغه او داسې نور.

د قرآن کریم په تفسیر کې هم ورته رب العالمین نآشنا ملکه ورکړې وه، او هر کال شعبان او رمضان کې به یې تفسیر دوره کوله، چې سلګونو شاګردان به ورته حاضریدل. ددې سره ،سره شیخ صیب په یو مشهور جامع مسجد کې خطابت هم درلود، چې خطبې ته به یې د لرې پرتو سیمو څخه خلک راتلل.

د علم الدرایه او علم الروایه سربیره شیخ صیب ته الله تعالی د حق په دفاع کې باطل پرستو سره د مناظرو نآشنا کمال ورنصیب کړی و ،د فرق ضاله په رد کې یې تخصص درلود ددې هرڅه سره ، سره د عربي ژبې پیاوړی شاعر هم و، چې ځینې قصائد او آثار یې دیني مجلو کې چاپ شوي هم دي.

د شیخ صیب علمي آثار:

د شیخ صیب د احادیثو او فنونو غږیزې سلسلې مشهورې دي، چې د علم طالبان پرې خپله تنده ماتوي ، د شیخ صیب سفرونه، درسونه او مصروفیات زیات و، نو ځکه لیکلي آثار یې کم دي، یو بل عمده علت

یې دا دی چې شیخ صیب ډیر کم عمرۍ کې د شهادت په مرتبه فائز شو (ان شاء الله) نو ځکه یې هم لیکلي آثار کم دي، په ۲۰۱۰ میلادي کال کې یې فراغت وشو او اووه کاله پس شهید شو خو بیا هم ځینې رسائل یې دا دي:

۱.الرسالة المنصورة في اثبات الخلافة الموعودة.

دا په عربي ژبه کې ده، خو متاسفانه چې لا هم غیر مطبوع پاتې ده.

۲.أسباب النصرة والهزیمة.

پښتو ژبه کې یې د ځینو مجاهدینو په غوښتنه دا رساله لیکلې وه.

۳.رحمة الباري، پښتو کې مطبوع ده.

۴.الفرقان في بیان أن الکتاب والسنة وافیان. پښتو کې مطبوع ده.

۵.الاستدراک المتین علی الفتح المبین.

دا اصول حدیثو کې د یو عالم په کتاب استدراک دی او عربي ژبه کې مخطوطه ده.

٦.الانتصار علی ما تضمنه نبدید الکوثري من العثار.

دا هم په عربي ژبه کې علمي رساله ده، او لا تر اوسه هم مخطوطه ده.

او داسې نور د مسائلو تحقیقات یې وخت په وخت نشر شوي دي.

د بیاناتو، مناظرو او محاضرو په پایله کې یې ډیری خلکو ته الله عزوجل د توحید عقیده ورنصیب کړې ده.

شیخ صیب ذاتي صفات:

د شیخ صیب د ژوند دا باب هم ډیر پراخه دی، خو لنډ به داسې ووایو چې ډیر د ساده خوي مالک، حلیم، خوش مزاجه او د نرم زړه خاوند و، هیڅکله یې له چا څخه شخصي

انتقام نه دی اخیستی، تواضع، انابت، کتاب سنت باندې سخت غیرت کونکی او د مسلمانانو په درد خفه کیدونکی انسان و او رب العالمین ورته دا صفت ورکړی و ، چې ډیر سست خلک به یې هم په حرکت راوستل او د اسلام په نفع به یې یو فعالیت په لور سوق کول، انسان ته به یې حوصله ورکوله، د ملګرو او شاګردانو په پرمختګ به بې حده خوشحالیده. مُربيِّ انسان و، په خپلو محنتونو یې زیات خلک روزلي و، دغه رنګ ټولو اقرباؤ سره به یې خپلولي پالله او د نړۍ څخه سترګې پټولو پورې ترې مومنان او موحدین هیڅوک خفه نه و، او د الله دښمنان ترې خوشحاله نه و، حق ګوئي یې لوي صفت و، چې په هر شرک او مشرک، ردت او مرتد، بدعت او مبتدع یې رد کړی دی، حق یې بیان کړی دی، ولو که پدې لار کې ګواښل شوی و، ډارول شوی و، ځینو صوفیانو او مشرکانو لخوا وهل شوی هم و، حتی د مرګ پلانونه یې جوړ شوي وو، خو په الله عزوجل یې کلک توکل و او د حق په باب یې د بندګانو لحاظ نه پیژانده.

د شرک الحاکمیة مسئله یې ښه په ډاګه بیانه کړې وه، د روافضو په خلاف یې د پیښور په مشهورو جامعاتو کې محاضرات وړاندې کړي و، شرکي نظامونو ته وټونو ورکولو په پار یې قناعت بخش درسونه کول او د وټونو په وخت به یې عوامو او خواصو ته ددې فتنې څخه د ځان ژغورلو کلکه توصیه کوله، د جهاد فرضیت فتوه یې هم ښکاره ورکوله، د ګستاخ رسول په اړه د سر پرې کولو حکم یې د منبر په سر بیانوو، لنډه دا چې د هر باطل په وړاندې یې خپل منبر څخه غږ پورته کړی و.

د شیخ صیب جهادي ژوند:

زده کړو پرمهال شیخ صیب د جهاد سره رغبت پیدا شو، او د فرصت پیدا کیدو په صورت کې به یې جهاد ته مخه کوله، افغانستان او پاکستان دواړو کې یې تر یو حده جهاد کړی، د کنړ مختلفو سیمو لکه څوکۍ، دیوګل، وټپور، څانګار وغیره سیمو کې د مخلصو مجاهدینو سره یو ځای په سنګرونو کې له خلافت له ظهور څخه مخکې پاتې شوی چې د ډیرې جګړو په لړ کې یې د امریکایي درنده ګانو په بیزونو د مجاهدینو په ترسره شویو عملیاتو کې یې فعاله ونډه اخیستې وه، د پاکستان مرتد حکومت پرضد جنګیدونکي مجاهدین یې هم

منظم او منسجم کول، په شرعي اړخ کې یې د هغوئ همکاري کوله او د هغوئ د مفتي حیثیت یې درلود، د القاعدې د هغه وخت ځېنې مهاجر مفتیان یې شاګردان ول، د هغوی یې هم علمي او عملي روزنه کوله.

د روس او تونس مهاجرو مجاهدینو سره یې کلکې اړیکې وې، او پاکستان کې د مجاهدینو اسلحې وغیره به یې هم ساتلې، دغه رنګ خپله یې هم ښاري تربیت تر یو حده کړې و خو د مشکلاتو له امله یې لا پای ته نه و رسولې.

لکه څنګه چې پیښور کې شیخ صیب یو مطرح علمي او جهادي شخصیت و، ځکه استخباراتو پرې ډول، ډول هڅې وکړې، چې په خپله نفع یې استعمال کړي. په دې لړ کې یې شیخ صیب ته مختلف نوعه وړاندیزونه وکړل، د مال ، دولت، چوکۍ ، منصب، نکاحونو ، موټرونو ، کورونو، الغرض زیات مادیات یې ورته مخې ته کړل خو الله عزوجل په خپل فضل له دغه دسیسو او توطیو څخه وژغوره، ډېرو جاهلانو او متجاهلانو ورته د استخباراتي شبکو په لمسون د خپل تنظیم، ګوند او ډلې جوړولو مشورې هم ورکړې خو شیخ صیب ورته تل منفي ځواب وایه.

د اسلامي خلافت سره بیعت:

کله چې د خراسان په ځمکه امارت د اسلام ماتونکو کړنو په ډنډ ورګډ شو، او تر سره په کې ور ډوب شو ، نو شیخ صیب هم له طالبانو څخه ناهیلی شو او د عراق او شام مثبت بدلونونو ته زیات هیله مند و، خو دا یې په ګمان کې هم نه و چې د اسلامي دولت وړانګې به د خراسان او هند تر سیمو هم راورسیږي. نو ځکه یې عراق او شام ته د هجرت په اړه خپله هم تصمیم درلود او د راز ملګرو ته یې هم د هجرت لپاره د چمتوالي توصیه کوله خو د رب لوئي احسان و، چې خراسان یې هم ددغه نعمت څخه برخمن کړ، چې د الله ددین د نفاذ په پار جنګیدونکو مجاهدینو ته یې سپیڅلی ډګر او مبارک سنګر پرانیست، او د شیخ صیب مزل هم رالنډ شو چې خوشحالي یې له حده زیاته وه او د رب حمدونه یې ادا کول.

ابتدآء د شیخ صیب تعلق او رابطه د خراسان ولایت نائب عبد الرؤوف خادم تقبله الله دملګرو سره وه، او د هغوئ په غوښتنه یې ورته یوه ارزښتناکه رساله هم ولیږله چې په قیمتي نصائحو او مهمو لارښودنو مشتمله وه.

چې لږه موده وروسته ورته د خراسان والي حافظ سعید خان غږیز پیغام راغی، شیخ صیب ته یې دعوت ورکړی و، چې عراق او شام ته د هجرت اراده ترک کړي، او خراسان ته هجرت وکړي، ځکه دلته ورته ضرورت زیات دی، نو هماغه وه چې شیخ صیب هم تیاری شروع کړ او دا هغه وخت و چې د پاکستان استخباراتو هم نور زړه راتنګ شوی و او یوه شپه د شیخ صیب کور ته راغلي و، خو الله عزوجل ترې وساته او په خفیه ترتیب سره افغانستان ته راغی، دلته سېمه ایزو علماؤ او ولس یې تود هرکلی وکړ، او په ویاړ یې ځای ، ځای جلسې منعقد شوې، په مختلفو رادیوګانو کې یې برنامې مقرر شوې، د تدریس لپاره ورته د ننګرهار او کنړ مشهورو مدارسو وړاندیزونه وکړل، خو د شیخ صیب اراده بدله وه، او د لږ ځنډ څخه وروسته یې د لوی الله په مرسته هجرت وکړ.

د اسلامي خلافت په تمکین کې ژوند:

کله چې شیخ صیب د دار الاسلام پیښې سیمې ته راورسید، الله عزوجل ته یې د حمد سجده وکړه، او سخت د خوشحالۍ احساس یې کاوه، شیخ عبد الحسیب یې لا له مخه هرکلي ته راغلی و، ابتداء د شیخ صیب اراده دا وه چې بیعت کوم بیا بیرته لاندې کېوزم او د اهل سره به هجرت وکړم، خو په لار کې یې د هجرت اراده وکړه، شیخ عبد الحسیب تقبله الله ویل چې په لار کې مې دعاګانې کولې چې ربه ته د شیخ صیب زړه هجرت ته مایله کړه، خو کله چې ملګرو یې خبر کړ چې د هجرت په نیت راغلی، نو سخت خوشحاله شو د شیخ عبد الحسیب په ملتیا تختو ته د حافظ سعید خان خواته ورغلل، حافظ صیب یې هم تود هرکلی وکړ، او څلور شپې یې ورسره یوځای وکړې، په تختو کې شیخ صیب د خلافت په تایید د (الخلافة الموعودة) په نوم ۵۰ دقیقې لمړی ویډیویی بیان وکړ، او برملا یې د پاکستان استخباراتو ، افغانستان حکومت او د دوئ بادارانو امریکایانو په خلاف مسلمانان جهاد ته راوبلل، د جهاد د تجدید غږ یې پورته کړ، چې له مرکز څخه رسمي نشر شو.

بیا حافظ صیب ورته وویل چې د تمکین په ټولو سیمو یوه دوره ووهه ، چې ټول مجاهدین تشویق شي، هماغه وو، چې شیخ صیب خپل سفر پیل کړ، د عد الخیلو څخه رانیولی، پیښې، مامند، کوټ، ګورګورئ پورې لاړ. بیا یې باندر او نازیانو ته اراده وه ،خو ژوند ورسره وفا ونه کړه.

کله چې شیخ صیب له تختو څخه راکوز شو نو د مجاهدینو هر مرکز ته یې سر ورښکاره کاوه او مشرانو ملګرو سره یې ملاقاتونه کول، چې ددغه جملې څخه یو شیخ منصور و، چې واقعه یې ډېره جالبه ده، شیخ منصور چې په شدت سره یې د شیخ جلال الدین انتظار کاوه، کله چې شیخ صیب د هغه کور سورکمر مامند ته ورغی ، نو شیخ منصور ورته ښه میلمستیا وکړه. په مجلس کې شیخ منصور ته شیخ جلال الدین وویل چې شیخ صیب ما پیژنې ؟ هغه ورته وویل: ولې دې نه پیژنم ، ما خو ستا زیاتې مناظرې کتلي دي، خپل د سعودي ژوند پرمهال مې ستا بیانات او درسونه تعقیب کړي دي، الحمد لله یو حق پرسته شیخ یې! شیخ جلال الدین ورته په خندا شو، وایي شیخ صیب ودې نه پیژندلم ! هغه هم حیران شو، چې د شیخ هدف څه دی ؟

شیخ جلال الدین ورته کیسه شروع کړه، چې شیخ صیب ستا یاد شي چې ته د پیښور فلانۍ مشهورې مدرسې ته روان وې، او له تا څخه یو بل کس هم ددغه مدرسې ادرس وغوښت، تا له ځان سره کړ، او بیا پدغه مدرسه کې داخلې بندې شوې وې، هغه کس خفه او پریشانه ناست و، بیا ورته تا داخله واخیسته. او د سعودي څخه راګرځېدو پرمهال به وخت نا وخت مدرسې ته راتللی او د هغه هلک پوښتنه به دې کوله، هغه ماشوم دې یادیږي ؟

اوس د شیخ منصور ذهن کار وکړ، وایي هو والله ما خو دغه مدرسه کې جلال الدین په نوم ماشوم داخل کړی و، اوس هم راته ښه یاد دي، خو زما څه فکر و چې هغه جلال الدین به ته یې، خه ته هماغه جلال الدین یې ؟ شیخ صیب ورته ویل هو هغه زه وم چې د دغه مدرسې داخلې وخت تیر و، ماته یې داخله نه راکوله ،خو تا زما سفارش وکړ، او ستا د لحاظه یې ماته داخله راکړه، دغه وخت نو شیخ منصور باندې خوشحالۍ له امله یو نآشنا کیفیت طاري شو، چې د لیکلو څخه بهر دی.. او زیات حمدونه یې ادا کړل چې زما د لاس نیالګي نن میوه نیولې ده او له سیورې یې ډېری عالمونه استفاده کوي.

د جهادي دورې په سلسله کې چې کله کوټ ته لاړ، نو مخلص (سپرغۍ) ورسره ځان لازم کړ او شیخ ته یې ویل چې ما ځان سره د لارې ملګری کړه، سره ددې چې دغه وخت هغه د بټي کوټ مسؤول ټاکل شوی و، خو ویل یې چې زه حافظ صیب ته وایم چې ما د بټي کوټ مسؤول په ځای د شیخ جلال الدین محافظ

وټاکي، خو بیا ورته شیخ صیب قناعت ورکړ او په خفه زړه رخصت شو. ددې څخه وروسته شیخ صیب هسکې مېنې ته لاړ، هلته د نورو مجاهدینو ترڅنګ عمر کاروان د زیاتې مینې او خلوص اظهار وکړ او له بیاناتو یې استفاده وکړه. په تمکین کې لر بر د هر کور، هر موټر، هر مسجد او حتی هر مجاهد په ایم پي تریانو کې د شیخ صیب بیانات اچولي وو، او هر خوا د همدې بیاناتو غږونه اوریدل کیدل.

د تمکین ټولو مجاهدینو شیخ صیب سره له حده زیاته مینه کوله، تقریبا شل کسه مشرانو مجاهدینو حافظ صیب ته دا وړاندیز کړی و، چې مونږ شیخ صیب سره محافظین او خادمین وټاکه، خو حافظ صیب ورته د سلمان خراساني په شمول پنځه تکړه ملګري ورکړي وو، چې هره لحه به ورسره یوځای وو.

شیخ صیب پدغه ټولو سیمو کې مجاهدین قتال او د طالبانو خلاف جګړې ته راوبلل، هغه خلک چې د طالبانو په ارتداد کې یې شک کوو، د شیخ د وضاحت او مدللې څېړنې وروسته د هغوی شکوک هم د منځه لاړل، او بیخي هر مجاهد استشهاد او انغماس ته تیار شو. د دار الکفر څخه خواصو او عوامو د شیخ صیب دعوت ته لبیک وویلو، او د هجرتونو دوامداره لړۍ شروع شوه. او د خلافت په لیکو کې د شیخ صیب لسګونو شاګردانو قرباني ورکړه او ځینې لا هم ددې مبارک صف لارویان دي. ثبتهم الله علی الحق.

کله چې شیخ صیب د تمکین له یو طرف دورې څخه راوګرځېد نو حافظ صیب عالي شورى ته وغوښت، او هلته یې د المکتب الشرعي مسؤول وټاکه، چې هغه وخت ددرې اداراتو څخه عبارت و، دعوت، حسبه او شرطه. شیخ صیب شپه او ورځ کوشش وکړ چې دعوت او د منکراتو مخنیوي په پار مؤثر او چټک اقدامات ترسره کړي، د اداراتو نظم یې راجوړ کړ، هرې سیمې ته یې د اداري ملګري ولیږل، د نازیانو څخه ګورګورۍ پورې یې خپل ملګري خواره کړل او لازمې سپاربښتنې یې ورته وکړې، د پیښې او لته بند په شمول په ټولو سیمو کې یې د زیارتونو په هکله د ورانولو فرمان صادر کړ، او خپله یې عملا نظارت کاوه.

ددې سره د مجاهدینو خطونو او سنګرونو ته یې دوامداره تګ راتګ درلود، او د عدلخیلو بیز په جنګ کې یې خپله شرکت وکړ، او دا غزوه یې د مفتاح الخیر په نوم

ونوموله، او د معرکې په دوران کې یې مسلمانانو ته او خلیفة المسلمین أبو بکر البغدادي ته په عربي ژبه جامع کلمات وړاندې کړل.

بیا د امریکایانو او افغاني مرتدینو قوې سره په دویمه او دریمه ورځ جنګ کې هم شامل شو، چې دغه جنګ کې شیخ عبد الحسیب او سیف الاسلام مولوي صیب پشمول اکثر مشران زخمیان شوي وو، شیخ صیب د حافظ سعید خان په ملتیا د جنګ په شیبو کې په ټولو سنګرونو وګرځېد، مجاهدینو ته یې ډاډ ورکړ، مجاهدینو هم چې کله حافظ صیب او شیخ صیب په سنګرونو کې ولیدل نو حوصلې یې بیخي لوړې شوې، چې بیا یې داسې د شجاعت ډکې کارنامې وکړې چې انسان یې له تصور څخه عاجزه دی. یو مجاهد چې راکټ چي و، د پوستې څخه راروان ټانک یې هدف ګرځاوه چې پدې کې راکټ مرمۍ پوچه شوه، خو ددغه مجاهد زړه کې د غره په اندازه ایمان و، چې را روان ټانک یې په تش راکټ لانچر باندې وواهه، خو ټانک په تیښته بریالی شو. او پوسته یې دغه مجاهدینو ته پرېښوده.

شیخ صیب په تمکین کې یواځې درې میاشتې تیرې کړې وې خو د الله په مرسته یې دومره کارونه وکړل چې عام خلک یې په کلونو کې نشي کولای. ذلک فضل الله یؤتیه من یشآء.

خلاصه دا چې شیخ صیب په تمکین کې د یو مفتي، قاضي، سنګري مجاهد، محتسب، داعي، معلم، مدرب او یو خه رهبر حیثیت درلود. تقبله الله.

د شیخ مجاهد محمدي هجرت:

د شیخ صیب مشر ورور شیخ مجاهد محمدي نومېده، چې یو پیاوړی او جید شیخ و، د علم، مضبوطې حافظې، خایسته اخلاقو، تواضع، حیاء، شجاعت او د ظاهري حسن مجمع وه، لمړۍ زده کړې یې په پیښور کې له عرب استاذانو څخه کړې وې، بیا کراچۍ مشهورې مدرسې جامعه أبي بکر ته لاړ او دفراغت سند یې د ګوجرانوالې مشهورې مدرسې محمدیې څخه ترلاسه کړی و. د فراغت څخه وروسته د پاکستان په مختلفو مهمو ښارونو کې یې درس تدریس او خطابت کړی دی، الله عزوجل ورته عربیت او خطابت فن کې خاص مهارت وربښلی و، تر دې چې پنجاب طرف به ورته خطیب الاسلام لقب ورکول کیده. د ملګرو د مدیریت ښه وړتیا یې درلوده، د کلک عزم او مضبوط جسم خاوند و. جهاد سره یې بې کچه مینه درلوده. د امریکایي اشغال پر وړاندې یې کلکه مبارزه کړې ده، د کنړ او ننګرهار مختلفو محاذونو ته حاضر

شوی او ډېری سټریاوې یې ګاللي، او د ځینو محاذونو رهبري یې هم کړې. د پاکستان حکومت پرضد مبارزې ته

یې زیات خلک چمتو کړي و، څو ځل پرې استخباراتو چاپه وهلی خو الله عزوجل ترې ژغورلی، په مختلفو ساحو کې ممنوع الدخول اعلان شوی و، د اسلامي خلافت سرګرم داعي و، او د شیخ جلال الدین هجرت پر وخت یې غوښتل چې له شیخ صیب سره یوځای هجرت وکړي، خو هغه له ځان څخه وروسته پاتې کړ، چې وروسته به راشی.

هماغه وه چې شیخ صیب پسې دوه میاشتې وروسته یې د خپل اهل وعیال سره هجرت وکړ، او د ژوند یواځنی هدف چې هجرت و، الله عزوجل پوره کړ، تمکین ته د شپې پرمهال راورسېد، بیخي نابلده و خو لار کې ورسره شیخ ابو عمر مخ شوی و، او خپل کور ته یې بوتلی و، هلته یې ورته ښه اکرام کړی و او سهار ناوخته یې بیا رخصت کړی و.

ورځ دوه وروسته شیخ مجاهد محمدي، د شیخ جلال الدین، شیخ سلمان خراساني او سیف الاسلام مولوي صیب سره په ګډه حافظ سعید خان ته ورغلل، هلته یې ورسره لاس په لاس بیعت وکړ. حافظ صیب ورته سپاربښتنه وکړه چې کور دې برابر کړه، چې د اسلامي نظام خدمت ته جوګه شې.

د شیخینو شهادت:

د شیخ صیب جلال الدین د هجرت دریمه میاشت شروع وه، او د شیخ مجاهد محمدي د هجرت لسمه ورځ وه، د ۱۴۳٦ قمري کال د محرم الحرام لمړی نیټه وه، د معسکر مسؤول بلال استاذ لخوا ورسره اړیکه ونیول شوه چې تربیتي دوره فارغیږي او تاسې یې اختتامي مجلس ته راشئ، بلال استاذ ورته په مخابره کې شفر

ورکولو سره د مامند خروه سیمه یاده کړې وه، خو شیخ صیب شفر کې خطا شوی و او هغه خیال دا و چې استاذ د مامند لته بند انتظار ګاه یادوي. دواړه شیخان د زید، اسامه او نورخان ډرایور سره انتظار ګاه ته راغلل. په دغه وخت مونږ بهر پېرې ته ولاړ و، چې سپینې کرولا څخه دوی راکوز شول، او پورته راوختل، ما سره څنګ ته د شیخ جلال الدین یو شاګرد هم ولاړ و، کله چې شیخان رانږدې شو نو دا ور وړاندې شو او دواړه یې تالاشي کړل، که څه هم ددې ملګري مخ پټ و ،خو شیخ دومره ذهین او زیرکه و چې خپل شاګرد یې وپیژانده ، په مېنه یې ورغږ کړ : ماشاء الله فلانکیه څنګه یې ؟

په لومړیوکې تمکین نا اشنا نظام او مظبوط اصول و ، چې ټولو مشرانو او کشرانو ته یو ډول و ، او هیڅ مشر هم په دې نه خفه کیده چې د هغه اصولو لاندې به کله راتللو نو خوشالیدل به ، چې له هغې یو هم په څېنو ساحو کې د تالاشۍ اصول و .

بیا یې مونږ سره روغبړ وکړ، دننه لاړو، ملګرو ورته چای راوړ،د شیخ مجاهد خوله بیخي له خندا ډکه وه، خو شیخ جلال الدین دغه ورځو کې یوه پیچیده قضا څخه ایله فارغ شوی و، ځکه په سر یې درد و. خو کله چې خبر شو چې دوره خو دلته نه فارغیږي ،نو سخت خفه شو چې مونږ ځای خطا کړی، خو دلته راتګ له امله یې آخري دیدن زمونږ په مقدر و، ملګرو سره یو ساعت کیناست او بیا یې وعده وکړه چې ان شاء الله ستاسې دورې فراغت مراسمو ته به درځم او بیا رخصت شو.

زمونږ څخه چې لاندې تللی و ، هلته یې شیخ منصور او شیخ ابو عمر سره هم آخري ملاقات کړی و، د راتلونکي جمعې کارونه یې سره تقسیم کړي و، شیخان دواړه کور ته په لار وو، چې اسدخیلو پل سره یې عباس قاري صاحب ولېد، هغه له کوټ څخه د شیخ صیب ملاقات او د اداري راپور ورکولو ته راغلی و، شیخ صیب خپل ملګري اسامه ته وویل چې ته کوز شه او عباس قاري صیب یې ځان سره موټر کې کیناوه، بیا هماغه وه چې مازیګر ناوخته مو یو دروند غږ تر غوږه شو، خو لا هم مونږ خبر نه و، ماخستن ناوخته خبر شو چې پدغه ډرون برید کې شیخان صاحبان د خپلو دریو ملګرو په شمول د ویشتل شوي دي . تقبلهم الله. دا نو زمونږ د ژوند تر ټولو ترخه شپه وه، مونږ لا هم په تردد کې و ، چې شاید یو خو به ژوندی وي، شپه بیخي اوږده شوه، چې کله سهار شو، د معسکر وخت مو هم پوره و، ټول ملګري د تاسیسي لپاره خروې ته روان شو، چې په سور کمر کې بلال استاذ ولاړ و، مونږ یې له نورو ملګرو راجدا کړو، او کلکه غاړه یې راکړه، له سترګو یې اوښکې رواني وې نو مونږ هم پوهه شو چې نور دې خبره کې د شک او تردد مجال نشته، خبره یقیني ده.... بلال استاذ پورته د شیخ منصور کور ته وخیژولو، هلته شیخ عبد الحسیب هم ناست و، او د نیابت یې اوله ورځ وه، مونږ ته یې زیاته تسلي راکړه، او شیخ صیب جلال الدین یې خپل استاذ وباله خو کله چې مونږ د هغه په خبرو خپل ډاډ ترلاسه کړ نو بیا د هغه اوښکې بې اختیاره رواني شوې... او دا الفاظ یې زما اوس هم په یاد دي، ویل یې: شاید چې بیا د شیخ جلال په شان عالم هیچرې ونه وینم!

بیا د دواړو شیخانو کورونو ته لاړو، زیات ملګري ډاډ او تسلي ته راتلل، شیخ منصور، عمر کاروان، سیف الاسلام مولوي صیب، طاهر مولوي صیب په شمول زیات ملګري راتلل او هر یو خپله برخه ډاډ ګیرنه راکوله. بیا د شیخانو قبرونو ته لاړو، پنځه قبرونه په قطار و، د شیخ مجاهد، شیخ جلال الدین، قاري عباس، نور خان او زید د ټولو قبرونه د سنت طریقې بیخي موافق جوړ و، د خپلو خپلوانو څخه لرې دهجرت په دیار کې د یو خړ غره په ډډه کې خښ شول. تقبلهم الله أجمعین.

د خالد (ضیاء الاسلام) هجرت:

د شیخانو شهادت څخه لږه موده وروسته د شیخ صیب کشر ورور چې خپل نوم یې ضیاء الاسلام او شفري نوم یې خالد و، هجرت وکړ، ضیاء الاسلام چې د قرآن کریم جید قاري و، او د مکتب ترڅنګ یې درې درجې دیني سبقونه هم ویلي و. د ماشومتوب راهیسې د غیرتي خوی خاوند و، دار الاسلام ته یې هجرت وکړ، دلته د تاسیسي دورې څخه وروسته د خلافت جامعه کې یې خپلو سبقونو ته دوام ورکړ، او ماسپښین یې د یوې حلقې استاذي هم کوله، خو لږ وروسته قاري خالد هم خطونو او سنګرونو ته مخه کړه، او استشهادي کتیبه کې یې نوم لیکنه وکړه. او د مسؤول قاري محسن لخوا خطونو ته ولیږل شو، هماغه وه چې ګورګورۍ خطونو او رباطونو پورې یې ځان هر سنګر ته ورساوه ، یوه ورځ چې وحشي امریکایانو او افغاني مرتدینو د فضا او ځمکې له لارې د ګورګورۍ په تمکین برید وکړ، دې بل طرف د خلافت انغماسیانو هم د الله د رضا او اسلامي نظام ساتنې په پار ځانونه چمتو کړل، مجاهدینو انغماسي لپاره نومونه لیکل، د هغه ملګرو مسؤول ډاکټر بلال راته کیسه کوله چې خالد د دوه نورو ملګرو سره یوځای راغی او راته یې وویل چې زمونږ نومونه هم انغماسیانو کې ولیکه، ما ورته کړه چې تاسې درې واړو سترګو نظرونه کمزوري دي، چشمې مو اچولي دي، نو تاسې باید دفاع لپاره وروستي صفونو کې نومونه ولیکئ، وایي خالد راته بد بد وکتل او ویې ویل چې دفاع لپاره مو بوځې نو مونږ بیخي تا سره نه ځو، لاړل او د کتیبة الفتح مسؤول قاري سعید سره یې خبره وکړه او هغه هم د دوی شوق او جذبې قدر کولو له امله په لمړیو انغماسیانو کې د دوی نومونه ولیکل، او بیا هماغه وه چې د نورو ملګرو سره دوی هم تر ټولو مخکې خپلو پوستو ته ځانونه ورسول، خو متاسفانه چې پوستې ته داخلیدو وروسته د یو مرتد لخوا د خالد په لور ګرنیټ راوغورځول شو، چې دده په خیټه کې چرې لاړې او زخمي شو. پوسته فتحه شوه، مرتدین الله عزوجل ذلیله کړل، او تر څلویښتو زیات مرداران هم شوي وو، مجاهدینو حمدونه ادا کړل او بیا یې زخمي خالد راواخستو، لوړې مېنې د لارې یې اوغز ته راوړ، چې دلته یې وکتلو نو د ګرنیټ چرې یې نس ته داخلې شوې وې، او کولمې یې ورته سورۍ کړې وې، د اوغز ډاکټرانو که څه هم ددې څخه مخکې د کولمو عملیات (آپریشن) نه و کړی، خو دا یې لمړی عملیات (آپریشن) و، او کامیاب شو، مونږ هم ورغلو، ومو کتل، سخت راته خوشحاله شو. د هغه د سفر او حضر ملګري اسد الله بدخشاني تقبله الله او ضیاء الله کنړي تقبله الله ورسره په خدمت موظف و، چې زمونږ حضور ته یې هیڅ اړتیا نه درلوده، او د ډاکټرانو لخوا یې د صحت ډاډ راکړل شو، او د طبي اصولو موافق یې مونږ رخصت کړو. د زخم په حالت کې هم خالد د الله عزوجل ذکر کاوه، بیا څو ورځې وروسته یې آپریشن بیرته شکیدلی و، او بیا یې ورته عملیات کړي وو، چې دغه وخت مونږ په یو سفر و، کله چې بیرته راوګرځیدو او دا اراده مو درلوده چې اوغز ته یې پوښتنې

ته ورشو، په لار کې خبر شو چې هغه شهید شوی دی او خښ کړای شوی هم دی. بیا څه موده وروسته مونږ اوغز ته لاړو، له یو بل څخه مو ډېره دده د قبر پوښتنه وکړه، خو چا چې خښ کړی و، هغوی مو پیدا نه کړل، او تر ننه ددغه ګلالي خالد قبر لا درکه دی. تقبله الله.

هو! دا و هغه درې ستوري چې د خراسان پر افق وپرقیدل ، وځلیدل ، دومره رڼا او ځلا یې وشیندله چې د ستر هدف په لور د تللې لار ټول تیاره ګوټونه یې د خپلې هم رکابه قافلې لپاره روښانه کړل ، د پوې میړنۍ مور په غیږ کې پالل شوي دې دریو ورونو د تاریخ بابونه په خپلو وینو رنګین کړل تقبلهم الله ، د شیخ جلال الدین او ورسره په شهیدو شویو ورونو په علمیت ، اخلاقو ، کارنامو او حماسو کتابونه لیکل کیږي ، هر یو ملګري سره یې په هره برخه کې ځانګړې خاطرې او کیسې دي خو د مجلې ددې برخې له برداشته بهر دي مونږ به یوازې د شیخ جلال الدین تقبله الله په اړه دده د یو بل ملګري مجاهد شیخ څو خاطرې تاسې سره شریکې کړو :

[فضل الکریم المتعال]

[في ذكر بعض فضائل الشيخ جلال]

دشیخ جلال الدین تقبله الله سره زما ناسته او ولاړه صرف د دین په وجه منځ ته راغلې وه ، په دی کې بل هیڅ کوم سبب داخل نه و، شیخ تقبله الله د خایسته اخلاقو سره سره د ډېرې قوي او راسخې حافظې خاوند وو، په دې باب کې پرې الله لامتناهي پیرزوینه کړې وه ، دقران او حدیثو سره ، سره یې د عربي قواعدو هم راسخ علم درلوده ، یادمې شي چې کله ما دتقلید په رد کتاب ولیکه ،نو جناب شیخ تقبله الله ته مې دتقریظ د پاره ورکړ ، شیخ چې ماته ددې څومره خوښې ښکاره کړه اوس مې هم د هغه هاغه کلمات یاد دي، چې دا د شیخ تقبله الله له کریمه عاداتو څخه وو چې

که کوم ملګري کې به څومره هم علمي کمزوري وه، نو کوشش به یې دا و چې د هغه حوصله افزایي وکړي او هغه ته هغه ډاډ ورکړي چې دهغې په وجه د هغه د مطلوب کار سره شوق او دلچسپي نوره هم زیاته شي، شیخ تقبله الله سمدستي یو کاغذ ته لاس وروړد کړ، قلم یې له جیب څخه راوویسته او لیکل یې شروع کړل ، زما ګمان وو دوه درې کرښې تقریظ به په پښتو ژبه کې ولیکي، خو چې کله له لیکلو څخه فارغ شو او ماته یې ویل دا زما هغه اظهارات دي، چې ستا د کتاب متعلق مې ولیکل، ما چې کله خط ته وکتل نو د کاغذ دواړه مخه یې ډک کړي وو او لیکل یې هم په عربي ژبه کړي وو، عربي لیکل اسان هم نه دي او بیا داسې عربي سبحان الله چې ماڅومره خلقو ته ښودلې هغوی اول داخبره کړی چې دا لیکل کوم عرب عالم کړي دي، عجم او داسې لیکل!!

ځکه په یو ځل مسلسل لیکل بغیر له دې چې نظر ثانی پرې وشي او هغې کې دې صرفي او نحوي څه غلطۍ نه وي، دا یقیناً ګران کار دی ، شیخ رحمه الله سره زمونږ د تعلق له جوړیدو لږ وروسته هغه هجرت وکړ،او د اسلامي دولت خراسان ولایت ته راغی، کله چې دهغه صوتي بیانات او مرئی اصدارات نشر شول ،نو ددین دشمنان ډیر ودردیدل ، تا به ویل چې ګویا دپیښور زړه له سینې څخه وتلي دی ، موحدین مسلمانان د شیخ تقبله الله په دې کار خوشحال وو، خو هغه خلق چې د ای ایس ای د ادارو طرف دار وو ، هغوی نو لولپه شول ، ځکه د شیخ تقبله الله تقوی، صداقت او د باعمله علم قیصی او ثبوتونه ټولو ته رسیدلي وو، د هغه په هجرت او خلافت سره په بیعت کولو هغو خلقو ته هم د خلافت دحقانیت جانب ښکاره شو چې هغوی د بلاعمه درباري ملایانو او دا مدني شیخانو او د مرتدو حکامو په شیطاني وسوسو څخه په شک او تردد کې واقع شوي وو لِّيَهْلِكَ مَنْ هَلَكَ عَن بَيِّنَةٍ وَيَحْيَىٰ مَنْ حَيَّ عَن بَيِّنَةٍ وَإِنَّ اللَّهَ لَسَمِيعٌ عَلِيمٌ (ژباړه) تر څو هلاک کېدونکي له ښکاره دلیل سره هلاک شي او څوک چې ژوندی پاتي کېدونکي دي، هغه له روښانه دلیل سره ژوندي پاتې شي. په باوري ډول الله اورېدونکی او پوهېدونکی دی.

شیخ تقبله الله له کریمه عاداتو څخه داهم وه چې هغه به کوشش کولو چې هر ملګری د خیر په کار کی استعمال شي ،چې دا یقناً هغه کامله خیرخواهي ده ،چې الله تبارک وتعالی د انسانانو ترمنځه په هغوی فرض ګرځولې ده ، شیخ تقبله الله دمخکې نه هم جهاد سره بی حده محبت وو او څو څو ځله یې د امریکایانو او نورو مرتدینو خلاف د موحدینو امیرانو یه قیادت کی سنګرونو کی وخت تیر کړی وو، خو د هغه د درسونو یو مهم هدف هم دا وو، چې اسلامي امت اتفاق او یو والي طرف ته وهڅوي، نو د خلافت د اعلان څخه مخکې به یې د خلافت متعلق بیانونو کې د هغې یادونه کوله ، نو کله چې خلافت اعلان شو او په دې مطمئن شو چې دا د کوم کافر او یا مرتد نظام سره اړیکې نه لري، نو ددې طرف یی دعوت شروع کړ او ددې د حقانیت دلایل به یې مجالسو کی بیانول ،تر دې چې د لشکر خبیثه چې د ای ایس ای اداره ده، د هغوی له طرفه شیخ تقبله الله د نیولو او اسیر کولو خسیس ناکام او مذموم کوششونه شروع شول ، شیخ تقبله الله ، الله تبارک وتعالی په خپل خاص فضل د دوی له توطیو وساته او دشمنان یی الله رب کریم خائبین ،خاسرین وګرځول ، ماته رایاد شول کله چی زما والد ګرامي تقبله الله د خراسان ولایت ته هجرت وکړ او د خراسان د والي جناب حافظ سعید خان تقبله الله سره یې بیعت وکړ دا هغه زمانه ده چې ماته الله عزوجل تر دې دمه دهجرت توفیق نه وو راکړی ، ماته مې والد تقبله الله ټوله قیصه وکړه د هجرت په دغه زمانه کې چې د هغه د شیخ جلال الدین تقبله الله سره ملاقات شوی و، هغه راته پلار داسې بیانوي: زه یو مسجد کې ناست وم، ډیری نور مجاهدین هم وو چا راته وویل دلته نږدې د شیخ جلال الدین کور دی، په همدې خبرو کې وو، چې شیخ تقبله الله نوراني څیره مسجد ته رادننه شو، خو چې کله یې دخلقو ترمنځ په ماسترګی ولګیدی، نو بې حده زیات د خوشحالی اظهار یې وکړ او په غیږ کې یې کلک ونیولم او ډیر عجیب ، عجیب کلمات یې زما په مدح کې له خولې مبارکی څخه راووتل ، پلار مې ویل چې : بیا کله زه د جناب حافظ سعید خان تقبله الله په امر بیرته راستنیدم ، نو شیخ تقبله الله راسره بیا مخامخ شو او د الله په امانۍ په وخت کی یې راسره ښکلی صحبت وکړ او بیا یې جیب ته لاس کړ او پنځه زره ۵۰۰ کالدارې را وویستې ماته یې راکړی ، چې دا به دې زوی ته ورکړې او ورته به ووایې چې که د هجرت کولو خرچه درسره نه وي، نو په دې د لارې خرچه کیږي، دلته علماؤ ته ضرورت دی او هجرت فرض شوی دی ، فوراً هجرت وکړه او راشه ، ځکه مجاهدین د شرعي احکامو زده کړو ته حاجت لري او دا د اهل حقو علماؤ فرض جوړیږي، چې د حق دعوت او خدمت وکړي والد صیب مې ویل: چې کله زه راروان شوم ،نو د ډیر مزل د کولو نه وروسته راپسې شاته یو مجاهد اوازونه کول او رامنډې یې وهلې ،مونږ ودریدو چی دا به څوک وي او څه به وایي چې کله مونږ ته راورسیده راغی نو هغه د شیخ تقبله الله د ملګرو څخه یو مجاهد وو لاس کی یې خط نیولی وو، خط یی راکړ او راته یې وویل چی شیخ تقبله الله وایي چې دا خط به دې هم زوی ته ورکړې والد تقبله الله مې ویل : چی ما کله خط خلاص کړ، نو خط کې یي د اسلامي خلافت د حقانیت او ددې د مخالفینو د ردت مختصر،مختصر دلایل او بیا یې ماته د هجرت کولو په تاکید سره لیکل کړی وو، والد صاحب مې راته وویل :چې په دیر تاکید یې له تانه دهجرت کولو مطالبه کړې وه او ستا د ضرورت یې یادونه یې کړې وه، خو چونکه لاری ډیرې خطري وی، د افغان مرتدینو بې شماره پوستې او د وطني طالبانو هغه غلچکی چیک پاینونه چې د پاکستان په امر یې ځاې پر ځای ددې د پاره اچولي وو چې څوک د اسلامي خلافت لیکو ته ورنه شي او یا هم له هغه ځایه بل طرف نقل نه شي، نو د ملګرو په مشوره مونږ دغه خط هلته د یو ګټ څخه لاندې کیخوده ،ددې یرې څخه چې که دا چرته د تالاشۍ په وخت کی راښکاره شي، نو الله مه کړه زما اود ملګرو د خطر سبب نه شي، نو په دې مو فیصله راغله چې دغه لیک کې چې کوم مقصود دی ، دابه ورته زه په خوله ووایم اوس عذر دی، دا ورته نه شو وړلی بس په همدی مو د ملګرو سره مشوره راغله او خط مو هلته د ګټ لاندی کیخوده او راروان شو .... نو دا د شیخ متعلق د خیر خواهۍ او د حق طرف د دعوت او جهاد سره د مینې ، محبت او شوق څو کلمې وی چې تاسو ته مو ذکر کړې.

بیا د غیرت او بیا د ننگ ورځې دي
ځوانانو پاڅئ چې د جنګ ورځې دي

بیا مو توحید، ایمان خطر سره مخ
بیا د پاڅون، بیا د غورځنګ ورځې دي

جګړه راغلې ده د ښار کوڅو ته
دي مشرکین په وینو رنګ، ورځې دي

بیا د نړۍ کفر اشر کړی دی
د موټر بم د درانه کړنګ ورځې دي

هله را واخله د بابا توره دي
همدا موقع ده ورک کړه زنګ، ورځې دي

حورو ته ورم ډالۍ پرهر سینه مې
په مونږ یې دغه د قلنګ ورځې دي

د سیرت درسونو ته پوځي کتنه !

۷

په مدینه کې د قوت او زور د بنسټونو له پیاوړي کولو وروسته!

د مسجد له جوړولو وروسته نبي صلی الله علیه وسلم د ټولنې د لومړي مشکل د حل لپاره تیزي وکړه، چې هغه کورني جنګونه و، هغه جنګونه چې سلګونه کاله یې دوام درلود، قبائل یې ټوټه ټوټه کړي وو، ګل ګل ځوانان یې خوړلي وو، او دې جنګونو یهودو ته موقع ورکړې وه چې د عرب ټاپو وزمې په دغې مزیدارې ځمکې پښې ټینګې کړي، نبي صلی الله علیه وسلم د دواړو قبیلو له منځه د کینې د ریښو لپاره کوښښ پیل کړ، او د مسلمانانو ترمنځ یې د ورورۍ تړون وکړ.

ابن اسحاق فرمایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپلو ملګرو ترمنځ د انصارو او مهاجرینو ترمنځ د ورورۍ تړون وکړ، د الله لپاره ورورې وکړي، دوه دوه وروڼه شئ.

په دې کار انصار ډیر زیات خوشاله شول، هغه قدم چې دوی پکې د خپل امید پوره کېدل ولېدل، دا هغه سوله وه چې یثرب ترې سلګونه کلونه بې برخې و، مهاجرین هم خوښ شول ځکه چې د ورورۍ نتیجه دا شوه چې د خپلو انصارو وروڼو په غېږ کې ووسیدل او هغوی ورسره د سخت فقر او نورو مشکلاتو د کمولو او ختمولو په برخه کومک او مرسته کوله، هغه چې مهاجرین ورسره د خپل اصلي وطن څخه د هجرت کولو وروسته مخ شوي و، او هلته یې خپل ټول مالونه پریښي و چې قریشو ټول واخیستل.

یوه نا آشنا واقعه چې د ستاینې څخه یې کلمات ناتوانه دي، د سعد بن الربیع او عبدالرحمن بن عوف ورورلي وه، سعد بن الربیع، عبدالرحمن بن عوف ته نیم مال وړاندې کوي او بیا ورته وایي: زه په انصارو کې د ډیر مال خاوند یم، مال دوه برخې کوم، او دوه ښځې مې دي، ویې ګوره هر یوه چې دې خوښه شوه ماته یې نوم واخله، زه یې طلاقوم چې عدت یې تېر شو واده ورسره وکړه.

عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه ورته وویل: الله دې ستا په أهل او مال کې برکت واچوي... بازار مو چیرته دی، د بني قینقاع بازار یې ورته وښود او هغه رضي الله عنه په کې تجارت پیل کړ.

نبي صلی الله علیه وسلم په دې کار سره یو بریالی قدم پورته کړ، تر څو ټولنه په مضبوطو ستنو ودریږي، له دې قدم څخه دعوت په پوځي برخه کې ډیره لویه ګټه واخیسته، د اوس او خزرج قحطاني قبائل به وخت په لویو کورنیو جنګونو کې تیراوه چې په جزیرة العرب کې ټولو ته معلوم و، له دغو جنګونو یهودو ګټه اخیسته تر څو په سیمه خپل واک ټینګ کړي.

خو مدینې ته د نبي صلی الله علیه وسلم له ننوتلو وروسته همدوی اساسي پوځي قوت و چې د اسلام پرې په جزیرة العرب کې د توحېد د خپرېدو په برخه کې اعتماد و.

نور مشکلات هم و چې نبي صلی الله علیه وسلم یې باید هرو مرو حل کړي، دا مشکلات په مدینه کې د غیر مسلمو اوسېدل و، یهود دلته اوسېدل او هغوی درې قبیلې وې:

د بني قینقاع قبیله
د بني النضیر قبیله
د بني قریظه قبیله

او د مدینې منورې په شمال کې د یهودو یو لوی شمېر پروت و چې هغه د خیبر یهود و.

نبي صلی الله علیه وسلم د دې کار سره داسې چلند غوښت چې د مسلمانانو مصلحت پکې وي او په دغه وخت کې اسلامي دولت جوړ شي.

نبي صلی الله علیه وسلم تر دې مهاله د دوی په خلاف کوم دریځ نه و نیولی، نه یې اسلام ته په داخلېدو مجبور کړي و، بلکې د اسلامي دولت او یهودو ترمنځ تړون وشو او د تړون محتوا په لاندې ډول وه:

- په ګډه له مدینې دفاع کول
- په یو بل تجاوز نه کول او ښه ګاونډیتوب
- د عقیدې آزادي

په نبوي هجرت د شپږ میاشتو له تېریدو وروسته مدینه د اسلام حقیقي مرکز وګرځېد، نافذیدونکې خبره او غالب واک په کې د مسلمانانو و، دا هغه څه و چې قریشو ترې ډار درلود او په ټول توان یې هڅه وکړه چې مسلمانان له هجرت کولو څخه منع کړي، مګر وخت تېر و او دوی اوس درک کوله چې مخې ته یې خطر را روان دی.

په نبي صلی الله علیه وسلم شرعي قوانین رانازلېدل

لومړی د وسلې د پورته کولو اجازه وشوه د اسلام د دښمنانو په خلاف، په داسې حال کې چې له هجرت څخه وړاندې د مسلمانانو لپاره د جنګ کولو اجازه نه وه، د جهاد فرضیت په لاندې څلورو مرحلو کې شوی دی:

لومړۍ مرحله:

مسلمانان په مکه کې وو د نبي صلی الله علیه وسلم نه یې وغوښتل چې د جنګ کولو اجازه ورته وکړي، هغه ورته ځواب ورکولو: "صبر وکړئ ماته په جنګ کولو امر نه دی شوی"

دوهمه مرحله:

الله تعالی فرمایي: {أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَٰتَلُونَ بِأَنَّهُمْ ظُلِمُوا وَإِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ نَصْرِهِمْ لَقَدِيرٌ} ژباړه: «هغو کسانو ته (د جګړې) اجازه ورکړه شوه چې پر خلاف يې په جګړه لاس پوري کيږي، ځکه چې هغوی مظلومان دي؛ او الله په يقيني ډول د هغوی د ملاتړ وس لري.» په تفسير د الوسي کې دي چې أبو عمرو، أبوبکر او يعقوب "يقاتلون" د مبني للفاعل په صيغه ولوست، يعنې دوی غواړي چې په راتلونکې کې د مشرکينو سره جګړه وکړي، په دې باندې حرص کوي، (بأنهم ظلموا) نه مراد دا دی يعنې په سبب ددې چې پر دوی ظلم شوی دی.

که فکر وکړې، د اسلامي دولت حال او د اسلامي پوځ وضعيت ته کتو د قتال حکم په تدريجي ډول راغلی، خو کله چې د دولت ستنې پياوړې شوې او زور يې يو څه پيدا کړ دريمې مرحلې ته لاړل.

دريمه مرحله:

په دې مرحله کې د هغه چاسره جنګ واجب و، څوک چې د مسلمانانو سره جنګيږي، الله تعالی فرمایي: {وَقَٰتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ الَّذِينَ يُقَٰتِلُونَكُمْ وَلَا تَعْتَدُوٓا إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ} ژباړه: «او تاسې د الله په لار کې له هغو کسانو سره وجنګيږئ، چې ستاسې سره جنګيږي، خو تيری مه کوئ چې الله تيری کوونکی نه خوښوي.»

له دې وروسته وروستی مرحله راغله چې د ټولو کفارو سره په کې د جنګ اعلان و.

ځلورمه مرحله:

الله تعالی فرمایي: {وَقَٰتِلُوا الْمُشْرِكِينَ كَآفَّةً كَمَا يُقَٰتِلُونَكُمْ كَآفَّةً وَاعْلَمُوٓا أَنَّ اللَّهَ مَعَ الْمُتَّقِينَ} ژباړه: « له مشرکانو سره وجنګيږئ، لکه څنګه چې هغوی ټول يو ځای ستاسې سره جنګيږي. او وپوهيږئ چې الله د پرهيزګارانو ملګری دی.»

بيا د جهاد، قتال، د منافقينو سره د سختۍ باره کې آيتونه راغلل، د جنګ د اجازې سره سم نبي صلی الله عليه وسلم د صحابه وو په روزنه پيل وکړ، د جګړې چلونه يې ورته وښودل او له هغوی سره يې په تمرينونو، جګړو، او نمايشونو کې ګډون وکړ.

په دې موده کې د يهودو په وسه کې و چې د دوی او د نبي صلی الله عليه وسلم ترمنځ د شوي تړون په پايله کې خوشاله ژوند وکړي، په خپلو عقيدو، نفسونو او مالونو ډاډه وو، دا د دوی لپاره غوره وه چې همداسې مخته تللي وای، مګر د دوی په نفسونو کې جرړې ويستونکې طبيعي خويونه دوی دې ته پرېنښودل، بلکې د مشکلاتو په جوړولو او د مسلمانانو ترمنځ د فتنې په خپرولو يې پيل وکړ.

د يهودو کينه او غم هغه وخت لا زيات شو چې دوی په بشپړ ډول پوه شول چې مدينې ته راغلی رسول ريښتونی محمد بن عبدالله القرشی دی، هماغه نبي چې وعده يې شوې وه، هماغه نبي چې په اړه يې د دوی په کتابونو کې ليکل شوي و، خو پرځای ددې چې ايمان راوړي؛ د دوی نفسونه له کينې او نفرت څخه ډک شول، ټول وسائل يې په کار واچول چې د دغه دعوت مخه ونيسي، کله به يې چلونه کول، کله به يې د مکې د قريشو سره کومک کاوه، کله به يې د منافقينو سره کومک کاوه، او کله به يې د مسلمانانو ترمنځ فتنې اچولې.

د دوی د دغه دوو لويو علماوو زړونه د نبي صلی الله عليه وسلم په تاکيد سره له پريشانۍ او غم څخه ډک شول. دا دواړه يو حيي بن أخطب نوميږي د مؤمنانو د مور صفيې رضي الله عنها پلار او د هغه ورور ياسر نوميدل.

ابن اسحاق فرمایي: ماته عبدالله بن أبي بکر بن محمد بن عمرو بن حزم دا خبره وکړه: هغه له صفيې رضي الله عنها څخه روايت کوي فرمایي: زه پلار او کاکا (ياسر) ته ډېره ګرانه وم، هيڅکله له دوی دواړو سره نه يم مخامخ شوې مګر غېږ کې به يې نيولم، کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم مدينې ته راغی او په بني عمرو بن عوف کې د قباء ځای کې استوګن شو، پلار او کاکا مې سهار ووتل او ماښام ته نږدې راغلل.

هغه فرمایي: دوه ستړي، ستومانه و، مات رامات او نور يې مزل نه شو کړای.

هغه فرمایي: نو زه داسې په خوشالۍ ورغلم، لکه هر وخت به چې ورتلم، قسم په الله دواړو کې راته هيچا نظر ونکړ، سره د دې چې د غم نښې پرې ښکاريدې.

له کاکا مې واوريدل زما پلار ته يې ويل: آيا دا هماغه دی؟

پلار مې وويل: هو قسم په الله

کاکا مې وويل: آيا ته يې پېژنې او ثابتوی يې شې؟

پلار مې وويل: هو

کاکا مې وويل: نو په اړه يې څه دريځ لرې؟

پلار مې وويل: چې تر څو ژوندی يم دښمني به ورسره کوم.......!

دا خبره چې د سيرت په کتابونو کې راغلې له هغو مشهورو خبرو څخه ده چې د يهودو سخته دښمني له اسلام سره ترې معلوميږي، حافظ عراقي بيا وايي چې دا جمله منقطع ده د عبدالله بن أبی او صفيې ترمنځ.

جريان لري...

لکه ستوري چې په
شنه آسمان ځلیږي

لکه ستوري چې په شنه آسمان ځلیږي
خلافت به په دې ټول جهان ځلیږي

بیا سپین غر به د زمرو زلمو سنگر شي
تور بیرغ به په کې هغه شان ځلیږي

بیا به شرک او ارتداد له نړۍ ورک شي
بیا به هر لور ته دا سپین قرآن ځلیږي

څوک مرتد شول، څوک بې ننگه په کور ناست دي
خو ډگر کې لا ولاړ غازیان ځلیږي

له کشمیر تر اندلسه یو دولت وي
په اقصا مو تور بیرغ رپان ځلیږي

زندان مات وي، آزادي وي، خوشالي وي
ربه زړو کې مو دا یو ارمان ځلیږي

العزائم
مؤسسة العزائم الإعلامية